خواږهٔ او ښکلی نعتونه

حقیقي جانان ﷺ

محمد رسول الله

مولانا احمدعلی مردانی

Ketabton.com

خورونکے

اسلامی ادبی ټولنه

یونیورستی روډ مردان 0312-9818511

حقیقي جانان ﷺ

تصنیف

ابوالقاسم احمد علی مردانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم اللّٰہ الرحمٰن الرحیم

خواږۀ اوښکلي نعتونه

حقيقي جانان

يعني محمد رسول الله ﷺ

لیکونکے

مولانا احمدعلی مردانی

صدارتی ایوارډ یافته

خپرونکے

اسلامی ادبی ټولنه

یونیورسټی روډ مردان 0312-9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرچاته ئې دَ چهاپ کُولو اجازت دے

دَ کتاب نوم	حقیقي جانان (نعتونه)
صفحات	288
مصنف	مولانا احمدعلي مرداني
نظرثاني	جناب مهراندیش صیب
کتابت	النور کتب خانه [redacted] 0312-9818511 [redacted]
پبلشرز	مکتبه عشره مبشرهؓ لاهور
دَ چهاپ کال	جنوري 2018ء
بیعه	350روپئ
دَ ملاویدلو درک	علي اِنټرپرائزز کلاته سنټر یعقوب خان پلازه کجو خان بازار مردان

دَ میلاویدلو درکونه

★ مکتبه مجدد الف ثانيؒ کامران مارکیټ نیواډه مردان

★ اسلامي کتب خانه کامران مارکیټ نیواډه مردان

★ مکتبة الحسن کامران مارکیټ نیواډه مردان

★ دَ ادبي دوستانو مرکه مردان

★ جامعه احیاء العلوم نسته روډ مردان

★ دارالعلوم اصحابِ صفهؓ رنګ روډ مردان

★ حافظ عبدالناصر خوره باندې یونیورسټي روډ مردان

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★ دَ مردان په هره غټه کتب خانه کښې میلاویدے شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمٰن الرحيم

وړومبی خبرې

الحمد اللّٰه ربَ الغلمين والصلوٰة والسلام علی رسوله محمد واٰله واصحابه اجمعين . امابعد

عبادت کهٔ قولي دے او که فعلي دے دَ خير او دَ اجرِ عظيم نه خالي نهٔ دے دَ نعت تعلقَ دَ عباداتِ قوليه سره دے يعنی دا داسي عبادت دے چې په ژبه سره ادا کيږی او دَ ژبه په ذريعه د دغي عبادت خوند او مزه اغستلی شی ، دَ ژبي په ذريعه دَ مولیٰ دَ رضا سره سره دَ حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ رضا دَ حاصلولو کوشش کيږی . دَ نعت په ذريعه انسان روحانی منازل سر کوی او هغه لويو لويو مرتبه ته رسی . دَ کومو مرتبو چې انسان تصوّر هم نهٔ شی کولے . ځنګ چې دَ حمد په ذريعه قُربِ الٰهی ملاويږی دغه شان دَ نعت په ذريعه قُربِ محمدی ﷺ ملاويږی او يقيناً قُربِ محمدی دَ اللّٰه تعالیٰ په نعمتونو کښي يو لوئي نعمت دے ددغه نعمت دَ حاصلولو دَ پاره په هر زمانه کښي دَ نبی کريم ﷺ امتيانو ، عُشّاقو په جُدا جُدا انداز سره دَ نبی کريم ﷺ مدح وصفت بيان کړے دے . بيا په دوی کښي بعضو دَ شعرونو په ذريعه او بعضو دَ نثر په ذريعه دَ حضرت محمد ﷺ مدحه بيان کړے ده . او دغه سلسله به تر قيامته پوری جاری وی . ماهم د دغي مقصد دَ حاصلولو دَ پاره دَ نعتونو اولني دري مجموعي (اولني

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجموعه: رڼا دَ سحر، دویمه مجموعه: ښُکلا دَ چمن، دریمه مجموعه: دَ زړهٔ سکون) اودا څلورمه مجموعه (حقیقي جانان) لیکلے ده. دَ مولیٰ کریم ﷺ نه دُعا ده چي دا تولي مجموعي په خپل دربار کښي قبولي منظوري کړي او د دي په ذریعه دے ماته او زما مور او پلار، رورڼو خویندو، بچوته دغه شان زما ملګرو او استاذانو ته قربِ محمدي ﷺ نصیب کړي. زهٔ دا خبره الحمد لله ډیر په فخر سره کوم چي ما په دي ټولو کتابونو کښي هریو نعت دَ قران وسنت په تله تللے دے او زهٔ اُمید ساتم چي انشاء الله زما ددغي ټولو کتابونو هریو حرف به دَ قران کریم او دَ سنتِ رسول ﷺ موافقت کوی.

والله الموفق والمعین. وعلی الله فلیتوکل المتوکلون. ربنا تقبل منا انك انت السمیع العلیم وتب علینا انك انت التواب الرحیم. وصلی الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقه محمد واله واصحابه اجمعین.

دَ دُعاګانو طلبګار

ابوالقاسم احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمد یوسف بنوریؒ ټاؤن

کراچي وایم اے عربي عبدالولي خان یونیورستي مردان)

اُستاذ ګورنمنټ پرائمري سکول لیبر کالوني مردان

یونیورستي روډ خوره بانډه مردان 0312-9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمٰن الرحيم

حمد باری تعالیٰ

ډیر عالی دے نوم الله
جلالی دے نوم الله

وایه هر سحر ماښام
وایه وایه تل مدام
کمالی دے نوم الله
ډیر عالی دے نوم الله

ذکر تل دَ هر ولی
ذکر تل دَ هر نبی
جمالی دے نوم الله
ډیر عالی دے نوم الله

زړونو له دے اطمینان
تل سکون دَ ټول جهان
لاثانی دے نوم الله
ډیر عالی دے نوم الله

علیم دے هغه معلوم
نهٔ نکته په دغي نوم
پاك خالی دے نوم الله
ډیر عالی دے نوم الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور زنا دَ هر بشر

اے احمده! په هر در

یَو والی دے نوم الله

ډیر عالی دے نوم الله

حمد باری تعالیٰ

رب دَ هر یو تن ، اَلله

رب دَ هر وطن ، اَلله

رب دَ هر یو ګل غوټي

رب دَ هر چمن ، اَلله

رب دَ هر سحر ماښام

رب دَ ماسخوتن ، اَلله

رب دَ اولیاء ټولو

دَ حضرت حسنؓ ، اَلله

وائی هر قلم داسي

تل عالی سُخن ، اَلله

دا دے دَ احمد بیان

شته په هر مسکن ، اَلله

حمد باری تعالیٰ

یو دے دَ عالَم ، اَلله

تل سکون هر دم ، اَلله

(c) ketabton.com: The Digital Library

هادي د دُنيا هغه
هادي د هرچا هغه
مَل د هر يو غم، اَلله
يو دے دَ عالَم، اَلله

هر څوك ئي صفت كوي
هر ځائے هر ساعت كوي
په عرب عجم، اَلله
يو دے دَ عالَم، اَلله

شافي او كافي هغه
هرچا نه عالي هغه
نُور دَ هر تورتم، الله
يو دے دَ عالَم، اَلله

لاثاني صفات لري
لاشريكه ذات لري
نوم دے ډير اهم، اَلله
يو دے دَ عالَم، اَلله

وائي تل احمد داسي
هر څوك نيك او بد داسي
ياد دے په قلم، اَلله
يو دے دَ عالَم، اَلله

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمد باری تعالیٰ

يـــو دے يـــو زمـــونــــږه رب
نـــهٔ لـــری هـــغـــه نسب
نـــهٔ والـــد دے نـــهٔ مـــولـــود
مـــحتـــاج نـــهٔ دے دَ سبـــب
پـــه يـــو کُـــن پيـــدا کـــوُل کـــړی
پـــه کښـــي نشتـــه څـــهٔ عـــجـــب
دَ هـــر چـــا مشـــکـــل کشـــا دے
دَ عـــجـــم او دَ عـــرب
نشتـــه يـــو څيـــز تـــريـــنـــه پـــټ
نـــهٔ دَ ورځـــي نـــهٔ دَ شـــب
دَ هـــر يـــو صـــفـــت خـــالـــق دے
پـــه دُنيـــا دَ هـــر مـــذهـــب
هـــر نبـــی ئـــي راليـــږلـــے
تـــقسيـــم کـــړے ئـــي ادب
اے احـــمـــده! رب شتـــه رب
مـــلا ويـــږی پـــه طـلـب

حمد باری تعالیٰ

يـــو دے يـــو دَ اللّٰـــه ذات هـــغـــه قـــديـــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـــهٔ مثـــال لـــري دُنیـــا کښـــې نـــهٔ نـظیـــر
دَ هـــرچـــا نـــــه ښــــهٔ خبـــردَ هـــریـــو در دے
یـــو صـــفـــت لـــري صـــفـــاتـــو کښـــې خبیـــر
پـــــه مـعــمـــار ســـره یـــادیـــږي دَ جهـــان
مـــصـــوَر دے بهتـــریـــن دَ هـــر تـــصـــویـــر
خیـــر او شـــر ورســـره لاس کښـــې پـــه جهـــان دي
ټـول لیـکـلـے ئـي زمـونـږه دے تـقـدیـر
هـــریـــو کـــار صـــرف پـــه کُـــن ســـره ئـي کیـــږي
مـــدَبـــــر دے دَ جهـــــان دَ هـــــر تـــدبیـــــر
رنګ پـــه رنګ ئـي مـخـلـوقـات دي پیدا کـړي
پیـــدا کـــړے ئـــي مـــنـــکـــر ســـره نـــکیـــر
هـــر نبـــی ئـــي رالـــبـــږلـــے خـــبـــر دَ پـــاره
کـــهٔ بشیـــــر دے دَ جهـــــان او کـــــهٔ نـذیـــر
اے احـمـد عـلـی ! مـحـتـاج ئـي ټـول مـخـلوق دے
کـــهٔ مـــالـــدار دے دَ جهـــان او کـــهٔ فـقیـــر

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـــورو تیـــارو کښـــې مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ ســـحـــر دے
تـــل پـــــه دُنیـــا کښـــې دَ هـــر چـــا ســـحـــر دے
دَ هـــــدایـــــت د دي جهـــــان رڼـــــاده
زمـــونـــږ نبـــی ﷺ رڼـــا رڼـــا ســـحـــر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ هـــــریـــــو لاري دَ دُنیـــــا رنـــــا ده
دلتـــــه زمــــا ورســـــره ستـــــا ســـحـــر دے
دَ دي جهــــــان دَ هــــریـــــو کـــــور رنـــــا ده
پــــه دي دُنیـــا کښـــي یـــو جُدا ســحـــر دے
دَ گـــمــــــراهـــی تیـــــارهٔ پــــــه دُوی تــــلـــــي ده
داســـے دُنیـــا کښـــي یـــو طــــٰـه ﷺ ســحـــر دے
رنـــــا رنـــــا دَ هـــــرعـــــالـــم ولـــــی ده
داســـے دُنیـــا کښـــي مـجتبـیٰ ﷺ ســحـــر دے
دَ ربَ احســـــان پــــه تـــــا احـــمــــده ! دے نـــن
چـــي ستـــا دَ درخیـــر الـــوریٰ ﷺ ســحـــر دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسـت دَ محـمـد ﷺ پـه گلدستو کښي نه ځائیږی
دُنیـا کښـي ئـي ښـائسـت په باغیچو کښي نهٔ ځائیږي
پــــه خپـلـو او پـــردو بـانـدي بـېـحـده مهـربـان دے
دا مینــه دَ جهــان ئــي پــه سینــو کښـي نـهٔ ځائیږی
رنـــا ئـــي دَرخســـار ده هـــر طـرف تـــه پـــه جهــان
ښـائسـت دَ تـورو زلـفـو ئـي پــه شپـو کښـي نـهٔ ځائیږی
لـــه عـــرش نـــه بـــره تـلـے بـره تلـے دے پـــه بـــره
مـقـام ئـي دَ جهــان زمـونـږ جـملـو کښـي نـهٔ ځـائیـږی
اعـلـیٰ دے ډیـر اعـلـیٰ داسـي احـمـد دَ جهـان وائـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقام ئې دَ جهان زمونږ مازغو کښې نۀ ځائيږي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

په مدينه کښې دَ جنت يوه ټکړه پرته ده
ښکلي ښائسته دَ محمد ﷺ ښکلي روضه پرته ده
دغه ټکړه ښکلي ښائسته ده لاثاني په جهان
دغه ټکړه ښکلي ښائسته ده په دُنيا عاليشان
په مدينه کښې دَ جنت يوه حصه پرته ده
په مدينه کښې دَ جنت يوه ټکړه پرته ده
پاکه روضه دَ محمد ﷺ ده انوارات دي په کښې
پاکه روضه دَ محمد ﷺ ده برکات دي په کښې
داسې ګڼه چې دَ ګلونو ګلدسته پرته ده
په مدينه کښې دَ جنت يوه ټکړه پرته ده
دغه دُنيا کښې دَ دُنيا دَ بيقرارو ځائے دے
دَ پاک رسول ﷺ دَ ښکلو ښکلو دَ آثارو ځائے دے
په هره لاره مدينه کښې يو جذبه پرته ده
په مدينه کښې دَ جنت يوه ټکړه پرته ده
دا دے مرکز دَ رنګ په رنګ دَ نعمتونو دَ ربَ
دا دے مرکز دَ رنګ په رنګ دَ رحمتونو دَ ربَ
ډکه دَ نور دَمدينې هره کوڅه پرته ده
په مدينه کښې دَ جنت يوه ټکړه پرته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته دي مینه محبت دَ دي دُنیا دَ پاره
دلته دي مینه محبت راشه هرچا دَ پاره
دلته دَ مینې محبت یوه نشه پرته ده
په مدینه کښي دَ جنت یوه ټکړه پرته ده
دَ مدینې خلقو لیدلي دي آثار دَ نبي ﷺ
دَ مدینې خلقو لیدلي دي انوار دَ نبي ﷺ
دَ پاك نبي ﷺ په دغه خاورو سجده پرته ده
په مدینه کښي دَ جنت یوه ټکړه پرته ده
احمده ! داسي په دُنیا کښي بل مکان نهٔ وینم
داسي دُنیا کښي یو مکان زهٔ عالیشان نهٔ وینم
دَ رحمتونو دلته کښي یو سلسله پرته ده
په مدینه کښي دَ جنت یوه ټکړه پرته ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په مدینه کښي یاره یاره اوسه
دغه حصه کښي یاره یاره اوسه
دلته مسکن ښکلے مدفن دَ نبي ﷺ
دلته ښائسته ښکلے چمن دَ نبي ﷺ
دلته سجده کښي یاره یاره اوسه
په مدینه کښي یاره یاره اوسه
دا دَ عزت او احترام کوردے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دَ درود او دَ سلام کور دے

په دي مزه کښي ياره اوسه

په مدينه کښي ياره اوسه

دلته ياران دَ محمد عربی ﷺ

شته عاشقان دَ محمد عربی ﷺ

ښۀ تذکره کښي ياره اوسه

په مدينه کښي ياره اوسه

دلته جمال دَ محمد عربی ﷺ

دلته دے آل دَ محمد عربی ﷺ

دي سفينه کښي ياره اوسه

په مدينه کښي ياره اوسه

زۀ احمد دي سره خوشحاله يمه

زۀ ئي خبر دَ هر کماله يمه

په دي نشه کښي ياره اوسه

په مدينه کښي ياره اوسه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

محمد خير البشر ﷺ دے زما خوښ

دَ نبيانو دا افسر دے زما خوښ

ياران ډير لرى دُنيا کښي په جهان

خو ډير زيات صديق اکبرؓ دے زما خوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَعدل په باب کښي ډیر مخلوق تیر شوے
تل دد غي باب عمرؓ دے زما خوښ
دَعثمانؓ دَسخاوت مثال نه وینم
دا عظیم صفت بشر دے زما خوښ
دَعليؓ دَشجاعت مثال به نه وي
دا حضرت علي حیدرؓ دے زما خوښ
امامانو کښي هریو امام ښائسته دے
خو نعمانؓ په هریو در دے زما خوښ
اے احمدعلي ! خبرونه ښائسته ډیر دي
خو خبر دَپیغمبر ﷺ دے زما خوښ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته ښکلي دَنبیانو سلسله ده
دا ښائسته دَپاك رسول ﷺ په تذکره ده
هر سنت دَمحمد ﷺ سکون راحت دے
شیطانانو باندي دغه زلزله ده
طریقه دَمحمد ﷺ رڼا رڼا ده
مثالي دا په دُنیا کښي طریقه ده
هریو قول دَمحمد ﷺ ښائسته دے ښکلے
دَاخر دَژوند دَپاره دا توښه ده
په افعالو دَنبي ﷺ جهان ښائسته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښــائسته دوی ســره دُنيــاکښــې بــاغيچــه ده
هــريــو فــعــل ئې پــه شــان لــکــه دَګــل دے
جــوړه شــوې تــريــنــه ښــکــلــې ګــلــدستــه ده
اے احــمــدعــلــی ! هــريــو صــفــت شتــه دلتــه
مــا ليــکــلــے دَصــفــاتــو مــجــمــوعــه ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مــحــمــدﷺزمــا حبيــب
مــعــلــم دے هــم طبيــب
دَ هــرچــا دَزړهٔ ســرور
عــام انســان دے کــهٔ خــطيــب
ديتيــم مــجبــور مــلــګــرے
مهــربــانــه پــه غــريــب
د دُنيــا دَ درســحــر
ژونــد ئــې ښــکــلــے پــه تــرتيــب
پــاك لــه عيبــه پــه جهــان
ربَ تــه ډيــر زيــات دے قــريــب
پــه وجــود خــوشبــو خــوشبــو
چــا تــه چــې شــی دا نــصيــب
احــمــد وائــی تــه ول ادب
داســے ليــکــی هــراديــب

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په خوب کښې مې چې سید الابرار ﷺ ولیدهٔ
قسم دے دَ نبیانو مې سردار ﷺ ولیدهٔ

حیران شومه قدرت ته زهٔ دَ خپل پروردیګار
حیران شومه قدرت ته زهٔ دَ پاك غنی غفار
مقام دَ محمد ﷺ مې چې یو وار ولیدهٔ
په خوب کښې مې چې سید الابرار ﷺ ولیدهٔ

مقام لری اوچت له هر اسمانه دَ جهان
مقام لری اوچت ددي جهان له هر انسان
کامل په هر صفت مې په هر لار ولیدهٔ
په خوب کښې مې چې سید الابرار ﷺ ولیدهٔ

اطراف ددي جهان ورسره تول رڼا رڼا دی
اطراف دَ پاس اسمان ورسره تول رڼا رڼا دی
محبوب چې مې دَ خپل پروردیګار ولیدهٔ
په خوب کښې مې چې سید الابرار ﷺ ولیدهٔ

صفات ئې دی بیشمیره احمد وائی دَ مردان
اغیار ئې هم مقام او مرتبې ته دی حیران
عالی په هر مقام ما په ګفتار ولیده
په خوب کښې مې چې سید الابرار ﷺ ولیدهٔ

★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته ښکلی یادونه مدینه کښې دی پراته
انوار دَ محمد ﷺ ښکلی روضه کښې دی پراته
خوشبو ده هر طرف ته مدینې کښې دَ سنت
رحمت او برکتونه هر کوڅه کښې دی پراته
ښُکلا دَ محمد ﷺ په هر چمن کښې ملاویږی
آثار دَ ددې خبرې ګلدسته کښې دی پراته
انوار دَ شریعت که درته ښکاری په جهان
انوار دا دَ نبی ﷺ په هر ذرَه کښې دی پراته
طالب که په جهان ئې دَ لعلونو راشه راشه
لعلونه دَ نبی ﷺ هره جمله کښې دی پراته
احمد علی ! دَ سیوری که طالب ئې په محشر
دا سیوری دَ رسول ﷺ په محله کښې دی پراته

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مزار دَ محمد ﷺ چې چا یو وار ولیدهٔ
ښائسته ئې په دُنیا کښې یو ګلزار ولیدهٔ
لیدلے چا چې در دَ محمد ﷺ دے په جهان
لیدلے چا چې در دَ محمد ﷺ دے عالیشان
ګویا به وی چې ښکلی ئې دربار ولیدهٔ
مزار دَ محمد ﷺ چې چا یو وار ولیدهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلی چا چې دلته وي انوار دَ محمد ﷺ
لیدلې چا چې دلته وي آثار دَ محمد ﷺ
ګویا به وي چې نُورئې دَ هر لار ولیدهٔ
مزار دَ محمد ﷺ چې چا یو وار ولیدهٔ

ګواه به وي په دې چې دے حسین او بهترین ﷺ
ګواه به وي په دې چې دے تاجدار دَ مُرسلین ﷺ
چا کور چې دَ حضرت خیر الابرار ﷺ ولیدهٔ
مزار دَ محمد ﷺ چې چا یو وار ولیدهٔ

ګواه به وي احمده! دَ نبی ﷺ په هر صفت
خبر به وي دُنیا کښې دَ نبی ﷺ له فضیلت
دَ لوئی مقام چې چا دلته مینار ولیدهٔ
مزار دَ محمد ﷺ چې چا یو وار ولیدهٔ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ملګرو په ما ګرانه ده بنهٔ ګرانه جدائی
ده ګرانه دَ نبی آخر زمانه ﷺ جدائی
فراق دَ محمد ﷺ لکه دَ غر غوندې په ما دے
فراق دَ محمد ﷺ یو بوج په سر غوندې په ما دے
ده ګرانه دَ نبیانو دَ سلطانه ﷺ جدائی
ده ګرانه دَ نبی آخر زمانه ﷺ جدائی
ده ګرانه په ما ګرانه جدائی دَ محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولیٰ پکښې زما وکړې دُنیا کښې تهٔ مدد
دهٔ ګرانه دَ محبوب دَ پاك سبحانه جدائی
ده ګرانه دَ نبی اٰخرزمانه ﷺ جدائی
ده ګرانه دَ کونینو دَ سردار نه جدائی
ده ګرانه دَ حضرت خیر الابرار ﷺ نه جدائی
ده ګرانه په دُنیا دَ قدرانه جدائی
ده ګرانه دَ نبی اٰخرزمانه ﷺ جدائی
ده ګرانه دَ مسکن دَ محمد ﷺ نه جدائی
ده ګرانه دَ وطن دَ محمد ﷺ نه جدائی
ده ګرانه دَرسول ﷺ دَ کور مکانه جدائی
ده ګرانه دَ نبی اٰخرزمانه ﷺ جدائی
ده ګرانه اے احمده ! جدائی دا په جهان
ده ګرانه جدائی ده په مؤمن او مسلمان
ده ګرانه په دُنیا دَ عالیشانه ﷺ جدائی
ده ګرانه دَ نبی اٰخرزمانه ﷺ جدائی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے مسافره ! تهٔ چې سید الابرار ﷺ له ځې
سلام مې یوسه دَ نبیانو چې سردار ﷺ له ځې
سلام مې یوسه چې چمن ته دَ نبی ﷺ کله ځې
سلام مې یو سه چې وطن ته دَ نبی ﷺ کله ځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلام مې يو سـه چې محبوب دَربّ غفار له ځـې

اے مسـافـره! تـهٔ چې سيـد الابـرار ﷺ لـه ځـې

يـوسـه سـلام مـې يو تـحفـه دَ مـحبت ځـان سـره

يوسه سلام مې يو تـحفه دَ لوئي عظمت ځان سره

يوسـه تحفـه چې تـهٔ دَ دوجهان غمخوار ﷺ ځـې

اے مسـافـره! تـهٔ چې سيـد الابـرار ﷺ لـه ځـې

سـلام دَ مينـې مـحبـت درنـه چې هيـر نشـي

کـلام دَ مينـې مـحبـت درنـه چې هيـر نشـي

يـوسـه سـلام چې تـهٔ دَ زړهٔ سـکون قـرار لـه ځـې

اے مسـافـره! تـهٔ چې سيـد الابـرار ﷺ لـه ځـې

يـوسـه سـلام دا دَ احـمـد عـلـى دَ ځـان سـره تـهٔ

پـه دے سلام سره شـائسـتـهٔ بـه شے ايمان سره تـهٔ

يـوسـه سـلام چې تـهٔ دَ هـر بشـر دلدار لـه ځـې

اے مسـافـره! تـهٔ چې سيـد الابـرار ﷺ لـه ځـې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے نبـی ﷺ! ډيـر ښـکـلـے ئـې

هـرچـا چـې ليـدلـے ئـې

ښـکـلـے هـر يـو ګـل نـه تـهٔ

هـرچـا تـهٔ منـلـے ئـې

ربّ لـه لامـکـان تـه تـهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاس له عرشه تللے ئي
نُور رڼا جهان له ره
ربَ ته ئۀ راليږلے ئي
ټول وجود رحمت ئي ته ئۀ
داسے ته ئۀ راغلے ئي
هر صفت دے ستا غلام
ما احمد ليکلے ئي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زمونږ دَ پاك رسول ﷺ حرم ښکلے دے
دغه حرم په هر قدم ښکلے دے
په کښې ژوندون دَ هريو ګل ښکلے دے
په کښې دَ پاك نبي ﷺ محفل ښکلے دے
دا په دُنيا کښې خورم قسم ښکلے دے
دغه حرم په هر قدم ښکلے دے
د دے حرم راشه جواب نشته دے
په کښې دَ حُسن څۀ حساب نشته دے
دا په عرب او په عجم ښکلے دے
دغه حرم په هر قدم ښکلے دے
دغه حرم لری حُرمت په جهان
دغه حرم لری عزت په جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا په دُنيا كښې ښهٔ محكم ښكلے دے
دغه حرم په هر قدم ښكلے دے
دا په اصحابوؓ دَ نبى ﷺ ښكلے دے
دا په احبابوؓ دَ نبى ﷺ ښكلے دے
ذكر ئې دلته په قلم ښكلے دے
دغه حرم په هر قدم ښكلے دے
دلته ټكړه دَ جنت ايښې ربّ ده
يوه حصه دَ جنت ايښې ربّ ده
په دغه وجه په عالم ښكلے دے
دغه حرم په هر قدم ښكلے دے
دلته آثار دي د اصحابؓ دَ نبى ﷺ
دلته آثار دي لاجواب دَ نبى ﷺ
د دغې در هر يو آدم ښكلے دے
دغه حرم په هر قدم ښكلے دے
دلته كښې نُور دَ حق وېنا پرته ده
دلته وېنا ټوله ريښتيا پرته ده
په دغه وجه دغه چم ښكلے دے
دغه حرم په هر قدم ښكلے دے
ما احمد كړے تذكره ئې دلته
ما ذكر كړے يو جمله ئې دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغــــه ذکـــر بـــهٔ مـحـتـرم بـنـکـلـے دے
دغـــه حـرم پـــه هـــر قـدم ښـکـلـے دے

وعظ ونصيحت

وُلــے سـنـت نـه پـه دُنـيـا کـښـې تـا نـفـرت کـړے دے
کـار دے دُنـيا کـښـې په هر ځائے چې دَ بدعت کړے دے
وُلــے دَ مـيـنـې مـحـبـت نـه تـهٔ نـا اشـنـا ئـې دلـتـه
چـې تـا انـکـار پـه هر مـقـام دَ مـحـبت کـړے دے
وُلــے د ديـن سـره سـتـا مـيـنـه محبت نشتـه دے
ځـکـه لـه دې نـه تـا هـر ځائے کـښـې بغاوت کـړے دے
وُلــے نـيـکـی سـره سـتـا مـيـنـه پـه جـهـان کـښـې نـشـتـه
چې تـا هـر کـار کـښـې دَ ابـلـيـس تـل اطاعت کړے دے
پــه تــا دُنـيـا کـښـې هـر بـدی د دې جـهـان بـهٔ لـګـی
ځــکــه انـکــار تــا دَ مـولـیٰ دَ شـريـعـت کـړے دے
تــه دَ رحـمـت نـه خـبـر نـهٔ ئـې پـه لـعـنـت پـسـې ځـے
کـار پـه دُنـيـا ځـکـه هر ځـائے تـا دَ لـعـنـت کـړے دے
دَ هـدايـت نــه لـرے لـرے پـه جـهـان تـهٔ ګـرځـے
تـا تـه احـمـد پـه دغـه وجـه نـصـيـحـت کـړے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زهٔ چــې مســکــن دَ تــاجـدار ﷺ ويــنــم
دا مـــې ارمـــان دے چـــې بـــار بـــار ويــنــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مــي ارمــان دے چــي بــه كـلــه ځـمــه
دا مــي بيــان دے چــي بــه كـلــه ځـمــه
دَ مــديــنــي چــي پــاك دربــار وويــنــم
دا مــي ارمــان دے چــي بــار بــار وويــنــم
دامـــي ارمـــان دے دااُميـــد لـــرمـــه
ژونــدون مــي ګــران دے دا اميــد لــرمــه
دَ مــديــنــي چــي ښــائستــهٔ لار وويــنــم
دا مــي ارمــان دے چــي بــار بــار وويــنــم
دغـــه زهٔ طـــمـــع پـــه دے زړهٔ کښـــي لـــرم
ميـــنـــه زهٔ جـــمـــع پـــه دے زړهٔ کښـــي لـــرم
دَ مــديــنــي چــي زهٔ آثــار وويــنــم
دا مــي ارمــان دے چــي بــار بــار وويــنــم
دغـــه اُميـــد لـــري احـــمـــد عـــلـــى نـــن
اُميـــد لـــري دَ مـــديـــنـــي دَ چـــمـــن
دَ مــديــنــي چــي زهٔ ګــلــزار وويــنــم
دا مــي ارمــان دے چــي بــار بــار وويــنــم

زما عقيده

زهٔ تــول مُــرســلان او انبيـــاء مـــنـــم
زهٔ پـــه دوى کښـــي غـــوره مـــصـــطـــفیٰ ﷺ مـنـم
زهٔ تـــول صـــحـــابـــهٔ دَ مـــحـــمـــد ﷺ مـــنـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ صـــديـــق اکبـــرؓ ئـــي مـــقتـــدا مـــنـــم
زهٔ ذَا امـــــامــــانــو هـــم قـــائــل يـــمـــه
زهٔ نـــعـــمـــانؒ لــــه دلتـــه کښـــي پيشــوا منــم
زهٔ د دي جهــــان نيـــکـــان وليــــان مــنـــم
بـــعــضـــي پـــکښـــي بـــعـــضـــو نــــه اعـــلىٰ منـــم
زهٔ دَ مُـــرســـلانـــو ســـلســـلـــــه مـــنـــم
زهٔ پــــه مــحـــمـــد ﷺ ئــــي انتهــــا مـــنـــم
زهٔ هـــــريـــوه وحـــى صــحــيـــفــــه مـــنـــم
هــــريـــوه ددیـــن دُنیــــا رهـــــا مـــنـــم
زهٔ مـــنـــم کتـــاب هـــريـــو نـــازل دَ رب
زهٔ قـــــرآن دَ ټـــولـــو نـــــه بـــالا مـــنـــم
مـــا ايـــمـــان راوړے پــــه قـــرآن بـــانــدي
زهٔ احـــمـــد دَ حـــق دغـــــه ويـــنـــا مـــنـــم

وعظ ونصيحت

ښـــائســـت لـــرى دُنيـــا کښـــي هـــريــو ګــل جُدا جُدا
خـــوشبــو لـــرى دُنيـــا کښـــي هـــر مـــحـــفـــل جُدا جُدا
خـــوشبـــو لـــرى دُنيـــا کښـــي انبيـــاء ټــول دَ جهـــان
هـــريـــو لـــرى مـــقـــام دلتـــه کښـــي خپـــل جُدا جُدا
اصـحـابؓ دَ مـحـمـد ﷺ لـــرى خـــوشبـــو پـــه هـــر طرف
مـــقـــام دے دَ دوى ټـــولـــو دَ يـــو بـــل جُدا جُدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وليـــان دي تـول ګـلـونـــه دَ جهــان ددغــي در
خـوشبـولـري دوی تـول دلتــه کښي تـل جُدا جُدا
اعـمــال دَ زمــانـي دی دَ هـرچـا ښـهٔ رنګ پـه رنګ
انــداز دے دَ هــرچـــا دَ نیك عــمــل جُـدا جُـدا
دُنيــا کښــي مــرتبــي دی دَ اخـلاص اودَ عـمـل
اٌخــر کښــي دَ دي تـولــو دے بـدل جُـدا جُـدا
عـمل دَ انسـان مَـل دے دَ مـحشـر پـه لـوئـي میدان
هــرچــاســره دے دلتـــه کښي دا مَـل جُـدا جُـدا
بـدعـت دے نـقـل نـقـل هـر سـنـت دے اصـل اصـل
قيـــمـــت دے دَ نـــقـــل او دَ اصــل جُــدا جُــدا
بـدلـــه دَهـر سـنـت ده پــه مـحشـر کښي دَعـزت
هــر چــا لـــه مــقــرر دے يــو مـنـزل جُـدا جُـدا
بــدعـــت ســره تــړلـے رُســوائـــی ده پـــه هـــردر
قـسـمـونـــه سـزاګـــانـي شـتـــه دَغـل جُدا جُدا
احـمـدعـلـــی !لیـکـلـــی تـاشعـار دی پـه قـلم
انــداز دے ستـــا دَ نـــظــم او غـــزل جُـدا جُــدا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خــوش نــصـیـبــی ده پــــه دُنیـــا زمـــونــــږه
چــي رهــنــمــا دے مـصـطـفـیٰ ﷺ زمـونـــږه
هــــريـــو ادا دَ مـــحـــمـــد عــــربـــــی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم دے دغه ده ریا زمونږه
هر یو ګفتار دَ محمد عربی ﷺ
نور دے بس نور دا دَ هر خوا زمونږه
اخلاق سیرت دَ محمد عربی ﷺ
قسم دے دغه ده بُشکلا زمونږه
پیغام دَ مینې محبت دَ نبی ﷺ
دغه تسکین دے دَ هر چا زمونږه
تعلیم دَ صدق او دَ وفا دَ نبی ﷺ
دغه دَ زړونو ده شفا زمونږه
احمده! هر څهٔ دَ نبی ﷺ دَ در
دغه عطا ده دَ مولٰی زمونږه

نعتِ مصطفٰی ﷺ

په مدینه کښې رحمتونه ډیر دي
په کښې هر ځائے کښې برکتونه ډیر دي
دا دے مسکن دَ مصطفٰی ﷺ دَ ال
دلته دَ رحم بارانونه ډیر دي
دلته یاران دَ پاك نبی ﷺ وُسیږی
دلته دَ پاك نبی ﷺ یادونه ډیر دي
دلته حجرې شته دَ ازواج دَ نبی ﷺ
دلته عالی صفت ګلونه ډیر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د دربار دَ پاك رسول الله ﷺ دے
حُسن ښُکلا پکښي رنګونه ډیر دي
احمده! هریو څیز عالی صفت دے
عالی صفت ئي محلونه ډیر دي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تل به تعریف دَ محمد ﷺ په جار جار کوومه
په دي اعلان سره دَ میني به اظهار کوومه
دغه تعریف دے عبادت دَ دي جهان په ژبه
دغه تعریف دے عبادت دَ مسلمان په ژبه
دا عبادت به زهٔ په خوند سره بار بار کوومه
تل به تعریف دَ محمد ﷺ په جار جار کوومه
دغه تعریف دَ هر جنت دے په دُنیا کښي سبب
دغه تعریف دَ هر نعمت دے په دُنیا کښي سبب
زهٔ دَ صفاتو دَ نبی ﷺ به تل اقرار کوومه
تل به تعریف دَ محمد ﷺ په جار جار کوومه
دغه تعریف په انسانانو دَ رحمت سبب دے
دغه تعریف په مؤمنانو دَ رحمت سبب دے
دغه تعریف به دَ جهان په هریو لار کوومه
تل به تعریف دَ محمد ﷺ په جار جار کوومه
دا ده غذا دَ هر مؤمن او مسلمان دَ پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ده غـــذا احـــمـــده ! هـــرچـــا لـــه مـــردان دَ پـــاره
تـل بـه تعـريف دَ مـصـطـفـىٰ خيـر الابرارﷺ كوومـه
تـل بـه تعـريف دَ مـحـمـدﷺ پـه جـار جار كوومـه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

وطـــن دے بـشـــكـــلـــے دا وطـــن اوچـــت
ددغـــــي دردے هـــــر سُـــخـــــن اوچـــــت
دغـــــه چيـــنـــــــه دَ انـــواراتـــو دَ ديـــن
دا دے دَ پـــــاك نبـــى ﷺ مســـكـــن اوچـــت
ميـــنــــــه پــرتـــــه ئـــي ده ذرَه ذرَه كنبـــي
د دغـــــي دردے هـــــريــــو تـــن اوچـــــت
خـــوشبـــو پــرتـــه ده هـــرطـــرف تـــه پـــه كنبـــي
دا دے مـــقـــــام دي چـــــمــــن اوچــــــت
حيـــاء وفـــــا لـــــري هـــريـــو حـــصـــــه كنبـــي
كـــوردے عـــــالـــي دغـــــه مـــدفـــن اوچـــت
ځـــنګ چـــي چـــمـــن دے دَ رســـول عـــربـــى ﷺ
داســـي بــــــه نـــــهٔ وي يـــو ګـــلـشـــن اوچـــت
پــــه كنبـــي بـــل نشتـــه يـــو نسبـــت پــــه جهـــان
بــــــس دَ رســـول ﷺ دے پـــــه بـــدن اوچـــت
نسبـــــت عـــــالـــي دَ مـــحـــمـــد ﷺ لــــري تـــل
احـــمــــد ئـــي هـــم شـــو پـــــه لـــمـــن اوچـــت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وعظ ونصیحت

بـچ کیـــږي پـــه سـنـت سـره هـریو بشـر لــه اُوره
بـچ کیــــږي شـریـعـت سـره هـریو بشـر لــه اُوره
بچ کیــږي لـه شیطان نـه په دُنیا کښې هر ساعت
بـچ کیــږي نُـور رحـمـت سـره هـریو بشر لـه اُوره
بـچ کیــږي پــه دُنیـا کښې د دُنیا لــه هر ظلمتـه
بــچ کیـــږي تــلاوت ســره هـــریــو بشــر لـــه اُوره
بـچ کیـــږي پــه دُنیــا کښــې د دُنیـا دَ ضـلالتــه
بــچ کیـــږي هـدایـت سـره هـریـو بشـر لــه اُوره
بـچ کیـږي مـعـصـیـت نـه پـه دُنیا کښې هر بشر
بــچ کیـــږي عبــادت ســره هــریــو بشـر لـــه اُوره
بــچ کیـــږي شــرارت نـــه دَ دُنیـــا دَ هـــریـــو در
بــچ کیـــږي صـــداقــت ســره یــو بشــر لـــه اُوره
بـچ کیـــږي شیـطـانـت نـه دَ شیـطـان پـه دې جهـان
بـچ کیــږي ښـهٔ صـفـت سـره هـریو بشر لـه اُوره
بــچ کیـــږي بــد اخــلاقــو نـــه احـمـده ! دَ جهــان
بـچ کیــږي ښـــهٔ عـادت سـره هـریو بشـر لـه اُوره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رنــــا دُنیــــا کښــــې دا دَ چــــا خــــوره ده ؟
رنــــــا دَ سیَـــــدالـــــورئ ﷺ خـــــوره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

عـــرب عـــجـــم پــــــه دي رڼـــا رڼـــا دے
دغـــــــه تـــورتـــم پـــــه دي رڼـــا رڼـــا دے
رڼـــــا دا ښُـــكـــلـــي پـــــه دُنيـــــا خـــوره ده
رڼـــــــا دَ سيَـــــــدالـــــــورىٰ ﷺ خـــــوره ده
رڼـــــا تـــمـــــــامــــــه دا دُنيـــــا پـــــه دُوى ده
رڼـــــا دا هـــرځـــــائــے دا هـــرخـــوا پـــــه دُوى ده
رڼـــــا دَ دُوى نـــــــــه دَ صبـــــــــا خـــوره ده
رڼـــــــا دَ سيَـــــــدالـــــــورىٰ ﷺ خـــــوره ده
رڼـــا دُنيـــا كښـــي پـــاس قـــمـــر دے پـــه دُوى
رڼـــا دُنيـــا كښـــي بـــره نـــمـــر دے پـــه دُوى
دغـــــه رڼـــا راشـــــه بيـــا بيـــا خـــوره ده
رڼـــــــا دَ سيَـــــــدالـــــــورىٰ ﷺ خـــــوره ده
رڼـــا پـــــه دُوى ســـره دى ستـــورى ښـــكـــلـــي
مـــونـــږ تــــه تيـــروكښـــي بـــره ګـــورى ښـــكـــلـــي
رڼـــــا الحـــمـــــده ! ښــــــهٔ صـــفـــــا خـــوره ده
رڼـــــــا دَ سيَـــــــدالـــــــورىٰ ﷺ خـــــوره ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

كـــاش چـــي مـــديـــنــــه زمـــــا مســـكـــن وے
كـــاش چـــي مـــديـــنـــه كښـــي مـــي مـــدفـــن وے
در دَ مـــــديــــنـــــي زمـــــا نـــصيـــــب وے

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــاش چــي مــي نـصيــب دغـــه چـمـن وے
دغـــــــه درســــــره زړه نــــورانــــــی وے
نـــورســـــره رڼـــا مـــــي ټــول بـــدن وے
دغــــه خــوشبــوئـــی زمـــانـصيـــب وے
شـــکـــلـــي دغـــه دربـــانــدي مـــي تـــن وے
دغـــه ځـــائـــے نـصيــب مـي هـرسـکـون وے
دغـــه ځـــائـــے نـصيــب مــي زنـــکـدن وے
کـــاش چـــي دَاحـــمـــد ارمـــان تـــمـــام وے
دغـــــــه پـــوره شـــوے دلتـــــــه نـــن وے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پــه خيـال کښـي هره ورځ دَ مـديـني پـه طرف ځـم
دَ پــاك رسـول الـلّـه ﷺ دَ درکوځي پـه طرف ځـم
وُديـرېـمـه روضـي تـه زړه پـه خيـال کښي دَ نبی ﷺ
وُدريـــرېـمـــه روضـــي تـــه دَ تــاجـدار دَ مـدنــی ﷺ
پـه خيـال او تـصـوَر کښي دَروضي پـه طرف ځـم
پــه خيـال کښـي هره ورځ دَ مـديـني پـه طرف ځـم
وُدريـــرېـمـــه روضـــي تـــه پــه ادب او احتـــرام
وُدريـــرېـمـــه روضـــي تـــه دَ نبـی خيـر الانــام ﷺ
دَ پــاك رسـول الـلّـه ﷺ دَ بـاغيـچي پـه طرف ځـم
پــه خيـال کښـي هره ورځ دَ مـديـني پـه طرف ځـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خیال او تصوّر کښي ورته وایمه سلام
په خیال او تصوّر کښي زهٔ کومه دا کلام
دیدن له دَ محبوب زهٔ دَ مکي په طرف ځم
په خیال کښي هره ورځ دَ مدیني په طرف ځم

په خیال او تصوّر کښي درود وایمه تمام
دا وایمه سحر زهٔ او دا وایمه ماښام
دیدن له دَ نبي ﷺ زهٔ دَ جنګلي په طرف ځم
په خیال کښي هره ورځ دَ مدیني په طرف ځم

په خیال او تصوّر کښي په ادب او احترام
احمدعلي لیکلے مختصر دغه کلام
دیدن له دَ روضي دَ دروازي په طرف ځم
په خیال کښي هره ورځ دَ مدیني په طرف ځم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په خیال او تصوّر کښي دَ حرم په طرف ځم
دیدن له زهٔ دَ پاك نبي اکرم ﷺ په طرف ځم
دیدن له دَ نبیانو دَ سردار زهٔ روانیږم
دیدن له په دُنیا کښي دَ غمخوار زهٔ روانیږم
دَ پاك نبي ﷺ دَ لاري دَ قدم په طرف ځم
په خیال او تصوّر کښي دَ حرم په طرف ځم
دیدن له روانیږمه صدیقؓ له دَ نبي ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیـدن لــه روانیــږمــه رفیـق لــه دَ نبــی ﷺ
د غــار دَیــار دُنیــا کښــې دغــه دَ م پــه طـرف ځـم
پــه خیــال او تــصوَر کښـې دَ حـرم پــه طـرف ځـم

دیـدن لــه دَ عــمــرؓ ابـن خـطــاب زهٔ روانیـــږم
دیـدن لــه مـدینــه تــه دي بــاب زهٔ روانیـــږم
دُنیــا کښــې دَ دُنیــا دَ مـکـرَم پــه طـرف ځـم
پــه خیــال او تــصوَر کښـې دَ حـرم پــه طـرف ځـم

دیـدن لــه زهٔ عثـمــان ابـن عـفـانؓ لــه روانیــږم
دیـدن لــه زهٔ افســر دَ دوجهــان لــه روانیـــږم
عــزت لــه پــه دُنیا کښـې دَ کـرم پــه طـرف ځـم
پــه خیــال او تــصوَر کښـې دَ حـرم پــه طـرف ځـم

دربــار لــه دَ عــلــی ابـن طــالـبؓ زهٔ روانیـــږم
احــمــد عــلــی ددغــي در کــاتــب زهٔ روانیـــږم
رښــا لــه دَ نبــی ﷺ ابــن آدمؑ پـــه طــرف ځـم
پــه خیــال او تــصوَر کښـې دَ حـرم پــه طـرف ځـم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مــاتــه پــه دُنیــا کښـې دَ بـدعـت خبـري مـهٔ کوه
مــاســره دَ شــر دَ شیــطــانــت خبـري مــهٔ کــوه
مــاســره خبــري دَ ســنــت دَ مـحـمـد ﷺ کـوه
مــاســره هیـڅ کـلــه دَ نـفــرت خبــري مــهٔ کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مــاســـره خبـــرے دَاسـلام دَتـعـلـيـمـاتـو کـــړه
مــاســـره يـو ځــائـے دَضـلالـت خبـري مــهٔ کوه
مــاســـره دَميـنـــي مــحبــت کــوه خبـــرے تــل
مــاســـره دَشــر دَعــداوت خبـــري مـــهٔ کـــوه
مــاســـره خبـــري دَاخــلاقــو دَنبـــي ﷺ کـــوه
مــاســـره دَنــفـــس دَشـــرارت خبـــري مـــهٔ کـــوه
مــاســـره دَنـــور او دَرڼـــا کـــوه خبـــرے تـــهٔ
مــاســـره دُنيـــا کښــي دَظـلـمـت خبـــري مــهٔ کوه
مــاســـره احــمــد وائـــي خبـــرے دَوفـــا کـــوه
مــاســـره دَبـــل يـــو شـــريـعـت خبـــري مـــهٔ کـــوه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هيـــڅ کــلــه دُنيـــا کښي دَبـدعـت کـارونـه مـهٔ کوه
هيـــڅ کــلــه يـــو ځـــائـے دَشــرارت کــارونــه مــهٔ کوه
کـــار کـــوه هـغــه چــي دَنبـي ﷺ وي طـريـقـه پـه کښي
يـــو ځــائــے پـــه دُنيـــا دَشـــرارت کــارونــه مــهٔ کوه
کـار کـوه هـغـه چـي وي رضـا پـه کښي دَپاک نبي ﷺ
يـــو ځـــائـے پـــه دُنيـــا دَبـــغـاوت کـارونــه مــهٔ کوه
ربَ چــي شـــي رضـــا هـــغـــه کــارونــه پــه دُنيـــا کـــوه
هيـڅ کـلـه يـو ځـائـے دَشيـطـانـت کـارونـه مـهٔ کوه
کـــار کـــوه هـــغـــه چـــي وي پـــه تـلـــه دَقـرآن پـوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيڅ كله يو ځائے كښې دَ لعنت كارونه مهٔ كوه
كاركوه هغه چې دَ حديثو په رڼا كښې وي
كار دَ بيدارۍ كړه دَ غفلت كارونه مهٔ كوه
كار كوه دُنيا كښې دَ اصحابوؓ طريقې سره
كار كړه دَ عزت دَ ذلالت كارونه مهٔ كوه
كاركوه صحيح دغه وينا ده دَ احمدعلي
يو ځائے په دُنيا دَ ضلالت كارونه مهٔ كوه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

عظمت باندې نبي ﷺ ستا اٰياتونه دي ګواه
دُنيا كښې دَ قراٰن ټول تفسيرونه دي ګواه
هريو نبي ددې خبرې كړے دے اقرار
ټول ستا دَ فضيلت غټ كتابونه دي ګواه
د دين دَ پاره ستا دَ قرباني او دَ عظمت
مكه كښې په طائف كښې ونې غرونه دي ګواه
په قُرب دې دَ اللّٰه سره شاهد دے پاس قلم
په شپه كښې دَ معراج ټول اٰسمانونه دي ګواه
په صبر ستا په شكر ده ذرَه ذرَه ګواه
هجرت كښې ټول په لاره منزلونه دي ګواه
شاهد دے ستا په حُسن دَ قمر سره هم نمر
په دې باندې دُنيا كښې ټول ګلونه دي ګواه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبــرې دي لــعــلــونـــه دي دُنيــا كښــي دَ دې در
دُنيــا كښــي پـــه دُنيــا دغــه لـعـلـونــه دي ګواه
هــرقــول كښــې يـم صــادقــه دَ دُنيــا پــه دغــې در
احــمــدعــلــى پــه دغــې حــديثــونــه دي ګــواه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـكـلـے ده مكـه ښـكـلـي، دلـتــه ده كعبـه ښكلي
ده ښـــۀ مـدينـه ښـكـلي ، دلتــه ده روضــه ښـكـلي
يــو ځـــائـــے مـلـتـــزم دَ ربَ ، ورســـره زم زم دَ ربَ
بل ځائے كښې نبي ﷺ دَ ربَ، ښكلے هاشمي ﷺ دَ ربَ
دلتـــه هــر ذرَه ښـــكـلي ، هلتــه هــر حـصــه ښـكـلي
ښـكـلـے ده مكـه ښـكـلـي، دلـتــه ده كعبـه ښكلي
ده ښـــۀ مـدينـه ښـكـلـے ، دلتــه ده روضــه ښـكـلي
يـو خـوا ده ښـائستـۀ فـضـا، ښـكـلـے ده مــروه صفا
بـــل خـــوا ده رنـــا رنـــا ، هـــر صـفـــت لـــرى جُـدا
يـو خـوا تـه چيـنـه ښـكـلي ، بـل خوا ګلدسته ښكلي
ښـكـلـے ده مكـه ښـكـلـي، دلـتــه ده كعبـه ښكلي
ده ښـــۀ مـدينـه ښـكـلي ، دلتــه ده روضــه ښـكـلي
يـو خـوا دَ خليـل مـقـام ، مـونـځ پـه كښـي كوى عوام
بـل ځـائـے كښـي بـابُ السـلام، هلتـه دے ماهِ تمام
يـو خـوا ده تـوښـه ښـكـلي، بل خوا هر حصـه ښكلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلے ده مکه ښکلي، دلته ده کعبه ښکلي
ده ښۀ مدینه ښکلي ، دلته ده روضه ښکلي
یو خواته حجرِ اسود، نُور دے دَ هر یو لحد
وائی وائی دا احمد ، دا ربنا دَ نیك او بد
یو خوا دا نشه ښکلي ، بل خوا دا جلوه ښکلي
ښکلے ده مکه ښکلي، دلته ده کعبه ښکلي
ده ښۀ مدینه ښکلي ، دلته ده روضه ښکلي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دا مخا مخ مي تصوَر کښي دَ جانان کلے دے
دغه زمونږ دَ پاك نبی آخرزمان ﷺ کلے دے
دا مخا مخ راته وطن ښائسته رڼا چي ښکاریږي
دا مخامخ راته چمن ښائسته رڼا چي ښکاریږي
دغه زمونږ دَ مُرسلانو دَ سلطان کلے دے
دغه زمونږ دَ پاك نبی آخرزمان ﷺ کلے دے
دا مخامخ راته چي ښکاریږي خوشبوداره در
دا مخامخ راته چي ښکاریږي لکه پاس قمر
دغه حسین دَ کائنات ښۀ عالیشان کلے دے
دغه زمونږ دَ پاك نبی آخرزمان ﷺ کلے دے
دا مخا مخ راته چي ښکاري بې مثاله ښکلے
نشته دے دغه رنگ دُنیا کښي بل حسین یو کلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغــه هــر زړهٔ لــه پــه دُنيــا دَ اطميـنــان كلـے دے

دغــه زمــونــږ دَ پــاك نبــي اٰخــرزمان ﷺ كلـے دے

دا مـخا مـخ چې دے احـمـده ! سـتـا نظـر كـښې اُوسـی

دا مـخامـخ درتـه چې ښكاری سـتا ځيګر كښې اُوسی

دا پــــه دُنيــــا كښـــې دَ دُنيــا دَ مهـريــان كلـے دے

دغــه زمــونــږ دَ پــاك نبــي اٰخــرزمان ﷺ كلـے دے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ښــكـلـــے دے تـــول ښــار دَ مــديــنــې ښـــكـلـــے

ښــكـلـــے دے دربــــار دَ مــديــنـــې ښـــكـلـــے

ښــكـلـــی ده روضــــه پـــه كښـــې دَ پــاك نبـــي ﷺ

ښــكـلـــے دے ســـردار دَ مــديــنـــې ښـــكـلـــے

ښــكـلـــے پـــه ښــارونــو كښـــې دا ښـــكـلـــے دے

ښــكـلـــے دے مـــزار دَ مــديــنـــې ښـــكـلـــے

ده پــــه كښـــې حـــجـــره دَ عــــائشـــې بـــی بـــیؓ

دردے خــــوشبــــودار دَ مــديــنـــې ښـــكـلـــے

ښــكـلـــے دے صـديـقؓ عـمـرؓ عثـمـانؓ عـلـیؓ

ښــكـلـــے دے هـــريـــار دَ مــديــنـــې ښـــكـلـــے

ښــكـلـــی دے هـــر ګـــل دَ مــديــنـــې دَ در

ښــكـلـــے دے ګـــلــزار دَ مــديــنـــې ښـــكـلـــے

ښــكـلـــے دي ســـــامـــــان دَ مــديــنـــې دَ در

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې دې بازار دَ مدینې ښکلې
ښکلې دې چمن وائې احمد علي
ښکلې دې ګفتار دَ مدینې ښکلې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مونږ يُو امتيان دَ محمد خير الابرار ﷺ امين
يُو مونږه په ربَ مئين ، ښکلې دې زمونږه دين
مونږه امتيان دَ محمد خير الابرار ﷺ يُو ټول
مونږ په نيغه لاره دَ نبيانو دَ سردار يُو ټول
ياد دې په صفت سره هرخواته چې په بهترين
يُو مونږه په ربَ مئين ، ښکلې دې زمونږه دين
مونږه امتيان يُو دَ خاتم لانبياء نبي ﷺ
مونږه امتيان يُو دَ امام الاولياء نبي ﷺ
دا مې عقيده ده هم دغه لرمه زۀ يقين
يُو مونږه په ربَ مئين ، ښکلې دې زمونږه دين
مونږه امتيان يُو دَ غمخوار د دې جهان نبي ﷺ
مونږه امتيان يُو دَ تاجدار د دې جهان نبي ﷺ
ياد دې په دُنيا کښې د دُنيا دَ در هغه حسين
يُو مونږه په ربَ مئين ، ښکلې دې زمونږه دين
مونږه امتيان يُو احمد وائې دَ خير البشر ﷺ
دلته دَ دُنيا دَ پاره دې هغه رڼا سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاد په مزمل مدثر دے هغه طٰهٰ یٰسین ﷺ
یُو مونږه په ربّ مئن ، بشکلے دے زمونږه دین

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تا درذَ محمد خیر البشر ﷺ چې ولیده
ښائسته دے لکه بره پاس قمر چې ولیده
دیدن چې دَدربار دَ محمد ﷺ اُکړلو تا
دیدن چې دَ ګلزار دَ محمد ﷺ اُکړلو تا
تا در دَ مُرسلانو دَافسر چې ولیده
ښائسته دے لکه بره پاس قمر چې ولیده
دیدن در ته نصیب شو دَوطن چې دَ نبی ﷺ
دیدن درته نصیب شو دَ مدفن چې دنبی ﷺ
قسم دے په دُنیا کښې تا بهتر چې ولیده
ښائسته دے لکه بره پاس قمر چې ولیده
دیدن چې شو نصیب ستا دَ یارانو دَ نبی ﷺ
دیدن دے بیا نصیب شو دَ عثمانؓ او دَ علیؓ
بیا دوی سره صدیقؓ او تا عمرؓ چې ولیده
ښائسته دے لکه بره پاس قمر چې ولیده
دیدن درته نصیب شو ددې در دَ نُور رڼا
احمد علی په دې سره کړه ختمه داوینا
تا دلته دا مقام په دې نظر چې ولیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښائسته دے لکه بره پاس قمر چې وليده

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

قلم په لاس دَ پاك رسول اللّه ﷺ صفت ليکمه
دغه دُنيا کښې زړهٔ سکون له هرساعت ليکمه

ماته معلومه ده چې حق به پرې ادا ئې نشي
پوره دَ حُسن دَ ښُکلا به دا وينا ئې نشي
دغه دُنيا کښې يو سبب دَ مغفرت ليکمه
قلم په لاس دَ پاك رسول اللّه ﷺ صفت ليکمه

ماته معلومه ده چې لوئې مقام دَ پاك نبي ﷺ دے
راته معلومه ده چې احترام دَ پاك نبي ﷺ دے
دغه بيان په دې جهان دَ عبادت ليکمه
قلم په لاس دَ پاك رسول اللّه ﷺ صفت ليکمه

راته معلومه ده اوصاف لرې بيشميره نبي ﷺ
تاته معلومه ده اوصاف لرې بيشميره نبي ﷺ
دغه اوصاف دَ پاك نبي ﷺ دَ فضيلت ليکمه
قلم په لاس دَ پاك رسول اللّه ﷺ صفت ليکمه

راته معلومه ده احمد دَ مردان وائي دغه
مخلوق ته دلته په دُنيا کښې داسے ښائي دغه
په قلم ذکر دَ نبي ﷺ د در رحمت ليکمه
قلم په لاس دَ پاك رسول اللّه ﷺ صفت ليکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

صادق امين نبي ﷺ دے ، دَ ربَ نيازبين نبي ﷺ دے
شــاه دَ شــاهــانــو تـولـو ، شــاه دَ نيــكــانـو تـولـو
دا اوّليـــن نبـــي ﷺ دے ، دا آخـــريـــن نبـــي ﷺ دے
صادق امين نبي ﷺ دے ، دَ ربَ نيازبين نبي ﷺ دے
فـضـا پـه دوي ښـكـلـي ده ، دُنيـا پـه دوي ښكلي ده
داسے حسين نبي ﷺ دے ، ربَ ته قرين نبي ﷺ دے
صادق امين نبي ﷺ دے ، دَ ربَ نيازبين نبي ﷺ دے
جهـان پـه دُوي آبـاد دے ، آسمـان په دُوي آباد دے
ډير بهترين نبي ﷺ دے ، حق دے يٰسين نبي ﷺ دے
صادق امين نبي ﷺ دے ، دَ ربَ نيازبين نبي ﷺ دے
سپرلے په دُوي ښكلے دے ، ښائسته ئي در كلے دے
دَ ربَ متيـن نبـي ﷺ دے ، ايـمـان يقين نبي ﷺ دے
صادق امين نبي ﷺ دے ، دَ ربَ نيازبين نبي ﷺ دے
دوســت دَ نيــكــانــو خـلـقـو ، دَ يتيــمـانو خلقو
دَ متـقيــن نبي ﷺ دے ، دَ صـالـحيـن نبـي ﷺ دے
صادق امين نبي ﷺ دے ، دَ ربَ نيازبين نبي ﷺ دے
ښـكـلـے ئي هـر يـو صـفـت ، احـمـد ليكلے ئي نعت
رهبـر د ديـن نبي ﷺ دے ، دَ ښـۀ آئيـن نبـي ﷺ دے
صادق امين نبي ﷺ دے ، دَ ربَ نيازبين نبي ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رهنما دَ هر انسان، دا نبی اٰخرزمان ﷺ
په دُنیا کښې په هر در، رهنما دے دَ بشر
دَ مکان او لامکان، دا نبی اٰخرزمان ﷺ
رهنما دَ هر ولی، مقتدا دَ مقتدی
ښۀ کامل په هر بیان، دا نبی اٰخرزمان ﷺ
هر یو قول ئې دے حجت، نور دے نور ئې هر سنت
ربَ ورکړے دے قران، دا نبی اٰخرزمان ﷺ
رهنما دَ محدَث، نُور رڼا دَ محدَث
حفاظت دَ هر نقصان، دا نبی اٰخرزمان ﷺ
هر فقیه ئې دے په لار، هر عالِم ئې تابعدار
ګل دے ګل دَ ګلستان، دا نبی اٰخرزمان ﷺ
زۀ احمد ئې پیروکار، زۀ تابع یم ئې دَ لار
زړۀ سکون مې اطمینان، دا نبی اٰخرزمان ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زمونږ نبی ﷺ ښائسته دے
خوږ مدنی ﷺ ښائسته دے
چې په نسب دے اعلیٰ
دا هاشمی ﷺ ښائسته دے
یادِ په بشیر نذیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـــــــه داعـــــی ښـــــائستـــــــۀ دے

دَ فـــــاطـــمـــيؓ بـــــابــــا دے

ســــخـــــر دَ عـــلـــیؓ ښـــائستــــۀ دے

امـــــــام دَ هــــــريــــو امـــــــام

دغــــه عــــالـــی ښــــائستــــۀ دے

ښُـــــکــــلا دَ هـــــريـــو چـــمـــن

دا مـــــدنــــــی ﷺ ښـــــائستــــــۀ دے

پــــــــه تـــول سيــــرت صــــورت

دا عــــــربـــــی ﷺ ښـــــائستـــــۀ دے

وائــــی احـــمــد لـــــه هـــرچــــا

زمـــونــــږ مـــکـــی ﷺ ښـــائستـــۀ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

داسـے اوچــت اولــوئــي مــقـــام دَ چـــا دے؟

کــوم يــو مــقـــام چـــي دَ رســول اللّـــه ﷺ دے

چـــي پــــه ســـردار دَ مُـــرسـلانـو يـــا د دے

چـــي پــــه غـمـخـوار دَ يتيـمــانــو يـــاد دے

دغـــه عـــالـــی صــفــت خيــر الــوریٰ ﷺ دے

کــوم يــو مــقـــام چـــي دَ رســول اللّـــه ﷺ دے

داسـے اوچــت اولــوئــي مــقـــام دَ چـــا دے؟

چـــي ئـــي اُمـــت لـــه هـــر اُمَـــت دے غـــوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي به نه وي بل اُمت بهتره
دغه نسبت زمونږ د رهنما دے
کوم يو مقام چي د رسول الله ﷺ دے
داسے اوچت اولوئي مقام د چا دے؟

عالي اصحابؓ ئي د جهان دي ټول
عالي محفل کښي ئي ياران دي ټول
د هر رنځور په هر يو درد وا دے
کوم يو مقام چي د رسول الله ﷺ دے
داسے اوچت اولوئي مقام د چا دے؟

عالي ئي در د مديني دے ښکلے
عالي مقام ئي د روضي دے ښکلے
ياد په لقب سره بدرالدُجیٰ دے
کوم يو مقام چي د رسول الله ﷺ دے
داسے اوچت اولوئي مقام د چا دے؟

عالي نسبت ئي د جهان دے هرځائے
احمد ددغي په ارمان دے هرځائے
له دغي وجي دلته کښي گويا دے
کوم يو مقام چي د رسول الله ﷺ دے
داسے اوچت اولوئي مقام د چا دے؟

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دغه رڼا د دې جهان دَ چا ده؟
دغه زمونږه دَ خیر الوریٰ ﷺ ده
هر یو صفت سره ښائسته ښکلے دے
ښکلے ئې دلته کښې هر یو ادا ده
ښکلی اخلاق ورله ورکړي رب دی
دغه دَ هر یو تن ښائست ښُکلا ده
ذکر ئې درددې جهان ختموی
ذکر کښې دلته ئې پرته شفا ده
خوږې له هر څۀ نه ئې دی خبرې
تل له ګبینه ئې خوږه وینا ده
دَ ربَ سره ئې پاس خبرې شوی
په دې خبره دا ګواه دُنیا ده
رحمت ئې خور دے په آسمان او زمکه
اباده دُوی سره دَ زړۀ صحرا ده
صفات ئې ډیر دی دَ جهان دَ در
رُتبه احمده! ئې اعلیٰ بالا ده

دُعا

خدایا عمل مې په قرآن نصیب کړې
نُور دَ حدیث مې په جهان نصیب کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستـــانـــه زۀ خـــدایـــه ! هـــدایـــت غــوارمــه
نُـــور دَ اســـلام دَ شـــریـــعـــت غـــوارمـــه
ستـــانـــه مـقـــام دَ فـــضیـلـــت غــوارمـــه
ستـــانـــه مـــدد زۀ هـــر ســـاعـــت غــوارمــه
دَ زړۀ مـــې دلـتـــه اطـــمـیـنـــان نـصیـب کــړے
خــدایـــا عـــمــل مـې پـــه قــراّن نـصیـب کــړے
مـــالـــــه عـــزت دَ دوجهـــان راکـــړې
مـــالـــــه عـــظـــمـــت د دوجهـــان راکـــړې
مـــالـــــه قُـــربـــت د دوجهـــان راکـــړې
مـــالـــــه رحـــمـــت دَ دوجهـــان راکـــړې
زمـــا پـــه ژبـــه حـق بیـــان نـصیـب کـــړې
خــدایـــا عـــمــل مـې پـــه قــراّن نـصیـب کـړې
غـــوارم لـتـــانـــه تـــلاوت دَ جهـــان
غـــوارم لـتـــانـــه شـــرافـــت دَ جهـــان
غـــوارم لـتـــانـــه ســـعـــادت دَ جهـــان
غـــوارم لـتـــانـــه هـــدایـــت دَ جهـــان
ربَـــه زمـــا کـــامـــل ایـــمـــان نـصیـب کــړې
خــدایـــا عـــمــل مـې پـــه قــراّن نـصیـب کـړې
غـــوارم لـتـــانـــه زۀ چـــمـــن دَ اصـــحـــابؓ
غـــوارم لـتـــانـــه زۀ وطـــن دَ اصـــحـــابؓ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوارم لتانه خوږ سخن دَ اصحابؓ
غوارم لتانه پاك مسكن دَ اصحابؓ
ربَه! زما دغه ياران نصيب كړئ
خدايا عمل مې په قرآن نصيب كړئ
ربَه! لتانه هر جنت غوارمه
ربَه! لتانه مغفرت غوارمه
دَ پاك رسول اللّٰه قُربت غوارمه
لتانه ستا زۀ معرفت غوارمه
دغه بيان مې عاليشان نصيب كړئ
خدايا عمل مې په قرآن نصيب كړئ
غوارم لتانه محبت دَ قرآن
غوارم لتانه له هر شر نه أمان
غوارم لتانه زۀ پناه له شيطان
غوارم لتانه زۀ احمد دَ مردان
ربَه! ښائسته مې هر مكان نصيب كړئ
خدايا عمل مې په قرآن نصيب كړئ

دُعا

مالَه بدعت نه امان راكړئ ربَه!
دَ شيطانت نه امان راكړئ ربَه!
دغه دُعا دا التجا ده زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـــــه دَزړهٔ نـــــه يــو دُعـــــا ده زمـــــا
دلـتـــه هــرځــائـــے کښـي پـــه هـرخـوا ده زمـا
پـــــه عـــاجـــزي ســـره بيـــا بيـــا ده زمـــا
دَ هـــرظـــلـــمـــت نـــه امـــان راکـــړې رَبّـــه!
دَ شيـــطـــانـــت نـــــه امـــان راکـــړې رَبّـــه!
دغـــه يــو ســوال دے خـدايـا سـتــانــه زمـا
غـــواړمــــه تـــانـــه مـهـــربـــانـــه زمـــا
لـــرے هــــرغـــم کـــړه دَ دُنيـــا نـــه زمـــا
کـــارونـــه پـــتے نـــهٔ دي دا ستـــانـــه زمـــا
دَ هـــرلـــعـــنـــت نـــه امـــان راکـــړې رَبّـــه!
دَ شيـــطـــانـــت نـــــه امـــان راکـــړې رَبّـــه!
ميــنـــــه پــــه زړهٔ کښـــي راپيـــدا کـــړه زمـــا
نـــفـــرت دَزړهٔ نـــــه بيـــا جُـدا کـــړه زمـــا
مـــوړ دغـــــه زړهٔ ددي دُنيـــا کـــړه زمـــا
فـــکـــــرورســـــره دَ عـــقبـــىٰ کـــړه زمـــا
کـــار دَ غـــفـلـــت نـــه امـــان راکـــړې رَبّـــه!
دَ شيـــطـــانـــت نـــــه امـــان راکـــړې رَبّـــه!
رَبّـــه ! دا هـــرڅـــه تـــول اســـان دي پـــه تـــا
دغـــه تـــول پـــتے دلـتـــه عيـــان دي پـــه تـــا
اســـان کـــارونـــه دَ جهـــان دي پـــه تـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګران چې دي څومره ته ول اسان دي په تا
دَ ضلالت نه امان راکړئ ربّه !
دَ شیطانت نه امان راکړئ ربّه !
غواړي احمد درنه مردان کښي دغه
انسانان غواړي ته ول جهان کښي دغه
مخلوقات غواړي پاس آسمان کښي دغه
مارغان ته ول غواړي خپل بیان کښي دغه
دَ مصیبت نه امان راکړئ ربّه !
دَ شیطانت نه امان راکړئ ربّه !

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نمونه ئي ته ول زمونږ دَ پاره ژوند دے
څوك دے ؟ څوك دے ؟ محمد دے عزت مند دے
په صورت او په سیرت کښي ئي ته ول خیر دے
دَ هرچانه په هر ځائے کښي سربلند دے
دَ نبیانو دَ ته ولي هغه امام دے
په هر ځائے کښي په هر در بـٔ قدرمند دے
قول او فعل ئي حجت دے مونږ دَ پاره
په هر قول کښي ئي دَ دوجهان پټ پند دے
ذکر هر ځائے چا چي کړے ئي دے دلته
دغه ذکر ئي په شان لکه دَ قند دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے احـــمــــد عــلـــــی ! د دو جهـــان قــمـــر دے
لـوئـي مــقـام ئـي لكــه نمر غوندې ځرګــنــد دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـــحبـــوب دَربَ دَزړهٔ ســـكــــون زمــــا دے
دَزړهٔ ســـكـــون دغـــــه ژونـــدون زمـــــا دے
دغـــــــه قـــرآن چـــې ربَ ورکـــړے ورلـــــــه
دغـــــه آئيـــن نبــــائستـــــه قـــانــون زمـــا دے
چــې ئــې سيــرت كښـــې هـــر مـــضمون راغلـے
دغــــــه سيـــرت دغــــه مـــضـــمـون زمـــا دے
شـــكــــر پـــــه دغـــې چـــې سيـــرت ئـــې لُـولـم
دغـــــــه اســـــلام ســـــره تــــړون زمـــــا دے
زهٔ ئــې روان چـــې پـــــه ســنـــت بــــانــدې شم
وائـــې احـــمــــد دغـــــه بــدلــون زمــــا دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هــــر صـــحـــابـــيؓ ئـــې دَ اســـمـــان ستـــورے دے
رنـــــا روښـــــانــــــه دَ جهـــــان ستـــورے دے
پـــــــه هــــر ادا چـــې دَ نبـــی ﷺ قـــربـــان دے
دا پــــــه رښيتـــــاډيـــر عــــاليشـــان ستـــورے دے
دَ غــــار مــــلــــګـــرې ئـــې صـــديـــق اكبـــرؓ دے
زمـــونـــږ دَ ديـــن دغــــه انســـان ستـــورے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـــريـــو مــلــگــرے دَ نبـــي ﷺ بنـــائستـــهٔ دے
کـــه دے عــمــر رضی الله عنه کــــه دے عثــمــان رضی الله عنه ستورے دے
احـــمـــده ! ذکـــــر دَ رســـول الـــلّـــــه ﷺ کـــرهٔ
تـــريـنـــه دُنيـــا کښــي هــرقــريـــان ستورے دے

دَ بدعت مذمت

پـــه دُنيـــا دَ هـــرشيــطـــان نـــه ځـــان ســـاتـــه
دَ بـــدعـــت دَ هـــر نـــقـــصـــان نــــه ځـــان ســـاتـــه
دَ رحـــمـــت ســـره نـــهٔ لـــگـــي دَ لــعــنـــت
دَ لــعــنـــت دَ دي جهـــان نـــه ځـــان ســـاتـــه
دَ سپـــرلــــي اودَ خـــزان فـــطــرت جُـــدا دے
شـــهٔ سپـــرلـــے د هـــرخـــزان نـــه ځـــان ســـاتـــه
نـــهٔ دَ گـــل دَ زاغـــي خپــلـــو کښـــي لـــگـــي
دَ زاغـــو دَ هــــر دُکـــان نـــه ځـــان ســـاتـــه
خيـــر دَ شــر ســره يـــو ځـــائے نـــه پـــاتے کيـــږي
تـــل دَ شـــر ســـاز وســـامـــان نـــه ځـــان ســـاتـــه
اے احـــمـــد عـلـــي بيـــان دَ خيـــر او شـــر شتـــه
د شيـــطـــان دَ هـــر بيـــان نـــه ځـــان ســـاتـــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دوســـت زمـــونـــږه دَمـــولـــیٰ ئـــي
مـــحـــمـــد رســـول الـــلّـــه ﷺ ئـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تول مخلوق دے قدردان دے
کهٔ انسان دے کهٔ حیوان دے
تهٔ یٰسین ئي تهٔ طٰه ﷺ ئي
محمد رسول الله ﷺ ئي

مونږه ستا تول پیروکاریُو
مونږه ستا په نیغه لاریُو
تهٔ زمونږه مقتدا ئي
محمد رسول الله ﷺ ئي

ستا په ذکر کښي سکون دے
ستا سیرت ښائسته قانون دے
دَ هر لاري نُور رڼا ئي
محمد رسول الله ﷺ ئي

تهٔ خاتم ئي دَ نبیانو
تهٔ امام ئي دَ ولیانو
دَ هریو چمن ښُکلائي
محمد رسول الله ﷺ ئي

هریو در په تا آباد دے
بحرو بر په تا آباد دے
په هریو صفت جُدا ئي
محمد رسول الله ﷺ ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا صفات دي تـول لعلونه
يـا دي ښكلي تـول ګلونه
داسې دلته كښې پيدا ئې
محمد رسول الله ﷺ ئې
مونږه ستا تـول امتيان يُو
ستا دَ در تـول غلامان يُو
دَ احمد دَ زړهٔ صدا ئې
محمد رسول الله ﷺ ئې

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

بـې نقطې دې ښائسته نُوم ستا
دغه شان دې ښهٔ معلوم ستا
ستا دَ عدل ګواهان دي
دا اغيار خلق محكوم ستا
ستا دَ نُور رڼا چينې دي
په هر ځائې كښې تـول علوم ستا
لوئې مقام تـه رسيدلې
چې خبر شول په مفهوم ستا
تـهٔ قاسم ئې دَ هر خيز
تـول خيزونه دي مقسوم ستا
هر ظالم دې پوهه كړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدحه کړي هر مظلوم ستا
دا احمد په قلم لیکلی
دا تعریف دے ټول منظوم ستا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته ښکلے جانان دَ مديني زمونږه دے
رهبر دَ ټول جهان دَ مديني زمونږه دے
قرآن کښې ئې دے ذکر دَ اُسوهٔ حسنه
دَ ژوند دَ پاره ښکلے ئې سيرت دے آئينه
سلطان هر سلطان دَ مديني زمونږه دے
ښائسته ښکلے جانان دَ مديني زمونږه دے
غمخوار دَ يتيمانو غريبانو ټولو خلقو
غمخوار په هر مقام دَ مظلومانو ټول خلقو
بې مثله مهربان دَ مديني زمونږه دے
ښائسته ښکلے جانان دَ مديني زمونږه دے
قرآن ورله ورکړے رب دَ ټول جهان دَ پاره
قرآن ورله ورکړے رب دَ هر انسان دَ پاره
دا صاحبِ قرآن دَ مديني زمونږه دے
ښائسته ښکلے جانان دَ مديني زمونږه دے
ياران ئې دَ جهان دَ پاره ستوري دَ هر در دي
ياران ئې په دُنيا کښې خوشبوداره معطر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

رهبر عظیم انسان دَ مدیني زمونږه دے
ښائسته ښکلے جانان دَ مدیني زمونږه دے

علاج دَ رنځورانو دَ دُنیا دَ هر یو درد
شافع دے دَ محشر هغه ساقي دے دَ کوثر

سکون او اطمینان دَ مدیني زمونږه دے
ښائسته ښکلے جانان دَ مدیني زمونږه دے

خاتم دَ مُرسلانو دے محبوب دَ اکبر
احمد علي خبره تاکړه نوره مختصر

نبي اٰخر زمان ﷺ دَ مدیني زمونږه دے
ښائسته ښکلے جانان دَ مدیني زمونږه دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راځئ چې دَ نبیانو دَ افسر ﷺ وکړو خبري
راځئ چې دَ محبوب خیر البشر ﷺ وکړو خبري
راځئ چې تذکره وکړو دَ شافعِ محشر ﷺ
راځئ چې تذکره وکړو دَ ساقي کوثر ﷺ
راځئ دَ محبوب دَ ربّ اکبر ﷺ وکړو خبري
راځئ چې دَ محبوب خیر البشر ﷺ وکړو خبري
راځئ چې تذکره وکړو دَ احسن الوریٰ ﷺ
راځئ چې تذکره وکړو دَ نُور بدالدرجیٰ ﷺ
راځئ چې دَ مخلوق د دي دلبر وکړو خبري

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځـئ چـي دَ محبوب خیر البشر ﷺ وکړو خبري

راځـئ چـي ذکـر وکـړو دَ خـاتم الانبیـاء ﷺ

راځـئ چـي ذکـر وکـړو دَ امـام الاولیـاء ﷺ

راځـئ چـي دَ اسلام بنـائسته قمر وکړو خبري

راځـئ چـي دَ محبوب خیر البشر ﷺ وکړو خبري

راځـئ چـي ذکـر وکـړو احمد وائی دَ نبی ﷺ

راځـئ چـي ذکـر وکـړو دَ مکی او مدنی ﷺ

راځـئ چـي ددي نـور بنـائسـۀ سحر وکړو خبري

راځـئ چـي دَ محبوب خیر البشر ﷺ وکړو خبري

وعظ ونصیحت

مـلـگـرتیـا دَیـو شیطـان نـۀ ده پـکـار

یـو سـودا هـم دَ نـقـصـان نـه ده پـکـار

پـه بدعت کښي تـش نقصان دَ هرانسان دے

دا سـودا د دي جهـان نـه ده پـکـار

چـي رسـول ﷺ درنـه نـاراضـه پـه یو کـارشـی

دا سـودا د دي خـفـگـان نـه ده پـکـار

چـي سبـب دَ هـر لـعـنـت پـه دے جهـان شـی

دا سـودا پـه یـو مـکـان نـه ده پـکـار

چـي خـفـه تـرینـه مـولـیٰ د دې جهـان شـی

دا سـودا دَ مسلـمـان نـه ده پـکـار

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې محروم کړي تا احمده! له ایمانه
دا سودا په یو زیان نه ده پکار

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بهترین زمونږ نبی ﷺ دے
چې مکی ﷺ او مدني ﷺ دے
په رتبه کښې اوّلین دے
په ظهور کښې اخرین دے
قریشی ﷺ دے عربی ﷺ دے
بهترین زمونږ نبی ﷺ دے
دَ مولیٰ هغه محبوب دے
بهترین ئې هر اُسلوب دے
معلم ﷺ دے هم غازي ﷺ دے
بهترین زمونږ نبی ﷺ دے
هر ادا ئې نُور رڼا ده
تذکره کښې ئې شفا ده
هر قدم ئې قیمتی دے
بهترین زمونږ نبی ﷺ دے
بهترین ئې طریقه ده
ښائسته ئې مدینه ده
په سخیانو کښې سخی ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهتـــريـــن زمـــونـــږ نبـــی ﷺ دے
ښـــهٔ حسيـــن پـــه تـــول صـــورت دے
بهتـــريـــن ئـــي تـــول سيـــرت دے
كـــامـــل نُـــور دَابـــدی دے
بهتـــريـــن زمـــونـــږ نبـــی ﷺ دے

دَ مـــحشـــر تـــو ښـــه زمـــونـــږه
دَ هـــر در تـــو ښـــه زمـــونـــږه
هـــر غـــلام ئـــي جـــنتـــی دے
بهتـــريـــن زمـــونـــږ نبـــی ﷺ دے

دا صـــفـــت ئـــي دے تـــمـــام
دَنبـــی ﷺ دے دا مـــقـــام
مـــقتـــدی ئـــي هـــر ولـــی دے
بهتـــريـــن زمـــونـــږ نبـــی ﷺ دے

زهٔ احـــمـــد كـــوُم اعـــلان
دا كـــوُمـــه زهٔ بيـــان
ذكـــر ســـره مـــركـــزی دے
بهتـــريـــن زمـــونـــږ نبـــی ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رايـادكـړه اے حـاجـی د هغـي ښـار هغـه وختونـه
ښـائستـهٔ پـه مـدينـه كښـي دَ ګفتار هغـه وختونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونه مبارك هغه دربار كښي دَ نبي ﷺ
وختونه مبارك هغه مزاركښي دَ نبي ﷺ
رايادكړه درنه هير نۀ شي بار بار هغه وختونه
ښائسته ۀ پـه مدينـه كښي دَ ګفتار هغه وختونه

پـه ورو ورو قـدمونـه هرطرف تـه پـه هر لـور
ديـدن دَ هـرچـمـن ورسره بيا شامل كړه نُور
رايادكړه اے صاحبه! دَ اذكار هغه وختونه
ښائسته ۀ پـه مدينـه كښي دَ ګفتار هغه وختونه

پـه مينـه محبت سره ديدن دَ هر بشر
پـه مينـه محبت سره ديدن دَ هريـو در
رايادكړه اے مؤمنه! دَ بهار هغه وختونه
ښائسته ۀ پـه مدينـه كښي دَ ګفتار هغه وختونه

ښائسته ښكلي ګلونه مدينه كښي دَ جهان
احمدعلي ئې ذكر دلته كړے عاليشان
بيا هلته كښي دَ زړۀ تېول بيقرار هغه وختونه
ښائسته ۀ پـه مدينـه كښي دَ ګفتار هغه وختونه

اصحابؓ دَ محمد ﷺ

قمر دے محمد عربي ﷺ ستوري دي اصحابؓ
ګلونه د دُنيا دي پـه دُنيا كښي دَ ګلاب
صديقؓ دے كۀ عمرؓ دے هغۀ ستوري دَ جهان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري دَ نبي ﷺ په هر محفل کښې عالیشان دي
کارونه دَ جهان ئې په دُنیا دي لاجواب
قمر دے محمد عربي ﷺ ستوري دي اصحابؓ

رڼائي هر طرف ته په جهان ده خوره شوې
رڼائي دَ دُنیا په هر مکان ده خوره شوې
قسم دے مقتدا دي دَ دُنیا دَ هر یو باب
قمر دے محمد عربي ﷺ ستوري دي اصحابؓ

اقوال ئې دَ جهان کښې لعلونه عالیشان
افعال ئې دَ جهان کښې ګلونه عالیشان
دُنیا کښې دے هر چا له یو سیورے دَ سحاب
قمر دے محمد عربي ﷺ ستوري دي اصحابؓ

یاران دَ محمد ﷺ دي ټول صادقه دَ جهان
احمد علي ئې دلته ذکر کړے دَ لوئې شان
پرانستے په جهان کښې دَ رڼا دے یو کتاب
قمر دے محمد عربي ﷺ ستوري دي اصحابؓ

یاران دَ محمد ﷺ

یاران دَ محمد ﷺ دي ټول ګلونه دَ ګلاب
ثاني په دُنیا نۀ لري دُنیا کښې په هر باب
صدیقؓ دے که عمرؓ دے راشه راشه قدردان دے
قسم دے په دُنیا کښې بهترین عليؓ عثمانؓ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ګل د دې ګلونو نه يادېږي لاجواب
ثانی په دُنيا نهٔ لری دُنيا کښې په هر باب
حسنؓ دے کهٔ حسينؓ دے هر نوسے دَ پاك نبی ﷺ
قسم دے په دُنيا ئې هر انسان دے مقتدی
د دوی په اقتدا کښې مولیٰ ايښے ډير ثواب
ثانی په دُنيا نهٔ لری دُنيا کښې په هر باب
يو ګل په دې ګلونو کښې حسّانؓ سره بلالؓ دے
هر ګل په دې جهان کښې لاثانی په خپل جمال دے
قرآن ورته ورکړے ډير عالی اوچت خطاب
ثانی په دُنيا نهٔ لری دُنيا کښې په هر باب
قسم دے ثانی نهٔ لری ياران دَ پاك نبی ﷺ
روان دَ دوی نه وروستو هر يو کس دے نيك ولی
دَ ربّ دے خپل رسول ﷺ دَ پاره دغه انتخاب
ثانی په دُنيا نهٔ لری دُنيا کښې په هر باب

وعظ ونصيحت

بُتان دَ هر بدعت به په هر درزهٔ ماتوُم
سامان به په دُنيا کښې د ضرر زهٔ ماتوُم
زهٔ مينه محبت به دَ سنت سره کوُم
وعده به په دُنيا کښې دَ هر شر زهٔ ماتوُم
توحيد باندې قائم به په جهان کښې زهٔ اُوسيږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دُنيا کښې به دَ شرك هر يو حجر زۀ ماتوم
په لار دَ محمد ﷺ باندې قائم به زۀ وُسيږم
روژې باندې شيطان له به ځيګر زۀ ماتوم
بُتان دَ جهالت به هر طرف ته غُرځوم
هر بُت به دَ غرور دَ هر شر زۀ ماتوم
نفرت نه به نفرت سره دلته په هر در
په پلك دَ محبت به دغه غر زۀ ماتوم
د دين نه چې کړي لرې تا احمده ! په جهان
قانون به دغه هر ځائے دَ افسر زۀ ماتوم

وعظ او نصيحت

دَ بدعت په لار روان تېکرې خوري
ياران هر ځائے دَ شيطان تېکرې خوري
په ګناه پسې چې ګرځي په جهان
داسې هر ځائے هر انسان تېکرې خوري
چې دَ شرك په بدبوئي باندې اخته دي
داسې خلق دَ جهان تېکرې خوري
دَ سنت په لار کښې نشته دے تېکرې
په دُنيا کښې بدعتيان تېکرې خوري
چې دَ شرك او دَ بدعت سره يو ځائے وي
په دُنيا داسې کسان تېکرې خوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې مقصده په دُنيا كښې چې څوك ګرځي
دغه خلق كړي نقصان تېكري خوري

چې قرأن ته دَ چا شاوي په جهان
دُښمنان تېول دَ قرأن تېكري خوري

دَ اسلام په طريقه ئې چې ژوند نۀ وي
داسې خلق وي حيران تېكري خوري

چې اخلاص ئې شامل نۀ وي په عمل كښې
احمد وائي دَ مردان تېكري خوري

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

خبرې دَ مكې او مدينې دي په ما ښۀ لګي
خبرې دَ نبي ﷺ دَ لار كوڅې دي په ما ښۀ لګي
خبرې دَ رسول الله ﷺ دَ كور كلي وطن دي دا
خبرې دَ رسول الله ﷺ دَ پاك ښائسته چمن دي دا
خبرې دا دَ نور ښكلې روضې دي په ما ښۀ لګي
خبرې دَ مكې او مدينې دي په ما ښۀ لګي
خبرې دَ رسول الله ﷺ دَ ښكلې دَ اصحابو ؓ دي
خبرې دَ رسول الله ﷺ قسم دې دَ احبابو ؓ دي
قسم دې دَ انوارو تذكرې دي په ما ښۀ لګي
خبرې دَ مكې او مدينې دي په ما ښۀ لګي
خبرې دَ صديق ؓ او دَ عمر ؓ قسم دې خوند كوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبـرې دَ عثـمـانؓ او دَ حيدرؓ قسـم دے خـونـد کـوي

قسم دے دا لـه قـنـدو نـه خوږې دی په ما ښـۀ لګی

خبـرې دَ مـکـې او مـديـنـې دی پـه مـا ښـۀ لـګـی

خبرې دَ حسنؓ او دَ حسينؓ دی ښـکـلـے ښکلے هم

احـمـدعـلـی د دوی دغـه خبـرے دی لیـکـلـے هـم

قسم دے انسـانـان دا فـرښتـے دی پـه مـا ښـۀ لګـی

خبـرې دَ مـکـې او مـديـنـې دی پـه مـا ښـۀ لـګـی

★★★★★★★★★

تمت بحمد اللّٰه تعالىٰ وبتوفيقه

وما توفيقى الابالله العلى العظيم .ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك انت التواب الرحيم . وصلى اللّٰه تعالىٰ علىٰ خير خلقه محمد واٰله واصحابه اجمعين . اٰمين يارب العٰلمين يارب العٰلمين يارب العٰلمين

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمٰن الرحیم

حمد باری تعالیٰ

تل دے تل، اَللّه

هر ځائے ستا دے مَل، اَللّه

لَمْ یَلِدْ او لَمْ یُوْلَد

وائي داسي نیك او بد

نُور دَ هر محفل، اَللّه

تل دے تل، اَللّه

هم خبیر دَ هر خبر

په هر چا ساتی نظر

مونږ ته کړی کتل، اَللّه

تل دے تل، اَللّه

مهربان صفت لري

هر صفت اوچت لري

ناصر تل دَ بل، اَللّه

تل دے تل، اَللّه

ربَ کړل تول پیدا دلته

هر څۀ دَ دُنیا دلته

هر څۀ هر محل، اللّه

تل دے تل، اَللّه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم قدیر روزي رسان
دا دے ذَاحمد بیان
خوند کړي لفظ وئیل ، اَللّٰه
تل دے تل دے ، اَللّٰه

حمد باري تعالیٰ

یو دے یو دے تل ، اَللّٰه
نهٔ مونږ بل ، اَللّٰه
نشته بل معبود زمونږ
نشته بل مسجود زمونږ
دا دے زمونږ خپل ، اَللّٰه
یو دے یو دے تل ، اَللّٰه
تل په مونږ دے مهربان
دَ هر چا روزي رسان
خوند کوي وئیل ، اَللّٰه
یو دے یو دے تل ، اَللّٰه
هر چا نه خبر هغه
هر ځائے په هر در هغه
تل دَ هر محفل ، اَللّٰه
یو دے یو دے تل ، اَللّٰه
دا ده عقیده ښکلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پـــه هـــرحـــصـــه ښکــلــے
يـــو زمـــونـــږ مـــنـــزل، اَلـــلّــــه
يـــو دے يـــو دے تـــل ، اَلـــلّــــه
دا ده دَ احـــمـــد ويـــنـــا
دا دَ نيك او بـــد ويـــنـــا
هـــر ځــائـــے پــه ســاحــل، اَلـلّـــه
يـــو دے يـــو دے تـــل ، اَلـــلّــــه

حمد باري تعالیٰ

هـــريـــو څيـــز د دي جهـــان دے ستـــا مـخـلـوق
لانـدي زمـكـه پـاس اسـمـان دے ستـا مـخـلـوق
فـرشتـو سـره چـي څـومـره پـيـريـان شتـه دے
دا انســـان هـــريـــو حيـوان دے ستـــا مـخـلـوق
بـــادشـــاهـــان فـقـيـــران تـــا دي پـيــدا كـــړي
هـــر غـــريـــب ســره هـــر خـــان دے ستـــا مخلوق
هـــر مشـــرك او بـــدعتـــی د دي جهـــان
هـــر مـــؤمـــن او مسـلـمـان دے ستـــا مـخـلـوق
ونـــي بـــوټـــی هـــر ذرّه دَ كـــائـــنـــات
هـــر ځـــنـګـــل او بيـــابـان دے ستـــا مـخـلـوق
دغـــه پـــټ ښكـــاره چـــي څـومـره پـــه جهـان دي
دا مـــكـــان او لامـــكـــان دے ستـــا مـــخـــلـــوق

(c) ketabton.com: The Digital Library

هــر بُــلبــل هــریــو ازغــي دَ کـــائـنـــات
هــریــو ګــل دَ ګــلستـــان دے ستـــا مـخـلـوق
دَ ګــــرمــــۍ ســـره یــخـنـــۍ پــــه دي جهـــان
هــر سپــرلـے هــریــو خــزان دے ستــا مخلوق
هــر قــلــم پـــه لاس کښـــي دلتـــه دَلیـکـلـو
دَ احــمــد هـــریـــو بیـــان دے ستـــا مــخـلـوق

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

یــاد دَ مـدیـنـي مـنـوري ښـائستـهٔ بـاغـونـه کړه
یــاد ورسره دغــه رنګ ښـائستـهٔ ښـکلی ګلونه کړه
در دَ مـصـطـفیٰ ﷺ دے څـکـه در دے په دُنیا ښکلے
در دَ نُـور رنـا دے څـکـه در دے پـه دُنیـا ښـکلے
څـــان ســره شــامــل پــه هــره لاره دا یــادونـــه کــړه
هلتـه کښـي اصـحابؓ دَ محمد ﷺ کوی خوبونه ټول
هلتـه کښـي احبابؓ دَ مـحـمـد ﷺ کوی خوبونه ټول
یـــاد ددغــي در ټــول خــوشبــوداره مــحـفلـونــه کړه
در دا دَ صـدیـقؓ دے دغـــه در دے دَ حـضـرت عـمـرؓ
در دا دَ عثـمـــانؓ دے هـم دے در دا دَ عـلـي حیـدرؓ
یـــاد د د دغــي در د دي جهــان ښـائستــه لـعلونه کړه
یــاده کــور کــو څــه کــړه اے احــمـده ! دَ احمد نبی ﷺ
یــاد کــړه مــحــفـلـونـه پـه دُنیـا دَ محمد نبی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يــاد ددغــي در ښــۀ عــاليشــان ټول حــديثــونــه کړه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

لاړ چــي مــديــنــي تــه شي ډيــر ډيــر ئــي ديدنونــه کړه
بيــا زمــا جــانــان تــه پــه کښي ډير ډير سلامونه کړه
هــلتـــه هــر قــدم کښــي ستــا ادب او احتــرام چــي وي
هلتــه هــر قــدم کښــي دا ادب سحــر ماښام چــي وي
هلتــه پــه دي خــاوره قــدرمــند خپــل قــدمونــه کړه
هــلتـــه هـــريــو خيــز ســره دَ زړۀ نـــه مــحبــت کــوه
هــلتـــه کښــي شــکــرونــه دَ اللّٰــه ربُّ العــزت کــوه
هلتــه کښي دَ پــاك اللّٰــه دَ پاك نبي ﷺ ذکرونه کړه
هــلتـــه هــر ســحــر هريــو مــاښــام بيــا تــلاوت کــوه
هلتــه هــريــو کــار دَ مــصــطفىٰ ﷺ دَ نُور سنت کوه
ښــکــلي پــه دے کــار ســره عــالي دغــه فکرونه کړه
هــلتـــه ســلامــونـــه او درود پـــه مــحــمد ﷺ وايـــه
بيـــا بيـــا ســلامــونـــه ورتـــه دغـــه دَ احــمد وايـــه
ښـۀ ښائستـۀ دُنيا کښي هم په د ي سره خيالونه کړه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ښــکــلـے دَ نبـي ﷺ پــه ذکــر دغــه مــحــفلونــه کــړه
نُــور دَ مــحــمد ﷺ ســره ښائستـۀ ښکلے سوچونه کړه
نـــور دَ مــحــمد ﷺ دي ښائستــۀ کړي دَ جهان خلق

(c) ketabton.com: The Digital Library

نُـور دَ مـحـمـد ﷺ دي ښـائسـتـهٔ پـه اسمان خلق

نُـور سـره دَ پاك نبی ﷺ ښـائسـتـهٔ ټول منزلونـه کړه

نـور دَ مـحـمـد ﷺ ده ښـائسـتـهٔ کړے دا فضـا بـره

نُـور دَ مـحـمـد ﷺ ده ښـائسـتـهٔ کړے دا هـوا بـره

نُـور سـره دَ پاك نبی ﷺ ښـائسـتـهٔ خپل اندامونه کړه

نـور دَ مـحـمـد ﷺ دے ښـائسـتـهٔ کړے دَ دُنیا سحـر

نُـور دَ محـمد ﷺ دے ښـائسـتـهٔ کـړے دَ دُنیا قمـر

نُـور سـره دَ پاك نبی ﷺ ښـائسـتـهٔ خپـل عـملونه کړه

نُـور دَ محـمد ﷺ سـره ښـائسـتـهٔ هـره صحـرا ده هم

نُـور دَ مـحـمـد ﷺ سـره ښـائسـتـه زمـا ویـنـا ده هـم

ښـکـلـے اے احـمـده ! دُوی سـره دغـه شعـرونـه کـړه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زمـا جـانـان ښـکـلـے دے دوست دَ سبحان ښکلے دے

پـه هـر صـفـت سره تـل دوسـت دَ رحمان ښکلے دے

څـــو مـــره ښُـــکـــلا چـــې ښـــکـــاری

دا پـــــه دُنـیـــــا چـــې ښـــکـــــاری

دا پـــــه هـــــر خـــوا چـــې ښـــکـــاری

دا نُـــورزنـــــا چـــې ښـــکـــــاری

حسین له دے ټولو دے ، نبی سلطان ﷺ ښکلے دے

زمـا جـانـان ښـکـلـے دے دوست دَ سبحان ښکلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې دُنیــــــــا شـــــــــاهـــــــان

کـــــــــوي دا تـــــــــول اعــــــــلان

وائـــــــــــی دا تـــــــول جهـــــــــــان

داســــــــــے کـــــــوي بیـــــــــان

تـاجدار دَ دوی تـولـو دے پـه هـر مـکـان ښکلے دے

زمـا جـانـان ښـکـلـے دے دوست دَ سبحان ښکلے دے

وائـــــــــی عـــــــرب عــــــجـــــــم

وائــــــــی هـــــــریـــــو عـــــــاالَــــم

دغــــــــــه بـــــــنـــــــــی ادم

خـــــورمــــــــه پــــــه دې قســـــم

امــام دَ تـولـو خـلـقـو ، کُـل دَ جهـان ښـکـلـے دے

زمـا جـانـان ښـکـلـے دے دوست دَ سبحان ښکلے دے

دا عـــــــقیــــــده زمــــــــا ده

دا عـــــــقیـــــده رښـــــــــا ده

دا عـــــقیـــــده صـــــفـــــــا ده

دغـــــــه صـــــفــــــا ویــــــنـــــا ده

خـاتـم دَ مُـرسـلانـو ، پـه هـریـو اَن ښـکـلـے دے

زمـا جـانـان ښـکـلـے دے دوست دَ سبحان ښکلے دے

★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ یو امَتی دَ محمد خیر البشر ﷺ یمه
زۀ په غلامانو کښې غلام د دغې دریمه
زۀ یم امَتی دَ محمد خیر الابرار ﷺ نبی ﷺ
زۀ یم امَتی دَ مرُسلانو دَ سردار نبی ﷺ
زۀ په دې نسبت سره قسم دے بختور یمه
زۀ په غلامانو کښې غلام د دغې دریمه
زۀ یم امَتی دَ مُرسلانو دَ خاتم نبی ﷺ
دا رنګ په دُنیا کښې دَ نبیانو دَ خاتم نبی ﷺ
زۀ په دې رڼا سره قسم دے منوَر یمه
زۀ په غلامانو کښې غلام د دغې دریمه
زۀ یم اُمَتی دَ منوَر رڼا خیر الوریٰ ﷺ
زۀ یم امامانو دَ بدر الدجیٰ ﷺ
زۀ په دې نبست سره عالی په بحر وبر یمه
زۀ په غلامانو کښې غلام د دغې دریمه
زۀ یم امَتی په کائنات کښې دَ صادق امین ﷺ
زۀ یم امَتی په صالحانو کښې دَ بهترین
زۀ په دې خوشبو سره قسم دے معطَر یمه
زۀ په غلامانو کښې غلام د دغې دریمه
زۀ یم امَتی دَ مزمل او مدثر نبی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ یـم امّتـی دَ دلبـرانـو دَ دلبـر نبـي ﷺ
زۀ احـمـد لـه دي خبـري دلتـه بنـۀ خبـریمـه
زۀ پـه غـلامـانـو کښـي غـلام د دغـي دریمـه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے مسـافـره ! مـالـه حـال دَ مـدینـي راوړه
حـال د رسـول اللّٰـه ﷺ دَ کـلـی دَ کـوڅـي راوړه
لاړ چـي شـے کلـه مـدیـنـي تـه دَ خیـرالوریٰ ﷺ تـۀ
لاړ چي شـے کلـه لار کـوڅي تـه دَ خیر الوریٰ ﷺ تـۀ
مـالـه احـوال ددغـي در دَ بـاغـیـچـي راوړه
اے مسـافـره ! مـالـه حـال دَ مـدینـي راوړه
لاړ شـۀ زر لاړ حـصـاریـږه مـه پـه لاره کښـي نُـور
شـابـه روان شـۀ مـدینـه تـه ، دَ روضـي تـۀ پـه لور
ځـان سـره حـال ددغـي در دَ هـر ذرّي راوړه
اے مسـافـره ! مـالـه حـال دَ مـدینـي راوړه
پـه هـریـو ځـیـز دَ مـدینـي بـاندي نظر ساتـۀ تـۀ
ځان دَ لـمـحـي لـمـحـي نـه هلتـه کښـي خبر ساتـۀ تـۀ
مـالـه احـوال دَ دغـي در دَ نـنـداري راوړه
اے مسـافـره ! مـالـه حـال دَ مـدینـي راوړه
دَ زړۀ عـلاج ددغـي در پـه هـریـو کـور کښـي وکـړه
دعـا د دغـي ځـائـے دَ پـاره پـه هـر لـور کښـي وکـړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

احــوال دَ میـنــي مـحبـت دَ هـر حـصـي راوړه
اے مسـافــره ! مـالــه حـال دَ مـدیـنـي راوړه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـکـه شولـه بدلـه شوه مـکـه مکـرمـه
شـوه جـوړه مـدیـنـي نـه مدیـنـه منـوره
بـدلـه شـوه مـکـه دا پـه نسبـت دَ محـمد ﷺ
بـدلـه شـوه مـکـه دا پـه عـظمت دَ محـمد ﷺ
رڼـا پـه دوی سـره شـولـه دُنیـا کښـي هر حصـه
مـکـه شـولـه بـدلـه شـوه مـکـه مکـرمـه
بـدل شــول حــالات دَ مـدیـنـي مـنـوري
ښـکـاره شـول کـمـالات دَ مـدیـنـي مـنـوري
ښـائستـهٔ ئـي دَ دُنیـا شـوه دَ دُنیـا هـره ذرَه
مـکـه شـولـه بـدلـه شـوه مـکـه مکـرمـه
عـرب کښـي عـریـان شول بدل پـه هـر صـفـت
عـجـم کښـي عـجـمیـان شول بدل پـه حقیـقت
بـدلـه دَ عـجـم او دَ عـرب شـولـه نـقشـه
مـکـه شـولـه بـدلـه شـوه مـکـه مکـرمـه
رڼـا شـو هـر طـرف تـه دَ دُنیـا هـغـه تـورتـم
بـدل پـه مـحـمـد ﷺ سـره حـالات شـول دَ عـالـم
هـرچـا کښـي راپیـدا شوه اے احـمده ! ښـهٔ جذبـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکه شوله بدله شوه مکه مکرمه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قدم په خيال اُوچتوه دا دَ محبوب کلے دے
دَ محمد خير الابرار ﷺ دے دَ مطلوب کلے دے

په بازارونو او کوڅو کښې کله گرځے چې تهٔ
د دې وطن په باغيچو کښې کله گرځے چې تهٔ
خيال کوه خيال دغه تسکين ددې قلوب کلے دے
دَ محمد خير الابرار ﷺ دے دَ مطلوب کلے دے

هر يو قدم ښهٔ په مزه او په سکون سره ږده
دغه په مينه محبت په ښهٔ جُنون سره ږده
هغه عالي ليکلے شوے دا مکتوب کلے دے
دَ محمد خير الابرار ﷺ دے دَ مطلوب کلے دے

ذَره ذَره ئې دَ نبي ﷺ په محبت گواه ده
ذَره ذَره ئې دَ نبي ﷺ په رسالت گواه ده
پاك نبي ﷺ ته په هر نسبت سره منسوب کلے دے
دَ محمد خير الابرار ﷺ دے دَ مطلوب کلے دے

ياران په دې کښې دَ رسول الله ﷺ وسيږي ښکلي
په دې خبره دې گواه وائي احمد دا کلي
دا دَ سعدؓ او دَ سلمانؓ او دَ ايوبؓ کلے دے
دَ محمد خير الابرار ﷺ دے دَ مطلوب کلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

رِبَـه! پـه دې سـتـرګـو راتـه ګل دَ جهـان اُوښـايـه
اُوښـايـه وطـن راتـه دَنُـور او عـرفـان اُوښـايـه
اُوښـايـه وطـن راتـه دَ سيَـدالابـرار نبـي ﷺ
اُوښـايـه چـمـن راتـه دَ سيَـدالابـرار نبـي ﷺ
رِبَـه پـه دې سـتـرګـو راتـه هغـه مـكـان اُوښـايـه
اُوښـايـه وطـن راتـه دَنُـور او عـرفـان اُوښـايـه
اوښـايـه مـزار راتـه دَ سيَـدالـورئ نبـي ﷺ
اوښـايـه دربـار راتـه دَ سيَـدالـورئ نبـي ﷺ
رِبَـه! ددې زړهٔ راتـه سـكـون اطـمـيـنـان اُوښـايـه
اُوښـايـه وطـن راتـه دَنُـور او عـرفـان اُوښـايـه
اوښـايـه يـاران راتـه دَ احسـن الـورئ نبـي ﷺ
اُوښـايـه يـاران راتـه دَ نُـور بـدالـدجـئ نبـي ﷺ
رِبَـه! پـاك وطـن راتـه دَ حـضـرت عـثـمـانؓ اُوښـايـه
اُوښـايـه وطـن راتـه دَنُـور او عـرفـان اُوښـايـه
اُوښـايـه لـعـلـونـه دَ رسـول ﷺ دَ پـاك وطـن راتـه
اُوښـايـه ګـلـونـه دَ رسـول ﷺ دَ پـاك چـمـن راتـه
رِبَـه! تـهٔ احـمـد تـه دغـه در عـاليـشـان اُوښـايـه
اُوښـايـه وطـن راتـه دَنُـور او عـرفـان اُوښـايـه

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ربّه ! په دې سترګو راته ښکلے جانان اُوښايه
اُوښايه محبوب راته دَ هر مسلمان اُوښايه
چا بانديې عاشق چې هر بشر دے دَ دُنيا دَ در
چا بانديې عاشق چې بحروبر دے دَ دُنيا دَ در
ربّه ! هغه زړۀ راته دَ هريو انسان اُوښايه
چا سره چې مينه په دُنيا کښې دَ اشجارو وه
چا سره چې مينه په دُنيا کښې دَ احجارو وه
ربّه ! په دُنيا راته هغه مهربان اُوښايه
چاسره چې مينه حيواناتو دَ دُنيا کړه
چاسره چې مينه دَ صحرا ټولو ذرّاتو کړه
ماته په دې سترګو هغه ښکلے انسان اُوښايه
چاسره چې مينه کافرانو دَ دُنيا کړله
چا سره چې مينه مشرکانو په هرخوا کړله
ربّه ! ددې زړونو راته هغه سلطان اُوښايه
چا سره چې مينه اے احمده ! عربيانو کړه
چا سره چې مينه په عجم کښې عجميانو کړه
ربّه ! په دې سترګو راته هغه ذيشان اُوښايه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لاړ به زۀ يو وار دَ مدينې په طرف شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړ به د نبي ﷺ دَ لار کوڅي په طرف شم
رب ته که منظوره په جهان باندي وي دا
رب ته کۀ منظوره په يو اٌن باندي وي دا
لاړ به د دُنيا ددي حصي په طرف شم
لاړ به زۀ يو وارد مديني په طرف شم
رب ته کۀ منظوره وي ليکلے په تقدير وي
رب زما ليکلے کۀ ديدن دَ نُور بشير وي
لاړ به دَ نبي ﷺ دَ باغيچي په طرف شم
لاړ به زۀ يو وارد مديني په طرف شم
رب ته کۀ منظوره وي ديدن د دغي ښار
رب تۀ کۀ منظوره وي ديدن دَ پاك مزار
لاړ به دَ رسول ﷺ ښکلي روضي په طرف شم
لاړ به زۀ يو وارد مديني په طرف شم
رب تۀ کۀ منظوره وي اورحم کړې په ما
دلته کښي زما دَ زړۀ پوره شي التجا
لاړ به زۀ احمد دَ نُور جلوي په طرف شم
لاړ به زۀ يو وارد مديني په طرف شم

دَ بدعت نقصان

بدعت دَ انسانانو هريو کور تباه کوي
دُنيا کښي هر انسان په هريو لور تباه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بـدعـت کښـي فـائده نشتـه دَ انسـان دَ پـاره دلتـه
بـدعـت کښـي فـائده نشتـه مسلـمان دَ پـاره دلتـه

بـدعـت دغـه دُنيـا کښـي سپين اوتـور تبـاه کـوي
دُنيـا کښـي هـرانسـان پـه هـريـو لـور تبـاه کوي

بـدعـت لـويـه ګـنـاه ده داسـي وائـي عـالـمـان
بـدعـت لـويـه ګـنـاه ده داسـي وائـي ټـول جهـان

بـدعـت دَ انسـانـانـو دغـه ګـور تبـاه کـوي
دُنيـا کښـي هـرانسـان پـه هـريـو لـور تبـاه کوي

بـدعـت دَ شـرك نـه پاس لـويـه ګناه سره يادېږي
بدعـت تـوري تيـري سره هرځائے کښـي بيانيـږي

بـدعـت دے اور دے اور انسـان دا اُور تبـاه کـوي
دُنيـا کښـي هـرانسـان پـه هـريـو لـور تبـاه کوي

بـدعـت پـه حـقيـقـت کښـي پـه اسلام ده اضافـه
بـدعـت پـه شـريـعـت کښـي دَ حـرام ده اضـافـه

احـمـد عـلـي بـدعـت هـريـو پـه زور تبـاه کـوي
دُنيـا کښـي هـرانسـان پـه هـريـو لـور تبـاه کوي

وعظ ونصيحت

خـوشبـو ده پـه دُنيـا دَ هـريـو ګـل جُـدا جُـدا
خـوشبـو لـري دُنيـا کښـي هـر محـفـل جُـدا جُـدا
اصـحـابٌ دَ محـمـد ﷺ دي پـه جهـان دَ رڼا سـتـوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

انوار لري دوی دلته کښې تول خپل جُدا جُدا
سنت او په بدعت کښې ډیر دے فرق په جهان
اثـر دے دَ هـر وعظ او کنځل جُدا جُدا
بدلـه ده په محشر کښې دَ دُنیا دَ هـر عمل
ثواب شته دے جـزا دَ هـر عمل جُدا جُدا
ازغي او دَ ګلابو دے جُدا جُدا اثر
ممتاز په خپل صفت سره دی تل جُدا جُدا
احمد علی دُنیا کښې دَ هر خیز دے خپل اثر
دا سترګي وی یو ي خو وی کتل جُدا جُدا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

غواړه دَ خپل ربّ نه مدینه دَ مصطفیٰ ﷺ کلے
غواړه په دُنیا کښې دَ دُنیا دغه اعلیٰ کلے
دلته کښې صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ علی حیدرؓ وُسی
دلته کښې ښائسته ښکلی یاران دَ پیغمبر ﷺ وُسی
غواړه دَ مولیٰ نه دَ دُنیا دغه رښا کلے
غواړه په دُنیا کښې دَ دُنیا دغه اعلیٰ کلے
دا کُور دَ حسن حسینؓ دے کلے دَ حضرت بلالؓ
ښکلے دے په دُوی کښې هریو ګل دے هریو باکمال
نشته نشته دغه شان دُنیا کښې په یو خوا کلے
غواړه په دُنیا کښې دَ دُنیا دغه اعلیٰ کلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته کښې موجود دي هم دَ وحی برکات دَ ربَ

دلته کښې موجود دي هم دَ وحی انوارات دَ ربَ

دغه شان به نهٔ وی بل ښائسته پـه دې دُنيا کلے

غواړه پـه دُنيـا کښې دَ دُنيـا دغـه اعلىٰ کلے

هر ساعت وريږی کور په کور دلته رحم وکرم

خوش دے دغه در هم دَ عرب او ددې تهول عجم

اے احمده ! دلته ذکر کړے تا دے دا کلے

غواړه پـه دُنيـا کښې دَ دُنيـا دغـه اعلىٰ کلے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ مدينې ښائسته جانانه ﷺ! ستا امَتی يمه زهٔ

جُدا چې مانهٔ کړے له ځانه ! ستا امَتی يمه زهٔ

تهٔ ئې محبوب دَ ربَ منان

تهٔ ئې محبوب دَ تهول جهان

ګرانه حسينه قدردانه ! ستا امَتی يمه زهٔ

دَ مدينې ښائسته جانانه ﷺ! ستا امَتی يمه زهٔ

ته هر مؤمن له نُور رڼا ئې

تهٔ هم خاتم الانبياء ﷺ ئې

دَ سلطانانو اے سلطانه ! ﷺ ستا امَتی يمه زهٔ

دَ مدينې ښائسته جانانه ﷺ! ستا امَتی يمه زهٔ

تهٔ دَ هر چا سيورې رحمت ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــــهٔ مـــجسَــمـــــــه دَ مـــحبـــت ئـــي

کـريـم دے ذات ستا مهربانه ! ﷺ ستا امَتي يمه زهٔ

دَ مديني ښائسته جانانه ﷺ ! ستا امَتي يمه زهٔ

دَ امـــــامــــــانـــو تـــــــهٔ امـــــام ﷺ ئـــي

د دي دُنيـــــا مـــــــاهِ تـــــمــــــــام ئـــــي

نمر په دُنيا کښي ئي روښانه ! ﷺ ستا امَتي يمه زهٔ

دَ مديني ښائسته جانانه ﷺ ! ستا امَتي يمه زهٔ

شـــفيـــع پـــــه ورځـــي دَ مـــحشـــر ئـــي

ســـاقـــی مـــحشـــر کښـــي دَ کـــوثـــر ئـــي

دوست دَ مولیٰ غنی سبحانه ! ستا امَتي يمه زهٔ

دَ مديني ښائسته جانانه ﷺ ! ستا امَتي يمه زهٔ

تـــــهٔ لـــــه هـــرچـــا نــــه ښــــهٔ اوچـــت ئـــي

تـــــهٔ مـــجـــمـــوعـــــه دَ هـــر صـــفـــت ئـــي

اے دَ هـــرچـــا دَ زړهٔ ارمـــانـــه ! ستـــا امَتـــي يمـــه زهٔ

دَ مديني ښائسته جانانه ﷺ ! ستا امَتي يمه زهٔ

احـــمـــد ستــــا ذکـــر بـــــار کـــړي

ذکـــر دے دلتــــه کښـــي دَ ښـــار کـــړي

اے نـوراني صـفـت انسانـه ! ستا امَتي يمـه زهٔ

دَ مديني ښائسته جانانه ﷺ ! ستا امَتي يمه زهٔ

★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قدم په خیال اُوچتوه دَ پیغمبر ﷺ کلے دے
دَ دلبرانو په دُنیا کښې دَ دلبر ﷺ کلے دے

دغه کوڅې او بازارونه چې ښائسته دي ښکلي
د دغې در دغه څیزونه چې ښائسته دي ښکلي
څکه چې دا دَ محبوبانو دَ افسر کلے دے
دَ دلبرانو په دُنیا کښې دَ دلبر ﷺ کلے دے

ښه په مزه مزه مزل په دغه لارو کوه
دا رنګ حیا سره کتل په دغه لارو کوه
څکه چې دا دَ رهبرانو دَ رهبر کلے دے
دَ دلبرانو په دُنیا کښې دَ دلبر ﷺ کلے دے

دلته روضه دَ محمد خیر الابرار ﷺ ښکلي ده
هره کوڅه دَ محمد خیر الابرار ﷺ ښکلي ده
دا دَ صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ او دَ حیدرؓ کلے دے
دَ دلبرانو په دُنیا کښې دَ دلبر ﷺ کلے دے

په تذکره ئې نۀ مړیږی عاشقان خلق
په تذکره ئې نۀ مړیږی دَ جهان خلق
احمده! دغه دُنیا کښې معطَر کلے دے
دَ دلبرانو په دُنیا کښې دَ دلبر ﷺ کلے دے

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظم

ځوك چې دَ نيكۍ كارونه نهٔ كوي
هغه په دُنيا كښې دلته څهٔ كوي
ځوك چې دَ شيطان په لاره تلل كوي
ځوك چې دَ نقصان په لاره تلل كوي
دا كارونه دلته كښې تول خرهٔ كوي
ځوك چې دَ نيكۍ كارونه نهٔ كوي
ځوك چې دَ بدعت سره كوي مينه
ځوك چې دَ ظلمت سره كوي مينه
داسے كار دُنيا كښې هر اُودهٔ كوي
ځوك چې دَ نيكۍ كارونه نهٔ كوي
ځوك چې دَ ګناه په لاره تلل كوي
ځوك چې دَ ګمراه په لاره تلل كوي
دغي باندي هريو شيطان زړهٔ كوي
ځوك چې دَ نيكۍ كارونه نهٔ كوي
ځوك چې دَ نفرت سره كوي مينه
ځوك چې دَ بدعت سره كوي مينه
اے احمده! كار دغه تول غلهٔ كوي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

تا سره روښانه دَ مكي مديني ښارشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــا ســره روښــانــه مـديـنــه کښې هـر دربـار شـو

تـــا ســـره روښـــانـــه شــوه فــضــا دَ مـديـنــي بــره

تــا ســـره روښـــانــه شوه فضـا دَ هــر کـوڅــي بــره

تـــا ســـره روښـــانـــه خــوشبــودار هــر ګـلـزار شـو

تــا ســـره روښـــانـــه دَ مــکـــي مــديـنـي ښـار شـو

تـــا ســـره روښـــانـــه شــول انـصـــار دَ مـديـنــي دَ در

تـــا ســـره روښـــانـــه شـو دُنيـا کښـي دَ دُنيـا بشـر

هـر ځـــائـــے ستـــا وجـود سره خزان پسـي بهـار شـو

تــا ســـره روښـــانـــه دَ مــکـــي مــديـنـي ښـار شـو

تــاســـره رخــصــت دَ جهــالـت شـولي تيـاري تهـولي

تــاســـره رخــصــت دَ ضـلالـت شـولي تيـاري تهـولي

تــا ســره دُنيـا کښـي بـي ايـمــانــه ايمـاندار شـو

تــا ســـره روښـــانـــه دَ مــکـــي مــديـنـي ښـار شـو

تــا ســـره رڼــا دَ شــريـعــت شــوه پـــه جهـان خـوره

تـــا ســـره رڼـــا دَ هـدايـت شــوه پـــه جهـان خـوره

تــا ســره مشـرك لــه خپـلـه شرکـه تـوبـه ګـار شـو

تــا ســـره روښـــانـــه دَ مــکـــي مــديـنـي ښـار شـو

تـــا ســـره وفـــا حيـــا پـــه هـر طـرف خوره شـولـــه

حــقـــه دَ قـــرآن ويـنـا پــه هـر طـرف خـوره شـولــه

هـــريــو دَ قـــرآن ســنـــت پـوره ښــۀ تــابعدار شـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـا سـره روښـانـه دَ مـکـي مـدینـي ښـار شـو
تـا سـره هـر کـور دَ بـدعتیـانـو ټـول تبـاه شـولـو
کـور پـه دې جهـان کښـې ټـول تبـاه دَ هر ګمراه شـولـو
اے احـمـده ! هـر سـړی نـه جوړ پوره دینـدار شـو
تـا سـره روښـانـه دَ مـکـي مـدینـي ښـار شـو

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـا سـره دا ژونـد زمـا ښـائسـتـهٔ پـه هـره لار شـو
جوړ لـکـه سـحـر غـونـدې ښـائسـتـهٔ پـه هریو دار شـو
تـاسـره ژونـدون مـې پـه هـر لـور بـاندې ښـائسـتـهٔ شـولـو
تـاسـره ژونـدون مـې دَ ګـلـونـو ګـلدسـتـه شـولـو
سـتـا پـه شـریـعـت بـاندې مـې ژوند لـکـه ګلزار شـو
جوړ لـکـه سـحـر غـونـدې ښـائسـتـهٔ پـه هریو دار شـو
سـتـا پـه طـریـقـه بـاندې ښـائسـتـهٔ پـه هریو در شـولـو
سـتـا پـه طـریـقـه بـاندې ښـائسـتـهٔ شـو منوَر شـولـو
سـتـا پـه طـریـقـې سـره مـې ژونـد کښـې زوړ بهـار شـو
جوړ لـکـه سـحـر غـونـدې ښـائسـتـهٔ پـه هریو دار شـو
سـتـا پـه طـریـقـه بـاندې لائـق دَ هـر صـفـت شـولـو
سـتـا پـه طـریـقـه بـاندې لائـق دَ هـر جـنـت شـولـو
سـتـا پـه طـریـقـه بـاندې نـادانـه هـم هـوښـيـار شـو
جوړ لـکـه سـحـر غـونـدې ښـائسـتـهٔ پـه هریو دار شـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په طریقه باندې لائق دَ محبت شولو
ستا په طریقه باندې لائق دَ هدایت شولو
ستا په طریقه باندې احمد هم خوشبودار شو
جوړ لکه سحر غوندې ښائسته په هریو دار شو

رباعی

زهٔ په سنت کښې خوشبوئی محسوسوم
په هر بدعت کښې بدبوئی محسوسوم
دَ شیطان لاره ده کمزوري ډیره
په دینداری کښې مضبوطی محسوسوم
ناکامی وینم دَ ابلیس په لار کښې
دَ ربَ په لار کښې کامیابی محسوسوم
تیرې په لار کښې دَ ګناه دَ وینمه
رڼا سنت کښې ابدی محسوسوم
لاره کږده دَ شیطان ښکاری ماته
په دغه لاره کښې بدی محسوسوم
دَ قرآن لاره نیغه لاره ښهٔ ده
په دغه لاره کښې نیکی محسوسوم
احمد زهٔ خیر په هر سنت کښې وینم
زهٔ په دې لاره بندګی محسوسوم

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکارے راتـه ښکـارے تـۀ ذَرۀ ذَرۀ په ائینه کښې
ښکـارے تصوَر کښـې راتـه تـۀ پـه مدينه کښې

ښکـارے تـصـوَر کښـې راتـــه دلتـه مـخـامـخ
ښکــارے پـــه هـر درکښـې راتـــه دلتـه مخـامـخ
ښکـارے دَ نيـکـئ راتـه پـه هريوه جملـه کښې
ښكـارے تصوَر كښـې راتـه تـۀ پـه مدينه کښې

ښکـارے تـصـورکښــي راتـــه بـره پـــه اَسمـان
ښکــارے تـصـور کښـــې راتـــه نمــر ددې جهـان
ښکـارے راتـه ښکـارے دَ نبيـانو گلدسته کښې
ښكـارے تصوَر كښـې راتـه تـۀ پـه مدينه کښې

ښکــارے تـصـور کښــې راتـــه نُور دَ کـائنـات
ښکـارے تـصـور کښـي راتـــه نُور دَ ټول جهـات
ښکـارے راتـه هـرځـائے دَ انوارو پـه چينـه کښې
ښكـارے تصوَر كښـې راتـه تـۀ پـه مدينه کښې

ښكـارے راتـه ښكـارے پـه مكـان او لامكـان كښې
وائـــې احـمـد وائـي راتـه ښـکـارے پـه قـراَن کښې
ښکـارے راتـه ښکـارے دَ قـراَن هـره صفحه کښې
ښكـارے تصوَر كښـې راتـه تـۀ پـه مدينه کښې

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

غوره په دُنیا کښې دَ هر چا نه بهترین دے
دغه محمد عربی ﷺ ښکلے دے حسین دے

هر چا نه اُوچت دے مرتبه کښې دَ دُنیا دَ در
پس له آخرین نه مرتبه کښې اوّلین دے

نُور رنا دُنیا کښې په دُنیا کښې دَ هر چا د در
یاد په مُرسلانو کښې امام المرسلین ﷺ دے

یاد دَ هر بشر دَ پاره سیورے دَ رحمت دے تهول
ربَ ورکړې د دُنیا ښکلے ائین دے

سیورے دَ شفقت دے په دُنیا کښې هر یتیم لره
هر ځائے کښې غمخوار دَ هر غریب هر یو مسکین دے

یاد ښکلی اخلاقو سره در په در یادیږی هم
یاد په مرُسلانو کښې خاتم النبیین ﷺ دے

پاس له هر آسمانه ربَ له تلے ملاقات لره
دغه عقیده لره مه دغه مې یقین دے

کله مزمّل سره او کله مدثر سره
یاد دغه قرآن کښې په طٰهٰ او په یٰسین دے

شافع محشر هغه دے ساقی کوثر نبی ﷺ
یاد په هر محفل کښې په محبوب دَ ربَ متین دے

هر ځائے پکاریږی دَ احمد علی وینا ده دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

باعثِ نجات ئي په دُنیا کښي دغه دین دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چي دَرسول ﷺ په لاره تلۀ کوي
هغه همیشه به دلته ښۀ کوي
څوك چي دَنبي ﷺ سره کوي مینه
څوك چي مدني ﷺ سره کوي مینه
کار دَهر نیکی به ښۀ په زړۀ کوي
څوك چي دَرسول ﷺ په لاره تلۀ کوي
څوك چي دَنبي ﷺ په لاره تلل کوي
کار چي دَنبي ﷺ دَرضا تل کوي
فکر دَمحشر په ورځ دَ څۀ کوي؟
څوك چي دَرسول ﷺ په لاره تلۀ کوي
څوك چي دَنبي ﷺ سره وفا کوي
څوك چي دَرسول ﷺ ښۀ اقتدا کوي
دغه کار دُنیا کښي ژوندے زړۀ کوي
څوك چي دَرسول ﷺ په لاره تلۀ کوي
څوك چي دَنبي ﷺ په ادا ګانو مري
څوك چي دَنبي ﷺ په وینا ګانو مري
غم به دَمحشر دَورځے نۀ کوي
څوك چي دَرسول ﷺ په لاره تلۀ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوك چي دَ سنت سره كوي مينه
څوك چي دَ بدعت سره ساتي كينه
اے احمده! څوك چي ښۀ كاتۀ كوي
څوك چي دَ رسول ﷺ په لاره تلۀ كوي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ په صحرا كښي دَ بدعت ازغی له سر ماتوم
بدبوداربوټي دغه هر ځائے په هر در ماتوم
زۀ په هر خير سره هر شر ددې جهان ختموُم
زۀ په سنت سره هر كانړے دَ ضرر ماتوم
زۀ په رڼا دَ شريعت سره تيري ختموُم
دَ بې ديني په دې جهان هر يو حجر ماتوم
دَ عاجزی پيغام خورول زما مقصد دے دلته
زۀ دَ غرور په سرولاړ دلته هر غر ماتوم
زۀ دَ شيطان لعين دُنيا كښي هر مكان غُرځوُم
دغه مكان زۀ هر سحرا و مازيګر ماتوُم
كار دَ بدعت نه مې نفرت دے احمد وائی دغه
شاخ دَ ضرر زۀ په دُنيا دَ هر شجر ماتوُم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ بدعتيانو په دُنيا كښي ملګرتيا مۀ كوه
دَ شيطانانو سره هيڅ كله وفا مۀ كوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ هـــر ســنـــت رڼـا ســره دلتــه سـفــر كـوه تـل
دَ شـــريـعـــت رڼـا ســره دلتـه سـفـر كـوه تـل
چي مونځ كوے نو مونځ كښي هيڅ كله بيا غلا مۀ كوه
دَ شيـطــانـــانـو ســره هيـڅ كـلـه وفـا مـۀ كوه
پـه طـريـقــه دَ مـحـمد رسول اللّٰه ﷺ تـل وُسـه
پـه طريقـه دَ مـصطفىٰ نورالهُدىٰ ﷺ تـل وُسـه
كـارونـه هيـڅ كـلـه دُنيـا كښـي دَ ريـا مـۀ كوه
دَ شيـطــانـــانـو ســره هيـڅ كـلـه وفـا مـۀ كوه
هـره ادا دَ مــحــمـد رســول الـلّٰـه ﷺ نـقـل كـړه
وفـا حيـا دَ مـحـمـد رسـول الـلّٰـه ﷺ نقل كـړه
دُنيـا كښـي هيـڅ كـلـه عبـث هسـے خـنـدا مۀ كوه
دَ شيـطــانـــانـو ســره هيـڅ كـلـه وفـا مـۀ كوه
وايـــه قــرآن دغــه قــرآن دے هـر بشـر لــه رڼـا
وايـــه قــرآن دغــه قــرآن دے هـريـو در لـــه رڼـا
پـه خپـل ايـمـان بـانـدي دَ شـرك ســره سودا مۀ كوه
دَ شيـطــانـــانـو ســره هيـڅ كـلـه وفـا مـۀ كوه
كـــارونــه هــريـو دَ اسـلام او شـــريـعـــت كـوه تـل
احـمـده ! كـار پـــه دي جهــان دَ نُـور سنت كـوه تـل
صـحيـح ويـنـا كـړه پـه دُنيـا بده ويـنـا مـۀ كوه
دَ شيـطــانـــانـو ســره هيـڅ كـلـه وفـا مـۀ كوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بدعتي به په هر در تېکري خوري
لعنتي دغه بشر تېکري خوري

چي سنت ته کوي سپك نظر دُنيا کښي
دَ دُنيا دغه بدتر تېکري خوري

دَ نبي ﷺ په طريقه چي عمل نهٔ کړي
دا بشر به برابر تېکري خوري

دَ قرآن دَ نور نه لرے چي څوك وُسي
په دُنيا کښي په لر بر تېکري خوري

دَ شيطان سره دَ چا چي ملګرتيا وي
دا بشر په بحروبر تېکري خوري

د کفارو په تولګي کښي چي کړي ناسته
دوي سحراو مازيګر تېکري خوري

اے احمده! لرے وُسه له شيطانه
ماليدلي په نظر تېکري خوري

نظم

مؤمن شيطان سره وفا نهٔ کوي
مونځ کښي دَ مونځ نه هغه غلا نه کوي

کار دَ نيکي په دي جهان کښي کوي
غلط کارونه په دُنيا نهٔ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ هــــر ســــنــــت ســــره ددۀ وي ميــنــــــه
دَ بــــدعتيــــانــــو مــــلــــګـــرتيــــا نــــــۀ کــــوي
رنګ دَ اســــلام ئــــي پــــــه وجــــود بــــانــــدې وي
کــــارونــــــــه هــــغــــــه نــــاروا نــــــۀ کــــوي
دَ کــــافــــرانــــو ســــره نــــــۀ کــــړي وفــــا
کــــار پــــــه دُنيــــا کښــــي دَ بــــلا نــــــۀ کــــوي
احــــمــــده ! ميــــنــــــه دَ نبــــي ﷺ ســــره کــــړي
دَ خپــــل مــــولــــىٰ ســــره جــــفــــا نــــــۀ کــــوي

دَ بدعت مذمت

څوك چي دَ بدعت دَ ضلالت پــه اور کښي سَوزي
داســے بشر هر ځــائــے دَ لعنــت پـه اُور کښي سوزي
څوك چي د بدعت پـه ګـنـدګـۍ کښي مبتـلا دي
داسے خلق هـر ځـائـے دَ ذلت پـه اُور کښي سوزي
څوك چي دَ بدعت نـه نفـرت نـۀ کړي په دُنيا کښي
دغـه خلق هر ځـائـے دَ غفلت پـه اُور کښي سوزي
څوك چي دَ بدعت او بدعتي سره وفا کړي
هر ځائـے کښي دوي تول دَ ملامت په اُور کښي سوزي
څوك چي په سنت او پـه بدعت کښي فرق نۀ کړي
اے احمده ! دوي دَ هر ظلمت پـه اُور کښي سوزي

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تصوّر کښې چې تاجدار ﷺ راسره نۀ وي
داسې ښکاري چې بهار راسره نۀ وي
دَ شيطان په لاربه هله زۀ روان شم
چې دَ زړۀ سکون قرار راسره نۀ وي
دَ نفرت سره دوستي به هله کومه
چې دَ دوجهان دلدار راسره نۀ وي
دَ نقصان په لاربه هله سفر کومه
چې رهبر خيرالابرار ﷺ راسره نۀ وي
دَ دوا نه به زۀ هله شم محرومه
چې طبيب عالي غمخوار راسره نۀ وي
په کږه لاربه زۀ هله سفر کومه
چې رهبر دَ نيغي لار راسره نۀ وي
دَ محشر په ورځ به هله فکر کومه
چې شفيع د دغي دار راسره نۀ وي
دَ محشر په ورځ به هله تږے کيږم
چې محبوب دَ ربّ غفار راسره نۀ وي
په دي هرڅه باندي څۀ به کړم احمده!
چې دَ دوجهان سردار ﷺ راسره نۀ وي

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ما دي جوړ کړې دَ شعرونو محل
دَ مصطفیٰ ﷺ دَ صفتونو محل
دَ محل هریو ځائې ښائسته ښکلې دې
دا دَ نبي ﷺ دې دَ نعتونو محل
هریو مقام په کښې اعلیٰ اوچت دې
دا دَ مرجان دې دَ لعلونو دَ محل
په دې محل کښې خوشبوئي خورې دی
دا دي قسم دې دَ ګلونو محل
دَ زړه سکون په دې محل کښې پروت دې
دا دَ نبي ﷺ دې دَ يادونو محل
په دي خوشحاله زۀ دُنيا کښې يمه
دا دَ احمد دې دَ خيالونو محل

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

شته دې دَ نبي ﷺ په هر سنت باندي مئين
شته دې دَ نبي ﷺ په شريعت باندي مئين
شته دې په بدعت باندي مئين خلق هم ډير
شته دې دَ ابليس په شرارت باندي مئين
شته دې دَ کفارو مشرکانو يوه ډله
شته دغه مخلوق په ضلالت باندي مئين

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته دے هم نيکان او صالحان ددې جهان
خلق شته دے ډير په هدايت باندې مئين
اے احمده ! رنګ په رنګ دَ خلقو دی دا ډلې
شته داسے کسان په نصيحت باندې مئين

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چا اغوستے چې دَ دين ښائسته لباس دے
خورم قسم چې په دُنيا کښې هغه پاس دے
ښائسته ګڼړے چا لباس چې په سنت دے
قدرمند دغه هر فرد دَ جن او ناس دے
چا قرآن او په سنت چې عمل کړے
بهترين دے چې بچ شوے له وسواس دے
يو ائين ددې جهان دَ ټول ژوندون دے
دا قرآن دے چې دَ چا سره په لاس دے
اے احمده ! هر بُنياد د دين ښائسته دے
دَ قرآن حديث اجماع سره قياس دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

طريقه چې دَ سنت درسره نۀ وی
شوې ناکام چې شريعت درسره نۀ وی
هغه وخت به په دُنيا کښې کاميابيږے
چې تيرې دَ شر بدعت درسره نۀ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت به ناکامي وي ستا نه لرې

چې کارونه دَ ذلت درسره نۀ وي

ستا مقام به په جنت کښې ښۀ اعلیٰ وي

بې ریا چې عبادت درسره نۀ وي

ناکامي به ستا دَ لارې نه کړي تیختهٔ

چې دَ زړۀ کور کښې نفرت درسره نۀ وي

دَ شیطان لعین به هر ځائے کښې دښمن ئې

چې غصه او بد عادت درسره نۀ وي

دَ هر چا به په دُنیا باندې دُښمن ئې

چې توښه دَ محبت درسره نۀ وي

دَ مخلوق سره ستا تعلق نۀ وي

چې صفت دَ سخاوت درسره نۀ وي

لوئې مقام به دَ جنت وي ستا نه لرې

دَ قرآن چې تلاوت درسره نۀ وي

اے احمده! رحمت هله به دا ستا وي

چې کار دلته دَ لعنت درسره نۀ وي

دَ سنت اهمیت

په هر سنت سره بدعت ختمیږي

په دغې نور سره ظلمت ختمیږي

دغه طاقت دغه رڼا دَ بشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــه دغــي هــريــو حــمــاقــت ختــمــيــږي
دغـــــه ســـكـــون او اطـــمـيـــنـــان دَ بشـــر
پـــه دغـــي شـــر او شيـــطـــانــت ختــمـيـــږي
دغـــــــه عـــــلاج ددي دُنيــــا دَ بشـــــر
دَ هـــــريـــــو در پـــــه دي ذلـــت ختــمـيـــږي
دا نــصـيــحــت دَ هــر مــؤمــن مسـلـمـــان
پـــه دغــي هــر ځـــائـــے عـداوت ختــمـيــږي
دغـــــه رهبــــر اور هــــنــمـــا دَ جهـــان
دَ زړهٔ پـــــه دغـــي شـــقـــاوت ختــمـيــږي
ســنــت دي خيــر تــول ســراســر دَ جهـــان
پـــه دي احــمــده ! هــر لــعــنــت ختــمـيـــږي

سنت او بدعت

زهٔ پــه سـنتـو خپـلــه تـنـده پـه هـر در ختـمـوم
دَ خپـل وجـود نــه دَ بـدعــت هـريـو اثـر ختـموم
دَ بـدعتيـانـو نـــه نـفـرت پـه هـريـو در كـوومـه
زهٔ دَ دُنيــا نـــه پــه دُنيـا كښـي دغــه شـر ختـموم
كــارونــه مــا بـــانـدي تـول بد دَ بدعتيـانـو لگـي
زهٔ دَ دُنيـــا د دي وجـــود نــــه دا زهــر ختــمــوم
دا مشــغــلـــه زمــا دُنيــا كښـي دَ دُنيــا پـــه درده
زهٔ دا بـدعــت دلتــه سحـــر او مـــازيگـر ختـموم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ګـنـدګـې ددې جهـان ده کـۀ پوهـيـږې پـه دې
دا ګـنـدګـې بـه ددُنيـا نـه سراسـر ختمـوُم
دا اراده ده کـۀ ربَ اُغـواړی احـمـد علـې ستـا
دَ شيـطـانـانـو بـه دَويخ نـه دغـه شر ختموُم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ چـې ستـا صـفـت تـه دَ جهـان ګـورم
داسـې ده چـې بـره زۀ آسـمـان ګـورم
بـره پـه آسـمـان کښـې رڼـا ستـورې دې
زۀ چـې ستـا ښـائستـۀ ښـائستـۀ يـاران ګـورم
بـلـه پـه جهـان کښـې ډيـوه بـلـه ده
زۀ چـې مـديـنـه کښـې ستـا مـکـان ګـورم
ښـکـلـې پـه کښـې ستـا راتـه اخلاق ښکـارې
زۀ چـې تـلاوت کـوُم قـرآن ګـورم
ستـا ښـکـلـې صـورت راتـه يـاديـږې پـرے
زۀ چـې پـاس قـمـر بـره روښـان ګـورم
مـاتـه ستـا دَ حُسـن نـظـاره ښـکـارې
زۀ چـې کـلـه ګـل دَ ګـلستـان ګـورم
تـول لـکـه لـعـلـونـه پـه جهـان کښـې دې
زه چـې ستـا ښـائستـۀ ښـکـلـے بيـان ګـورم
تـا نـه چـې زاريـږې احـمـد وائـې تـل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ په دغي خلقو کښي خپل ځان ګورم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تابانديعاشق هريو انسان وينم
ستا مينه کښي خلق بنديوان وينم
ستا وينا دا خلق را يو کړي دي
تا سره دَ ميني هر بيان وينم
ستا په هر ادا باندي مئين خلق
تا سره ښائسته ښائسته ياران وينم
ستا په هر محفل کښي خوشبودار خلق
تا سره ګلونه دَ جهان وينم
تا سره وفا حيا اليدلي ما
تا سره ښائسته ښکلي قرآن وينم
تا سره ښائسته ښکلي اخلاق دي هم
ستا صفت دَ رحم مهربان وينم
زۀ احمد به ولُي ستا نه زار نشم
تا سره زۀ مينه دَ رحمان وينم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وختونه دَ نبي ﷺ دَ مديني راته ياديږي
انوار دَ مصطفیٰ ﷺ دَ کور کوڅي راته ياديږي
انوار دَ کور کوڅي دَ مصطفیٰ ﷺ دَ ښکلي ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

انوار دَ مُرسلانو دَ نبيانو دَ تاجدار ﷺ
قسم دے دَ دي در دا نظارې راته يادېږي
انوار دَ مصطفىٰ ﷺ دَ كور كوڅي راته يادېږي
انوار دَ محمد ﷺ ترينه خوارهٔ دي په جهان
انوار دَ محمد ﷺ ترينه خوارهٔ دي عاليشان
قسم دے په دُنيا دغه ذرې راته يادېږي
انوار دَ مصطفىٰ ﷺ دَ كور كوڅي راته يادېږي
خوشبو سره ترلے هغه خاورهٔ دَ دُنيا
خوشبو سره ترلے هغه خاورهٔ په هر خوا
قسم دے هلته شوي تذكرې راته يادېږي
انوار دَ مصطفىٰ ﷺ دَ كور كوڅي راته يادېږي
دَ ميني محبت سره ترلے هر بيان
احمد علي دُنيا كښي د دې در لري ارمان
جنګلي دَ محمد ﷺ دَ در روضي راته يادېږي
انوار دَ مصطفىٰ ﷺ دَ كور كوڅي راته يادېږي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ګلونه ښكلي ښكلي دَ رسول ﷺ دي په روضه كښي
ګلونه دَ نبي ﷺ دي دَ نبي ﷺ په باغيچه كښي
صديقؓ په صداقت ئې هر بشر دلته ګواه دے
په دې خبره هر ځائے هريو در دلته ګواه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ګل دَ پاك نبی ﷺ دے معطَر په ګلدسته کښې
ګلونه دَ نبی ﷺ دي دَ نبی ﷺ په باغیچه کښې
عدل سره یاد شوے بیا عمرؓ په ټول جهان دے
اسلام دَ پاره نُور دے دَ اسلام دَ پاره شان دے
نبی ﷺ سره یو ځائے دے دَ رسول ﷺ په کُور کوټه کښې
ګلونه دَ نبی ﷺ دي دَ نبی ﷺ په باغیچه کښې
یو ګل ددې ګلونو نه عثمان ابن عفانؓ دے
قسم دے حیاداره ښهٔ سخی ددې جهان دے
ښائسته ښکلے دا ګل دے دَ رسول ﷺ په مدینه کښې
ګلونه دَ نبی ﷺ دي دَ نبی ﷺ په باغیچه کښې
یو ګل دے په ګلونو کښې حضرت علی حیدرؓ
قسم دے په دُنیا کښې داسې نشته بهادر
احمدعلی دا ګل دے دَ دُنیا په یو حصه کښې
ګلونه دَ نبی ﷺ دي دَ نبی ﷺ په باغیچه کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په تا سره ښائسته دَ مکې ښار شولو
په تا سره قسم دے خوشبودار شولو
په تا سره ښائسته شو منوَر شولو
قسم دے ډك له نُوره هریو در شولو
په تا سره هر ځائے بهار بهار شولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه تــا ســره ښــائستـــهٔ دَ مــكــي ښـار شـولـو
پـــه تـــاســـره اُوچـــت شــولــو عـــرب عـجــم
پـــه تـــاســـره ښـائـسـتــهٔ شـولـو دا ټـول عــالـم
پـــه تـــاســـره نـــادانـــه هـم هـوښيــار شـولـو
پــه تــا ســره ښــائستـــهٔ دَ مــكــي ښـار شـولـو
پـــه تـــا ســـره هـــر لاره مـعـطـــره شـــوه
پـــه تـــا ســـره بـــي بـــي حـلـيـمـــهؓ غـوره شـوه
پـــه تـــا ســـره بـــي ديـنـــه هـم ديـنـدار شـولـو
پــه تــا ســره ښــائستـــهٔ دَ مــكــي ښـار شـولـو
پـــه تـــا ســـره فـضـــا بـــره ښـائـسـتـــهٔ شـولـــه
احـمـد وائـــي ښـائـسـتـــه هـــريـو حـصـه شـولـه
پـــه تـــا ســـره تـــائـــب هـــر گـنـــاه گـــار شـولـو
پــه تــا ســره ښــائستـــهٔ دَ مــكــي ښـار شـولـو

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وايـــه ښـــائـسـتـــهٔ ښـــكـــلـــے مـــكـــه ده
دَ پـــاك الـــلّـــه خـــانـــه كـــعـبـــه ده
بـــل طـــرف تـــه دَ مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ كـلـے دے
ښـــائـسـتـــه ښـــائـسـتـــه هـــم مـــديـنـــه ده
پـــه كـښـــي انـــوار دَ رَبّ پـــه در وريـــږي
پـــه كـښـــي انـــوار ښـــهٔ بـــرابـــر وريـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کښي انوار هر يو سحر وريږي

په کښي انوار هر مازيګر وريږي

دا دَ انوارو يو چينه ده

وايه ښائستهٔ ښکلې مکه ده

دَ پاك الله خانه کعبه ده

بل طرف ته دَ مصطفیٰ ﷺ کلې دے

ښائسته ښائسته هم مدينه ده

دلته ګلونه دي اصحابؓ دَ نبي ﷺ

ګلونه تول دي احبابؓ دَ نبي ﷺ

دا دي ګلونه لاجواب دَ نبي ﷺ

دا دي ګلونه دَ ګلاب دَ نبي ﷺ

دا دَ ګلونو ګلدسته ده

وايه ښائستهٔ ښکلې مکه ده

دَ پاك الله خانه کعبه ده

بل طرف ته دَ مصطفیٰ ﷺ کلې دے

ښائسته ښائسته هم مدينه ده

دلته پراته دي رحمتونه دَ ربَ

دلته پراتهٔ دي برکتونه دَ ربَ

دلته پراتهٔ دي نعمتونه دَ ربَ

دلته پراتهٔ دي چمنونه دَ ربَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا قیمتي په هر حصه ده
وایه ښائسته ښکلې مکه ده
دَ پاك الله خانه کعبه ده
بل طرف ته دَ مصطفیٰ ﷺ کلے دے
ښائسته ښائسته هم مدینه ده
دَ حِرا غار دلته عالی مقام دے
دَ ثور دَ غار دَلته کښي احترام دے
زمزم کښي خیر دلته دَ خاص او عام دے
خپور شوے دلته نه مذهب اسلام دے
واورۀ په کښي مزدلفه ده
وایه ښائسته ښکلې مکه ده
دَ پاك الله خانه کعبه ده
بل طرف ته دَ مصطفیٰ ﷺ کلے دے
ښائسته ښائسته هم مدینه ده
غنډۍ صفا او دَ مروۍ دی په کښي
دا نخښاني دَ ربّ مولیٰ دی په کښي
نعري دَ ذکر دَ مولیٰ دی په کښي
احمده ! راشه دلته دا دی په کښي
دَ آخرت یوه توښه ده
وایه ښائسته ښکلې مکه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ پاك الله خانه كعبه ده
بل طرف ته دَ مصطفىٰ ﷺ كلے دے
ښائسته ښائسته هم مدينه ده

قرآن كريم

(قرآن كريم ته دَ حضور ﷺ اخلاق وئيلے شي)

څوك چې په مينه محبت سره قرآن اُولولى
هغه كلام به دَ مولىٰ غنى سبحان اُولولى
دغه لوستلے محمد خير البشر نبى ﷺ دے
دغه لوستلے هم صديقؓ عمرؓ عثمانؓ علىؓ دے
دغه كلام چې څوك په مينه دَ جهان اُولولى
هغه كلام به دَ مولىٰ غنى سبحان اُولولى
دا نازل شوے هدايت له هر بشر دَ پاره
دا نازل شوے سعادت له هر بشر دَ پاره
څوك چې په مينه دا كلام ښهٔ عاليشان اُولولى
هغه كلام به دَ مولىٰ غنى سبحان اُولولى
دا نازل شوے له اسمانه نُور رڼا دَ پاره
دا نازل شوے له رحمانه نُور رڼا دَ پاره
دغه كلام چې دلته پټ اوڅوك عيان اُولولى
هغه كلام به دَ مولىٰ غنى سبحان اُولولى
دا نازل شوے دَ نبيانو په افسر ﷺ باندې دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نازل شوے محمد خیر البشر ﷺ باندې دے
دغه کلام چې په دُنیا کښې یو انسان اولولی
هغه کلام به دَ مولیٰ غنی سبحان اُولولی
هر یو عزت په دې کښې پټ دے هر بشر دَ پاره
احمده! پټ په کښې رحمت دے هر یو در دَ پاره
کله چې دلته دا کلام یو مسلمان اُولولی
هغه کلام به دَ مولیٰ غنی سبحان اُولولی

سنت او بدعت

دَ بدعت نه اے انسانه ځان کړه بچ
په دُنیا کښې دا ختَه نادان کړه بچ
په سنت دَ محمد ﷺ پسې روان شه
دَ شیطان نه دغه خپل ایمان کړه بچ
اطاعت دَ محمد ﷺ کوه دُنیا کښې
ځان دُنیا کښې دَ ابلیس شیطان کړه بچ
خاکساری او عاجزی ډیر لوئې دولت دے
ځان کړه ځان کړه له غرور په جهان بچ
نورانی ده طریقه دَ محمد ﷺ
ځان تورتم نه دَ ابلیس هامان کړه بچ
هدایت دَ محمد ﷺ دَ درنه واخله
ځان له هر قسمه دَ شر بیان کړه بچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هــریــو خیــر دَ پاك اللّــه كلام كښې پــروت دے
خپــل وجــود دَ هـــریـــو شــر ســـامـــان كــړه بــچ
اے احــمــده ! بـــې دیــنـــي خـــو یـــو خـــزان دے
خــدائــې دے هــر ځــائــے دَ هــر شــر خــزان كــړه بــچ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ مُـــــرســـــلانـــــو دَ ســـــردار ﷺ كـــلـــے دے
زمـــونـــــــږ دَ سيَـــدالابـــــرار ﷺ كـــلـــے دے
ګـــران پـــــه حـــضـــرت خیـــر الابـــرار ﷺ دے دغـــــه
ګـــــران دَ نبیــــانـــو پـــــه ســـردار ﷺ دے دغـــــه
قســـم دے ډك لــــــه نُـــور انـــوار دے دغـــــه
قســـم دے ښـــكـــلـــے خـــوشبـــودار دے دغـــــه
پـــــه تـــول وجـــود تـــول خـــوشبـــودار كـــلـــے دے
زمـــونـــــــږ دَ سيَـــدالابـــــرار ﷺ كـــلـــے دے
خـــــوښ دَ صـــــدیـــــقؓ او دَ عـــمـــــرؓ دے دغـــــه
خـــــوښ دَ عثـــمـــــانؓ او دَ حیـــدرؓ دے دغـــــه
خـــــوښ دَ ســـلـــمـــــانؓ دَ ابـــوذرؓ دے دغـــــه
خـــوښ دَ حـــضـــرت ســـعـــدؓ جـــابـــرؓ دے دغـــــه
دَ زړهٔ دُنیـــــــا كښـــــې دَ قـــــــرار كـــلـــے دے
زمـــونـــــــږ دَ سيَـــدالابـــــرار ﷺ كـــلـــے دے
خـــوښ دَ مـــؤمـــن او مســـلـــمـــان دے دغـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښ هر ساعت دَ هر انسان دے دغه
خوښ دَ هر چا په هر مکان دے دغه
خوښ دَ احمد دَ ټول مردان دے دغه
داسې دُنیا کښې دَ بهار کلے دے
زمونږ دَ سیّدالابرار ﷺ کلے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ هر چا یار نه زما یار ښکلے دے
یار دَ مولیٰ په هر ګفتار ښکلے دے
په والضُّحیٰ سره ئې ذکر شوے
بدرالدّجیٰ سره ئې ذکر شوے
دَ هر رخسار نه ئې رُخسار ښکلے دے
دَ هر چا یار نه زما یار ښکلے دے
زلفې ئې یادې په ښُلا سره دی
دا په وَالّیل اِذَا یَغْشیٰ سره دی
دَ زلفو ذکر ئې بار بار ښکلے دے
دَ هر چا یار نه زما یار ښکلے دے
طٰهٰ یٰسین سره یادېږی هغه
صادق امین سره یادېږی هغه
دَ هر ګفتار سره ئې کار ښکلے دے
دَ هر چا یار نه زما یار ښکلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ مـــزمـــل او مـــدثـــر پـــــه لـــقـــب
یـــادوي دغـــــه شـــان ئـــي دلتـــــه عـــرب
احـــمـــده ! ذکـــر ئـــي دَ بـــار بـــکـــلـــے دے
دَ هـــر چـــا یـــار نـــه زمـــا یـــار بـــکـــلـــے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نـــخـــبـــه دَ ایـــمـــان ده مـــدنـــی ﷺ ســـره تـــل میـــنـــه
نـــخـــبـــه دَ ایـــمـــان ده هـــر ولـــی ســـره تـــل میـــنـــه
دغـــه شـــان فـــلاح او ســـعـــادت دَ پـــاره هـــر ځـــائـــے
دلتـــه پـــه هـــر خـــوا کـــړه قـــریشـــی ﷺ ســـره تـــل میـــنـــه
میـــنـــه دَ ســـنـــت ســـره دُنـــیـــا کـــښـــي دَ بـــشـــر
دا دَ هـــر انـــســـان ده دَ مـــکـــی ﷺ ســـره تـــل میـــنـــه
بُـــغـــض او حـــســـد چـــي دَ بـــدعـــت ســـره ســـاتـــی څـــوك
دا پـــه تـــول جهـــان ده عـــربـــی ﷺ ســـره تـــل میـــنـــه
کـــار او طـــریـــقـــه کـــښـــي دَ نبـــی ﷺ تـــل اطـــاعـــت
دا دَ هـــر انـــســـان ده خـــپـــل نبـــی ﷺ ســـره تـــل میـــنـــه
غـــواړه چـــي رضـــا دَ خـــپـــل نبـــی ﷺ پـــه هـــره لار
دا ده پـــه دُنـــیـــا کـــښـــي هـــاشـــمـــی ﷺ ســـره تـــل میـــنـــه
میـــنـــه دَ نبـــی ﷺ دَ نبـــی ﷺ کـــور نـــه مـــلاویـــږی
وکـــړه دَ نبـــی ﷺ هـــریـــو نـــوســـی ســـره تـــل میـــنـــه
میـــنـــه کـــۀ احـــمـــده ! دَ نبـــی ﷺ پـــه جـــهـــان غـــواړے

(c) ketabton.com: The Digital Library

وساته په زړهٔ کښې صحابیؓ سره تل مینه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خوشبو زمونږ طرف ته مدینې نه ده راغلې
خوشبو دَ مصطفیٰ ﷺ ښکلې روضې نه ده راغلې

خوشبو کړه خوشبوداره زمونږ کور کلې وطن
د دغې خوشبو کړهٔ خوشبوداره هر چمن
قسم دې دَ رسول الله ﷺ کوخې نه ده راغلې
خوشبو زمونږ طرف ته مدینې نه ده راغلې

خوشبو کړهٔ خوشبوداره په دُنیا کښې هر بشر
قسم دې دا خوشبو ده دَ کونینو دَ افسر ﷺ
قسم دې د دې درد دَ هر ذرې نه ده راغلې

خوشبو کړه خوشبوداره په دُنیا کښې هره لار
قسم دې دا خوشبو ده دَ کونینو دَ سردار ﷺ
خوشبو دَ مدینې د هر حصې نه ده راغلې
خوشبو زمونږ طرف ته مدینې نه ده راغلې

قسم دې خوشبودار په دې خوشبو شو هر لحد
تعریف دَ مصطفیٰ ﷺ دې بیان کړې دا احمد
خوشبو دَ مدینې دَ باغیچې نه ده راغلې
خوشبو زمونږ طرف ته مدینې نه ده راغلې

★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

شمه لتانه سپیلنے جانانه ﷺ
تانه قربان تانه لوګے جانانه ﷺ
هره لمحه دا تمنا ده زما
دغه دَربَ نه یو دُعا ده زما
کومه تل ستا تذکري جانانه ﷺ
تانه قربان تانه لوګے جانانه ﷺ
دا تمنا په هر مقام ده زما
دا تمنا سحر ماښام ده زما
ستا په هر یاد شُمه زلمے جانانه ﷺ
تانه قربان تانه لوګے جانانه ﷺ
دا تمنا دَ زړهٔ آواز لرمه
دا په اخر او په اغاز لرمه
په تا ښائسته دي ګلدستي جانانه ﷺ
تانه قربان تانه لوګے جانانه ﷺ
دا تمنا ده دَاحمد علی نن
دا تمنا ئي لري دلته بدن
ستا دي یاد نه نهٔ وتے جانانه ﷺ
تانه قربان تانه لوګے جانانه ﷺ

★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

مشك وعنبر دي ستا خولې جانانه ﷺ
دَ مدينې منورې جانانه ﷺ

لعل وګوهر لرې غاښونه نبي ﷺ
ښائسته دي ټول ستا صفتونه نبي ﷺ
امے دَ ښائسته ښکلې روضې جانانه ﷺ
دَ مدينې منورې جانانه ﷺ

ښکلې رُخسار ستا الاثانې دَ بدن
دا سخاوت دے ستا دَ تن دَ لمن
ياد دَ دُنيا په هر حصې جانانه ﷺ
دَ مدينې منورې جانانه ﷺ

زلفې وَالّيل ستا دَ بدن ښکلې دي
دغه قسم دے له هر تن ښکلې دي
داسې دي هر ځائے تذکرې جانانه ﷺ
دَ مدينې منورې جانانه ﷺ

په انسانانو کښې بهتر غوره ئې
وائي احمد خير البشر ﷺ غوره ئې
نه درته رسي فرښتې جانانه ﷺ
دَ مدينې منورې جانانه ﷺ

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـه ربَ پسـے دُنيـا کښې بيـا مقام دَ نبـی ﷺ دے
ښائسـتـۀ ښـکـلـے دُنيا کښې هر کلام دَ نبي ﷺ دے
ښائسـتـۀ ښـکـلـے کلام دَ مصطفیٰ خير البشر ﷺ دے
ښـائسـتــۀ ښـکـلـے کـلام دَ امـامـانو دَ افسـر ﷺ دے
ښائسـتـه ښـکـلـے دُنيا کښې هر پيغام دَ نبي ﷺ دے
پـه ربَ پسـے دُنيـا کښې بيـا مقام دَ نبـی ﷺ دے
ښائسـتـۀ ښـکـلـے مـذهـب دَ مُرسلانو د امام ﷺ دے
ياد شـوے دا مذهـب پـه ټـول جهان کښې پـه اسلام دے
ښائسـتـۀ پـه ټـول جهان کښې دين اسلام دَ نبي ﷺ دے
پـه ربَ پسـے دُنيـا کښې بيـا مقام دَ نبـی ﷺ دے
افـعـــال ئــي پـــه دُنيـــا دي دَ دُنيــــا دَ در انـــوار
اقـــوال ئـــي پـــــه دُنيــــا دي دَ دُنيـــا دَ درانـــوار
صـورت پـــه دي جهــان مــاهِ تمـام دَ نبــی ﷺ دے
پـه ربَ پسـے دُنيـا کښې بيـا مقام دَ نبـی ﷺ دے
سيــرت ئـي نـورانـــی دے داسـي وائـی هـر بشـر
صـــورت ئـي نـــورانـــی دے احـــمـد وائـی بـرابـر
ښـائسـتــۀ هــريــو سحر هـريو ماښام دَ نبي ﷺ دے
پـه ربَ پسـے دُنيـا کښې بيـا مقام دَ نبـی ﷺ دے

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصيحت

ونـــهٔ تـــرېـے ځـــان چـــي پـــه بـدعـــت پسـے
ځـــان وتـــره هـــر ځـــائـے کښـــي سـنـــت پسـے
لـــرې دَلـــعـــنـــت نـــه خپـــل وجـــود ســاتـــه
ځـــان وتـــره هـــر ځـــائـــے کښـــي رحـمـــت پسـے
ونـــهٔ مـــنـــے هـيـــڅ کـــلـــه دَيـــو کـــافـــر
بـــه کـــامـــل روان شـــهٔ شـــريـــعـــت پسـے
کـــار دَ هـــر عـــزت دَ دوجهـــان کـــوه
ونـــهٔ تـــرېـے ځـــان چـــي پـــه ذلـــت پسـے
زړونـــه دَ دُنيـــا ورســـره يـــو چـــي شـــي
دغـــه اثـــر شتـــه دے مـــحبـــت پسـے
څـــوك چـــي دَ حســـدنـــه ځـــان اُوزګـــار نـــکـړي
هـغـــه ســرے ګـــرځـــي پـــه نـفـــرت پسـے
هـغـــه پـــه دُنيـــا نـصيـــحـــت اُومـــومـــي
ګـــرځـــي يـــو بشـــر چـــي نـصيـــحـــت پسـے
ربَ مـــقـــرر کـــړي جـــنتـــونـــه دي
دغـــه اجـــر شتـــه پـــه تـــلاوت پسـے
کـــلـــه يـــو نـعـمـــت چـــي درلـــه ربَ درکـړي
شـــکـــر لازمـــي دے پـــه نـعـمـــت پسـے
هيـــره درنـــه نشـــي دَ احـمـــدويـــنـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مه ګرځه انسانه شرارت پسې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نه ځې چې نبي آخرزمان ﷺ پسې
داسې انسان ګرځي په شیطان پسې
څوك چې دَ سنت سره وفا نهٔ کړي
دهٔ کېده تړلې ده تاوان پسې
څوك چې دَ بدعت په لارو کندو ځي
دغه ده خندا په دې قرآن پسې
څوك چې دَ بدعت دلته په سر کړي ګند
دا انسان روان دے په نقصان پسې
څوك چې دبدعت تورو تیرو کښې ځي
نه ځي دا بشر نبي سلطان ﷺ پسې
څوك چې مبتدع ته مقتدا وائي
دا بشر روان دے بې ایمان پسې
هریو مبتدع ګڼه دښمن دَ دین
کار ئې دَ خندا دے په ایمان پسې
هر بدعت زیات والے په اسلام کښې دے
دغه مسخره ده په رحمان پسې
دغه بې دینې ده دَ اسلام په نوم
دغه دی خبرې حق بیان پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوك چې په سنت کښې مزه بيا مومې
داسې ده چې نُور ترې په ځان پسې

څوك چې دَ سنت څهره په غاړه کړي
دا بشر روان دے نُور عرفان پسې

اے احمده ! حق وينا كوه ورته
مه ګرځه بدعت پسې تاوان پسې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راځئ چې وکړو دَ نبيانو دَ سردار ﷺ تذکره
راځئ چې وکړو په دُنيا دغه باربار تذکره

راځئ چې وکړو دَ خاتم الانبياء ﷺ ذکر
راځئ چې وکړو په دُنيا دَ مصطفیٰ ﷺ ذکر

راځئ چې وکړو دَ نيکانو دَ دلدار ﷺ تذکره
راځئ چې وکړو په دُنيا دغه باربار تذکره

راځئ چې وکړو دَ صادق او دَ امين صفت
راځئ چې وکړو دَ طٰهٰ او دَ يٰسين صفت

په جمع وکړو چې راځئ دَ تاجدار ﷺ تذکره
راځئ چې وکړو په دُنيا دغه باربار تذکره

راځئ چې وکړو دَ حامد او دَ محمود ذکر
راځئ چې وکړو دَ قاصد او دَ مقصود ذکر

راځئ چې وکړو دَ حضرت خير الابرار ﷺ تذکره

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځی چي وکړو په دُنيا دغه بار بار تذکره

راځی چي وکړو دَ رسول ﷺ دَ حق يارانو ذکر

راځی چي وکړو دَ رسول ﷺ دَ عاشقانو ذکر

راځی چي وکړو دَ رسول دَ دربار تذکره

راځی چي وکړو په دُنيا دغه بار بار تذکره

راځی چي وکړو دَ رسول ﷺ دَ نُور سنت ذکر

وکړو احمده ! چي دا دلته هر ساعت ذکر

په جمع وکړه چي دَ پاك نبی ﷺ دَ ښار تذکره

راځی چي وکړو په دُنيا دغه بار بار تذکره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګلونه دَ نبی ﷺ دي که باغونه دَ نبی ﷺ

ښائسته ښکلی دُنيا کښي دي لعلونه دَ نبی ﷺ

ښائسته ښکلے دُنيا کښي هر صفت دَ محمد ﷺ دے

ښائسته ښکلے دُنيا کښي تول سيرت دَ محمد ﷺ دے

ښائسته ښکلی دُنيا کښي دي يادونه دَ نبی ﷺ

ګلونه دَ نبی ﷺ دي که باغونه دَ نبی ﷺ

ښائسته ښکلے دُنيا کښي هر ادا دَ محمد ﷺ ده

ښائسته ښکلے دُنيا کښي نُور رڼا دَ محمد ﷺ ده

ښائسته دي په دُنيا کښي حديثونه دَ نبی ﷺ

ګلونه دَ نبی ﷺ دي که باغونه دَ نبی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښائسته ښکلے دُنيا کښې هر مکان دَ محمد ﷺ دے
ښائسته ښکلے دُنيا کښې دا قرآن دَ محمد ﷺ دے
ښائسته ښکلي دُنيا کښې دي کارونه دَ نبي ﷺ
ګلونه دَ نبي ﷺ دي که باغونه دَ نبي ﷺ
ښائسته ښکلے دُنيا کښې هر يو يار دَ محمد ﷺ دے
احمده ښه ښائسته ښکلے مزار دَ محمد ﷺ دے
ښائسته دي خوشبوداره عاداتونه دَ نبي ﷺ
ګلونه دَ نبي ﷺ دي که باغونه دَ نبي ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خوارهٔ په هر طرف دي برکتونه دَ نبي ﷺ
وريږي په دُنيا کښې رحمتونه دَ نبي ﷺ
هر چا لره رحمت دے محمد خير البشر ﷺ
هر چا لره رحمت دے دَ نيانو دا افسر ﷺ
ياران دَ مصطفیٰ ﷺ دي ټول ګلونه دَ نبي ﷺ
وريږي په دُنيا کښې رحمتونه دَ نبي ﷺ
هر يار دَ محمد ﷺ دے دَ هر در دَ پاره خير
هر يار دَ محمد ﷺ دے هر بشر دَ پاره خير
قسم دے په دُنيا دي دا لعلونه دَ نبي ﷺ
وريږي په دُنيا کښې رحمتونه دَ نبي ﷺ
دُوي ستوري دَ اسمان دي دا لره عقيده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دُوی ستوري دَ جهان دي دا لرمه عقیده
ښائسته دي دَ دُنیا ټول چمنونه دَ نبي ﷺ
وریږي په دُنیا کښې رحمتونه دَ نبي ﷺ
هر در په دُوی ښائستهٔ دے احمد وائی دَ جهان
اصحابؓ دَ محمد ﷺ دي قدرمنده عالیشان
دَ خیر نه ډك دي ډك دغه نعتونه دَ نبي ﷺ
وریږي په دُنیا کښې رحمتونه دَ نبي ﷺ

دَ بدعت مذمت او دَ سنت اهمیت

بدعت به دَ دُنیا تا په محشر کښې ژړوي
دا ګند به دلته تا په لر او بر کښې ژړوي
سنت نه چې کړے تېښته دَ نبي خیر البشر ﷺ
سنت نه چې کړے تېښته دَ نبیانو دَ افسر ﷺ
دا کار به تا هر ځائے په هر سفر کښې ژړوي
بدعت به دَ دُنیا تا په محشر کښې ژړوي
سنت ته چې تهٔ دلته دَ نفرت په نظر ګورے
سنت ته چې تهٔ دلته ذلت په نظر په ګورے
دا کار به دلته تا په هر دفتر کښې ژړوي
بدعت به دَ دُنیا تا په محشر کښې ژړوي
سنت ته چې سپك ګورے په دُنیا کښې په یو در
سنت ته چې سپك ګورے دَ دُنیا په لر او بر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کار به تا هر ځائے په هر بستر کښې ژړوی
بدعت به دَدُنیا تا په محشر کښې ژړوی
سنت سره چې مینه دَ نبی ﷺ نه کوے دلته
سنت سره چې مینه ابدی نه کوے دلته
احمد وائي دا کار به تا تېر کښې ژړوی
بدعت به دَدُنیا تا په محشر کښې ژړوی

دَ بدعت مذمت

انجام دَ شرارت هر یو انسان ژړوی
بدعت به په محشر کښې بدعتیان ژړوی
کارونه دَ شیطان دَ شیطانت چې کوی څوك
کارونه دَ نقصان دَ شرارت چې کوی څوك
محشر کښې دا عمل به مشرکان ژړوی
بدعت به په محشر کښې بدعتیان ژړوی
نفرت ئې دَ سنت نه چې وی کړے په دُنیا کښې
نفرت ئې شریعت نه چې وی کړے په دُنیا کښې
دا کار به په محشر هر بې ایمان ژړوی
بدعت به په محشر کښې بدعتیان ژړوی
رښا نه دَ سنت چې لرے تښتے په دُنیا کښې
نفرت ساتی په زړهٔ کښې چې سنت سره هرخوا کښې
محشر کښې به مولیٰ دا شیطانان ژړوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بـدعـــت بـــه پـــه مـحشــر كښـي بدعتيـان ژړوی

دَ خيــر نـــه لـرے تښتـــی چـي احـمـده! پـه جهـان

دا كـــار دے پـــه دُنيـــا كښـــي دَ دُنيـــا دَ هـرشيـطـان

مـــولـــئ بـــه پـــه مـحشـــر دا ظـــالـمـان ژړوی

بـدعـــت بـــه پـــه مـحشــر كښـي بدعتيـان ژړوی

★★★★★★★★★

تـمـت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبعونه وصلی اللّٰه تعالیٰ علی

خيـر خـلقـه مـحـمـد وآلـه واصـحابـه اجمعين . امين

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

حمد باري تعالیٰ

یو دے یو په وجود ذات زمونږه رب
نور لری تمام صفات زمونږه رب

په رحمان او په رحیم سره یادیږي
یاد قدیر دے په جهات زمونږه رب

عرش کرسی بره دا هریو لوئي أسمان
پیدا کړے کائنات زمونږه رب

په صفت سره چي یاد دے په خبیر
خبردار دے دَ حالات زمونږه رب

هریو خیز له ورکوی رزق دُنیا کښي
دے رازق دَ مخلوقات زمونږه رب

دَهر ځۀ په دي جهان هغه مالك دے
پیدا کړي معجزات زمونږه رب

په دُنیا کښي ئي ولیانو ته ورکړي
دغه لوئي لوئي کرامات زمونږه رب

دَ هرچا پوره کوی چي حاجتونه
دا قاضی دے دَ حاجات زمونږه رب

هریو شاه ئي دَ دُنیا د در غلام دے
ختموُی تول مشکلات زمونږه رب

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــه کـــافـــراو مسـلـمـــان دے مهـريــانــه
پيـــدا کـــړې عـــلامـــات زمـــونـــږه ربَ
گـنـــاهـونـــه پـــه جهـــان ئـــي پيـــدا کـــړې
پيـــدا کـــړې حســـنـــات زمـــونـــږه ربَ
دغــه بـوټـي دغــه لـوئـي لـوئـي ځنګلونـه
پيـــدا کـــړې نبـــاتـــات زمـــونـــږه ربَ
پـــه صـحـــرا کښـي هـــر ذرّه او دغـــه غـرونـــه
پيـــدا کـــړې جـــمـــادات زمـــونـــږه ربَ
ورتـــه ولـــے بـــه احـمـد زهٔ سـجـده نـــهٔ کـــړم
دے لائـــق دَ عبـــادات زمـــونـــږه ربَ

حمد باري تعالیٰ

پـــه کښـي تـوحيـد دے دَ تـوحيـد خـوږه وينـا ده
دغـــه کـلـمـــه دَ لَا اِلـــهٰ اِلَّا الـلّـــه ده
دغـــه بـــنيـــاد دَ هـــر ايـــمـــان دے
دغـــه بُـــنيـــاد دَ ټـــول جهـــان دے
دغـــي کـلـمـي سـره بـاقـي ټـولـه دُنيـا ده
دغـــه کـلـمـــه دَ لَا اِلـــهٰ اِلَّا الـلّـــه ده
داســـي تـــعـــلـيـــم دي قـــرآن دے
تـــل پـــه دُنيـــا کښـــي حـــق بيـــان دے
مـونـږ تـــه ښـودلـے مـحـمـد رسـول اللّـه ﷺ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه کلمه دَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

وئيلے دا هر يو نبي ده

وئيلے دا هر يو ولي ده

ښائسته ښائسته ورسره بره دا فضا ده

دغه کلمه دَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

ټول محبت ټول عبادت دے

احمده ! پروت په کښي جنت دے

ټل په ذکرونو کښي دَ ټولو نه اعلیٰ ده

دغه کلمه دَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

حمد باري تعالیٰ

رڼائي تلے چي دُنيا کښي په هرخوا ده

حقه کلمه دَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

دغه وئيلے هم آدم ده

په دي دُنيا هر محترم ده

ښهٔ قدرمنده عزتمنده ده اعلیٰ ده

حقه کلمه دَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

ورسره زړونه صفا کيږي

لکه دَ ستورو رڼا کيږي

دغه ښودلے مونږ ته ټولو اولياء ده

حقه کلمه دَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

تل دے دا ذکر دَ ماښام
دَ هر سحر دلته مدام
تل کامیابي له ابتدا او انتها ده
حقه کلمه دَ لَااِلَٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

تل دا صدیقؓ عمرؓ وئیلے
عثمانؓ، علی حیدرؓ وئیلے
دا په دُنیا کښي تل کامله حق وینا ده
حقه کلمه دَ لَااِلَٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

دا په سختو کښي په کاریږی
کار د دُنیا پرې آسانیږی
دَ هر رنځور سرې دَ پاره تل دوا ده
حقه کلمه دَ لَااِلَٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

په کښي پیغام دے دَ توحید
پیغام تمام دے دَ توحید
رڼا په دې دُنیا زما او ستا ده
حقه کلمه دَ لَااِلَٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

داسي تل وائی مسلمان
وائی احمد هم دَ مردان
په هر صفت سره دُنیا کښي تل جُدا ده
حقه کلمه دَ لَااِلَٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمد باري تعالیٰ

راشي ملګرو دنیا حقه وینا ده
کلمه، کلمه، دَلَا اِلٰهَ اِلَّا الله ده

دغه نیکي ددې جهان ده
دغه عالي ده عالیشان ده

توښه ملګرو په دُنیا کښې دَعقبیٰ ده
کلمه، کلمه، دَلَا اِلٰهَ اِلَّا الله ده

ورسره ښکې هریو کوروی
ورسره ښکلې هریو لوروی

تل خوشبوئي په دې دُنیا دَدې هوا ده
کلمه، کلمه، دَلَا اِلٰهَ اِلَّا الله ده

دا دے دَزړونو تل تکور
دا حفاظت دے دَ هراُور

دغه فائده ئې نقل کړے علماء ده
کلمه، کلمه، دَلَا اِلٰهَ اِلَّا الله ده

دَجهنم نه تل امان دے
ورله یو ډهال ددې جهان دے

خوښه هرځائے کښې په دُنیا دَاولیاء ده
کلمه، کلمه، دَلَا اِلٰهَ اِلَّا الله ده

دا نعمتونه دَجنت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا رحمتونه هر ساعت دي

وينا احمده! چي دا تيره شوه صفا ده

کلمه، کلمه، دَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ده

حمد باري تعالیٰ

خبردار چي دَ دُنيا دَ کُل عالَم دے

هغه ربَ راته خبر په هر قدم دے

خبردار زما او ستا نه په جهان دے

په مونږ تولو باندي هغه مهربان دے

ورته ښکاري هغه غر دے او که سم دے

هغه ربَ راته خبر په هر قدم دے

دَ هر کور نه ښۀ خبر دے هر ساعت

دَ هر څۀ ورته معلوم دے حقيقت

که عرب دے دَ دُنيا او که عجم دے

هغه ربَ راته خبر په هر قدم دے

په هر څۀ باندي نظر ساتی دُنيا کښي

ورته ښکاري هريو څيز بره فضا کښي

دا عالَم ئي پيدا کړے په يو دم دے

هغه ربَ راته خبر په هر قدم دے

دَ اسمان دَ مخلوقاتو نه خبر دے

په ذره ذره ئي دلته کښي نظر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبــــردار دَ هـــريـــو خيـــز نـــــه دَ تـــورتـم دے

هـــغـــــه ربَ راتــــه خبـــر پـــــه هـــر قــدم دے

اے احــمـده! بنـــه كــامـلـــه پـــه صـفـات دے

لَاشَــرِيْـكَـــه پـــه دُنيــا كښـي دغـــه ذات دے

پيــــدا كـــړے ئـــي دَلـــوح ســـره قـلـــم دے

هـــغـــــه ربَ راتــــه خبـــر پـــــه هـــر قــدم دے

حمد باري تعالىٰ

رتَـــه! ستـــا فـضـل واحســـان دے او كـــرم دے

پيـــدا كـــړے چـي تـــا مـونـــږ لـــه دا عــالَـم دے

پيـــدا كـــړي مـــونـــږ لـــه تـــادي دغـــه غـرونـــه

پيـــدا كـــړي مـــونـــږ لـــه تـــادي دا بـــاغـونـــه

پيـــدا كـــړے تـــا انســـان بنـــهٔ مـحتـــرم دے

رتَـــه! ستـــا فـضـل واحســـان دے او كـــرم دے

مـــونـــږ لـــه تـــا دے پيـــدا كـــړے هـــر اَسـمـــان

مـــونـــږ لـــه تـــا دے پيـــدا كـــړے تـــول جهـــان

پيـــدا كـــړے تـــا عـــرب ســـره عـجـــم دے

رتَـــه! ستـــا فـضـل واحســـان دے او كـــرم دے

پيـــدا كـــړي تـــا رنـــا دي بـــره ستـــوري

پـــه اَسـمـــان كښـي پـــه هـــر خـوا دي بـــره ستـوري

پيـــدا كـــړے تـــا هـــر نـــور دَ هـــر تـــورتـم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربّه! ستا فضل واحسان دے او کرم دے
پيدا کړے مونږ له تا دغه هوا ده
پيدا کړے مونږ له تا دغه فضا ده
پيدا کړے تا علاج دَ هر يو غم دے
ربّه! ستا فضل واحسان دے او کرم دے
تا را کړے مونږ له ربّه! نُور کتاب دے
دَ احمد علي دَ پاره نُور آفتاب دے
عزتمنده په دُنيا کښي چي هر دم دے
ربّه! ستا فضل واحسان دے او کرم دے

حمد باري تعالیٰ

چي اگاه دے منتظم دَ ټول عالم دے
ربَ دَ ټول عرب دے ربَ دَ ټول عجم دے
دَ هر چا روزي رسان دے دَ جهان
پيدا کړے ئي ده زمکه هم آسمان
پيدا کړے ئي دَ عرش سره قلم دے
ربَ دَ ټول عرب دے ربَ دَ ټول عجم دے
نه محتاج دے دَ وزير او دَ مُشير
غواړه تل تر ينه غريب سره امير
خپور ئي دلته په دُنيا کښي دا کرم دے
ربَ دَ ټول عرب دے ربَ دَ ټول عجم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکاريږي دَ دُنيا په مصيبت کښې

پکاريږي چې هرخوا هريو ساعت کښې

مددګار دَ هر انسان په هر قدم دے

ربّ دَ ټول عرب دے ربّ دَ ټول عجم دے

نمر کښې نور ئې دَ جهان دے پيدا کړے

خوك کافر خوك مسلمان دے پيدا کړے

پيدا کړے ئې رڼا سره تورتم دے

ربّ دَ ټول عرب دے ربّ دَ ټول عجم دے

حمد باري تعالیٰ

الله معبود منمه

الله مسجود منمه

نۀ ئې والد منې خوك

نۀ ئې مولود منمه

واحد، احد، صمد

دَ ربّ وُجود منمه

ټول ئې تعريف چې کوي

هغه محمود منمه

په هر صفت جدا دے

هغه ودود منمه

احمد ليکلے دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیان موجود منمه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نبی ﷺ محمود منمه

خیر ئي وجود منمه

دوست دَ دُنیا دَ خلقو

دوست دَ ودود منمه

هغه احمد منمه

حامد محمود منمه

قاصد دَ ربَ هغه دے

هغه مقصود منمه

رهبر رنیا دَ جهان

هغه مسعود منمه

انکار کافر تره کوی

سلام درود منمه

دَ مدینې روضه کښې

هغوی موجود منمه

احمده ! هغه نبی ﷺ

والد مولود منمه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مکه ده مبارکه مدینه ده مبارکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم دے دَ عرب هره حصه ده مبارکه
مکه کښي پيدا شوے دے زمونږ نبی سردار ﷺ
مکه کښي پيدا شوے دے محبوب دَ ربَ غفار
په دے وجه مکه کښي هره شپه ده مبارکه
مکه ده مبارکه مدينه ده مبارکه
مکه کښي اُوسيدلے دَ نبيانو دے سردار ﷺ
مکه کښي اُوسيدلے دے حضرت خير الابرار ﷺ
په دي وجه مکه کښي هر ذرّه ده مبارکه
مکه ده مبارکه مدينه ده مبارکه
هر ځائے دَ مدينې دے نوراني تول منور
قسم دے هر ذرّه ئي دَ دُنيا ده معطَر
په دي وجه چي دلته کښي روضه ده مبارکه
مکه ده مبارکه مدينه ده مبارکه
مدفن دَ مصطفىٰ ﷺ دے مدينه منوره
چمن دَ مصطفىٰ ﷺ دے مدينه منوره
له دي وجي ددغه در نقشه ده مبارکه
مکه ده مبارکه مدينه ده مبارکه
هرچا ئي صفت کړے په دُنيا کښي په هردر
احمدعلى ئي دلته ذکر کړے مختصر
په دي وجه ئي دلته تذکره ده مبارکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکـــه ده مبـــارکـــه مدینـــه ده مبـارکــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زمـونــږه پــه نبـی ﷺ سـره دُنیـا تیولــه رڼـا شـوه
رڼـا شـوه هـر طـرف تـه نورانی تیولـه فضـا شـوه

هـرخـواتـه پـه دُنیـا کښـي دَ بدعـت توري تیـرې وې
هـر خـواتــه پــه دُنیــا دَ ضـلالـت تـورې تیـرې وې
تیـرې شـولې پـه منـډه ګمـراهـی هـره پـه شـا شـوه
رڼـا شـوه هـر طـرف تـه نورانی تیولـه فضـا شـوه

دَلات او دَ منـــات بتـــان پــه زمکــه راګــزار شـول
هرخـواتـه مشـرکـان خـلق په زمکه باندې خوار شـول
تیــاره دَ کـفــر وشــرك هـر طـرف تــه پــه ژړا شـوه
رڼـا شـوه هـر طـرف تـه نورانی تیولـه فضـا شـوه

رڼـا شـوه هـرطـرف تـه دَتـوحیـد سـحر سـحر شـو
فـضـا شـوه منـوره چې ښکـاره دَتـوحیـد نـمر شـو
کـعبــه پــه دې دُنیـا بـاندې بتـانو نـه صفـا شـوه
رڼـا شـوه هـر طـرف تـه نورانی تیولـه فضـا شـوه

دَ شــرك او دَ بـدعــت بُتــان پــه چغـو پــه ژړا شـو
بُتـان دَ ضـلالــت تیول هـرطـرف تـه ښـۀ رُسوا شـو
نـعـره چې دَتـوحید کلـه پـه ژبـه دَ طٰـهٰ ﷺ شـوه
رڼـا شـوه هـر طـرف تـه نورانی تیولـه فضـا شـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ علم شمع بله هر طرف ته په جهان شوه
دَ علم شمع بله دَ نبی آخرزمان ﷺ شوه
احمد علی فضا کښې چې شامله حق وینا شوه
رڼا شوه هر طرف ته نورانی ټوله فضا شوه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رڼا په مصطفیٰ ﷺ سره مکه ټوله دُنیا شوه
رڼا شوه مدینه ښکلې ښائسته ټوله فضا شوه
رڼا دَ محمد ﷺ تیرې کړې ختمې دَ بدعت
رڼا دَ محمد ﷺ تیرې کړې ختمې دَ غفلت
دُنیا د هر یو ګند نه ټوله پاکه شوه صفا شوه
رڼا شوه مدینه ښکلې ښائسته ټوله فضا شوه
رڼا دَ محمد ﷺ ختم کړۀ هر یو شرارت
رڼا دَ محمد ﷺ ختم کړۀ هر ځائے نه ظلمت
دُنیا کښې دَ هر در ختمه هر یوه بلا شوه
رڼا شوه مدینه ښکلې ښائسته ټوله فضا شوه
رڼا دَ محمد ﷺ سره مشرك دا په ژړا شو
رڼا دَ محمد ﷺ سره کافر انسان رُسوا شو
خوره په هر طرف باندې دَ پاك نبی ﷺ حیا شوه
رڼا شوه مدینه ښکلې ښائسته ټوله فضا شوه
رڼا دَ محمد ﷺ ختم کړۀ شر دَ شیاطینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا سره شو ختم هر ضرر دَ شیاطینو
احمدعلی ! په دغي سره هر بدي په شا شوه
رڼا شوه مدینه ښکلي ښائسته تولـه فضا شوه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدني خیر الابرار ﷺ دُنیا ته راغے
دوست دَربَ غني غفار دُنیا ته راغے
دَ توحید بوټے ئي نهال کړۀ په مکه کښي
دَ توحید بوټے ئي نهال کړۀ مدینه کښي
په خزان پسے بهار دُنیا ته راغے
دوست دَربَ غني غفار دُنیا ته راغے
بد بوئي دَ هر یو درنه لاړه لاړه
بد بوئي دَ هر بشر نه لاړه لاړه
ښۀ اخلاق سره غمخوار ﷺ دُنیا ته راغے
دوست دَربَ غني غفار دُنیا ته راغے
دَ اسلام پیغام شو خپور په هر طرف
دا پیغام تمام شو خپور په هر طرف
معطّره په هر لار دُنیا ته راغے
دوست دَربَ غني غفار دُنیا ته راغے
شیاطین دَ زمانې شول په لړزان
احمد وائي په لړزان شول کافران

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې محبوب دَ هر دربار دُنیا ته راغې
دوست دَ ربّ غني غفار دُنیا ته راغې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تورې سترګې توري دَ نبي اخر زمان ﷺ دي
توري توري دغه ښکلې په جهان دي
دغه سترګې خوښې دَ صدیقؓ او دَ عمرؓ دي
دغه سترګې خوښې په دُنیا دَ هر افسر دي
خوښې دغه خوښې دَ عثمان ابن عفانؓ دي
توري توري دغه ښکلې په جهان دي
خوښې ډیرې خوښې دغه سترګې دَ عليؓ دي
خوښې ډیرې خوښې په دُنیا دَ هر ولي دي
خوښې دغه خوښې دَ حسنؓ او دَ سلمانؓ دي
توري توري دغه ښکلې په جهان دي
خوښې دغه خوښې سترګې دَ انصار دي
خوښې دغه سترګې دَ اصحابوؓ په هر لار دي
خوښې دغه خوښې دَ حسینؓ او دَ حسّان دي
توري توري دغه ښکلې په جهان دي
خوښې دغه خوښې په دُنیا دَ هر بشر دي
خوښې دغه خوښې دَ مولیٰ غني اکبر دي
دلته کښې احمده! ستا اشعارو کښې بیان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــوري تــوري تــوري دغـــه ښـکـلـی پـــه جهـان دی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زلـفـي ښـکـلـي ښـکـلـي دَ نبیانو دَ سلطان ﷺ دی
تــوري ښــکــلــي زلــفـي دَ نبـي اخــرزمـان ﷺ دی

څنګ چي دَ نبیـانو دَ سـلـطـان دا زلـفي ښکلی دی
داسـي زلـفـي دلتـــه پـــه دُنیا کښـي چا لیـدلـی دی
زلـفـي خـوشبـوداري دَ مـحبـوب دَ دوجهـان ﷺ دی
تــوري ښــکــلــي زلــفـي دَ نبـي اخــرزمـان ﷺ دی

یـو وارے چـي چـا دَ مـصـطـفیٰ ﷺ زلفـے لیدلی دی
وائــی هـغـه وائــی چـي دَ هــر چـانـه ښـهٔ ښکلی دی
دغـــه ښــکــلـي ښــکـلـي دَ دُنیــا پـــه هرمـکـان دی
تــوري ښــکــلــي زلــفـي دَ نبـي اخــرزمـان ﷺ دی

ښــکــلــی دی ښـــهٔ ښـکـلی دا بیان دَ عـالـمـانو دے
ښـکـلـی دی ښـهٔ ښـکـلـی دَا بیـان دَ صـالـحانو دے
څـکـــه یـــادي شـوي دَ مـولـــیٰ پـــه دي قــرآن دی
تــوري ښــکــلــي زلــفـي دَ نبـي اخــرزمـان ﷺ دی

ښـکـلـی دی ښـهٔ ښـکـلـی څـکـه ذکـرئـي مولیٰ کوی
ښـکـلـی دی ښـهٔ ښـکـلـی څکـه ذکـرئـي دُنیـا کوی
اے احـمـده ! یـادے دغـــه هرڅائـے پـه مردان دی
تــوري ښــکــلــي زلــفـي دَ نبـي اخــرزمـان ﷺ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بـــاران دَ رحـــمتـــونـــو مـــدیـنـــه کـبنـــي راوریـــږي
بـاران دَ مـدیـنـي پـه هـر کـوڅـه کـبنـي راوریـږي
دا فـضـل وکـرم دے زمـونږ دَ ربّ پـه مـحـمـد ﷺ
دا رحـم راوریـږي مـدیـنـه کـبنـي پـه احـمـد ﷺ
دا فـضـل دَ رسـول ﷺ پـه بـاغـیـچـه کـبنـي راوریږي
بـــاران دَ رحـــمتـــونـــو مـــدیـنـــه کـبنـــي راوریـــږي
هـر ګـل پـه دے سـره دے مـدیـنـه کـبنـي مـعـطـر
هـر ګـل دے قـبـول کـړے د دي در نـه بـښـۀ اثـر
رحـمـت ددغـه در پـه هـر حـصـه کـبنـي راوریـږي
بـــاران دَ رحـــمتـــونـــو مـــدیـنـــه کـبنـــي راوریـــږي
هـر لاره خـوشـبـوداره هـر مـحـفـل دے خـوشـبـودار
دُنـیـا کـبنـي ددي در دے خـوشـبـوداره هـر ګـفـتـار
دا رحـم هـلـتـه کـبنـي ذرَه ذرَه کـبنـي راویـږي
بـــاران دَ رحـــمتـــونـــو مـــدیـنـــه کـبنـــي راوریـــږي
هـر رحـم وکـرم هـلـتـه هـر سـاعـت دے راوریـږي
هـر ګـل پـه دغـي رحـم سـره هـلـتـه تـازه کـیـږي
دَ ورځـي راوریـږي هـره شـپـه کـبنـي راوریـږي
بـــاران دَ رحـــمتـــونـــو مـــدیـنـــه کـبنـــي راوریـــږي
أثـار دغـه لـیـدلـي عـاشـقـانـو پـه جـهـان

(c) ketabton.com: The Digital Library

أثـــار دغـــه ليـــدلـــى اے احـمـده ! مـسـلـمـــان
دا فـضـل دَ نبـى ﷺ پـاكـه روضـه كښې راوريږي
بـــاران دَ رحــمـتــونـو مـديـنـــه كښې راوريـــږي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـديـنـــه ښـكـلـے ښـائـسـتـــهٔ ښـار دے كـنـه
راشــــه ســـكـــون دَ زړهٔ قـــرار دے كـــنــــه
دلتــــه رحــمـــت دَ دوجهـــان شتــــه كـنــــه
دلتــــه مسكــن دَ تــاجـدار ﷺ دے كـنــــه
دلتــــه ښُــكـــلا دَ هـــر بشـــر شتــــه كـنــــه
دلتــــه مـحبـوب دَ ربَ غـفــار ﷺ دے كـنــــه
دلتــــه تـكـــره دَ پـــاك جـنـــت شتــــه كـنــــه
دلتــــه ســاكــن خيــر الابـــرار ﷺ دے كـنــــه
دلتــــه يــاران دَ مـحـمـد ﷺ شتــــه كـنــــه
دلتــــه هـــر يـــار كـــل دَ كــلـــزار دے كـنــــه
دلتــــه صديقٌ عـمـرٌ عثـمـانٌ شتــــه كـنــــه
پـــه هـــريـــو در دلتـــــه بهـــار دے كـنــــه
تـــانــــه تپـــوس كـــوى دَ ســـوال پــــه انـــداز
دا دَ احــــمــــد عـــلـــى كـــفـتـــار دے كـنــــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سـكـون دے مـولیٰ ايښے دَ رسول ﷺ په تذكره كښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم دے سکون پروت دے په مکه او مدینه کښې

سکون پسے تۀ ګرځے په دُنیا کښې در په در

سکون پسے تۀ ګرځے هر سحرا او مازیګر

سکون دغه موجود دے دَ رسول الله ﷺ کوڅه کښې

قسم دے سکون پروت دے په مکه او مدینه کښې

سکون پسے چې ګرځے او طالب دَ اطمینان ئې

سکون نه چې محرومه په دُنیا کښې په جهان ئې

سکون دا ملاوېږي دَ نبي ﷺ په باغیچه کښې

قسم دے سکون پروت دے په مکه او مدینه کښې

سکون پسے چې ګرځے دا سکون دے په سنت کښې

سکون پسے چې ګرځے دا سکون دے شریعت کښې

سکون دغه موجود دے دَ نبي ﷺ هره جمله کښې

قسم دے سکون پروت دے په مکه او مدینه کښې

طالب چې سکون ئې دَ قرآن کړه تلاوت

دَ پاك رسول الله ﷺ ورسره وکړه اطاعت

سکون دغه موندے نۀ شي ددې دُنیا نشه کښې

قسم دے سکون پروت دے په مکه او مدینه کښې

طالب کۀ سکون ئې دَ اصحابوؓ اطاعت کړه

اصحابوؓ سره هر ځائے په دُنیا کښې محبت کړه

دَ ژوند دَ پاره ستوري دي رڼا په هره شپه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم دے سکون پروت دے په مکه او مدینه کښې

طالب کۀ سکون ئې دَ مونځونو شۀ پابند

بدعت نه لرے وُسه د دُنیا دے دغه گند

احمدعلی لیکلے دغه نعت دے په مزه کښې

قسم دے سکون پروت دے په مکه او مدینه کښې

قسم دے سکون پروت دے په مکه او مدینه کښې

وعظ ونصیحت

دَ یو ظالم سره اُودرېږه نه

دَ مظلومانو نه پټېږه نه

دَ هر حاسد سره حسد کووه

دَ شیطانانو پکارېږه نه

د شرابیانو نه نفرت کووه

دَ سود خورو دلته خوښېږه نه

دَ قاتلانو ملگرتیا نه کوُم

په ظالمانو خفه کیږه نه

دَ بدعتی نه زۀ نفرت کووه

په یو گمراه پسے ژړېږه نه

زۀ دَ توحید جهنډه په لاس ساتمه

دَ یو مشرك سره اُوسیږه نه

احمد په دي باندي خوشحاله یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د نیکانو نه بلیږمه نه

وعظ ونصیحت

څوک چې ټول نبیان اور مُرسلان منی
هغه به دُنیا کښې حق بیان منی
څوک چې د نبی ﷺ ښهٔ طریقه منی
هغه نُور رڼا به د قرآن منی
څوک چې فضیلت د هر امام منی
هغه به دُنیا کښې ټول نیکان منی
څوک په ربښیا پسې روان وی ځی
هغه په دُنیا کښې حق اعلان منی
څوک د انوارو سلسله منی
هغه اولیاء ټول د جهان منی
څوک منی جنت او جهنم چې نن
اے احمده! هغه به میزان منی

وعظ ونصیحت

شر له شر له دلته زور مهٔ ورکوه
دغې زړهٔ له ره رنګ تور مهٔ ورکوه
معصیت کښې مبتلا چې یو بشر شی
په ګناه ورله پیغور مهٔ ورکوه
د توحید په رنګ کښې رنګ شهٔ مسلمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورلــــه رنګ پـــه دُنیـــا نُــور مــــۀ ورکــوه
دَ رحــــمــــان ویــنـــا کــوه پـــه هـــره لار
دَ شیـــطـــان ویـــنـــا لـــه زور مـــۀ ورکــوه
بـــد کــــلام لـــره بیــــا زور مــــۀ ورکـــوه
دَ اســـلام دَ بُـــنیـــادونـــو چـــې دښـــمـــن دے
بـــدعتـــی لـــه دزړۀ کـــور مـــــۀ ورکـــوه
دَ هـــرچـــا دَ میـــنـــې بیـــل جُـدا مـقـــام دے
میـــنـــه چـــالـــه دَ خـــور وروړ مـــۀ ورکـــوه
چـــې دَ میـــنـــې مـحبت پـــه خـونـد پـو هیـــږی
دغــــه زړۀ لــــه بیـــا تـــکـــور مــــۀ ورکـــوه
اے احـــمـــده! چـــې دَ خیـــر پـــه لاره نـــۀ ځـــی
لاس کښـــې لاس کښـــې دَ شـــر لـــور مـــۀ ورکـــوه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستـــا راتـــلـــو ســـره بـــدعـــت لـــه دُنیـــا لاړو
شیـــطـــانـــی او شـــرارت لـــه دُنیـــا لاړو
ستـــا لـــه مـــخـــه دا جهـــان رڼـــا رڼـــا شـــو
ستـــا لـــه مـــخـــه هـــر آســـمـــان رڼـــا رڼـــا شـــو
ګـــمـــراهـــی هـــریـــو ظـــلـــمـــت لـــه دُنیـــا لاړو
شیـــطـــانـــی او شـــرارت لـــه دُنیـــا لاړو
ستـــا لـــه مـــخـــه هـــریـــو زړۀ پـــه اطـــمینـــان شـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا له مخه كور دَ هر بشر ودان شو

بې ديني سره لعنت له دُنيا لاړو

شيطانی او شرارت له دُنيا لاړو

ستا له مخه نورانی تو له فضا شوه

ستا له مخه معطره دا دُنيا شوه

كفر وشرك هر ضلالت له دُنيا لاړو

شيطانی او شرارت له دُنيا لاړو

ستا له مخه دَ احمد كلے ودان شو

ستا له مخه دَ ايمان په لار روان شو

هر حسد هر عداوت له دُنيا لاړو

شيطانی او شرارت له دُنيا لاړو

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ستا راتګ سره نشه له دُنيا لاړه

دَ شيطان هره حصه له دُنيا لاړه

ستا راتلو سره هر كور كښې خوشحالی شوه

ختمې تولې دُښمنی شوې وروروِلی شوه

دَ كفارو غلبه له دُنيا لاړه

ستا راتګ سره نشه له دُنيا لاړه

ستا راتلو سره حيا دَ كور څادر شو

دا څادر په دې جهان دَ هر بشر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بـدامـنـي هـر وسـوسـه لـه دُنیا دُنیا لاړه
ستـا راتګ سـره نشـه لـه دُنیـا لاړه
دَ ایـمـان ډیـوه شـوه پـه هـر کـور کښـې
دَ عـرفـان ډیـوه شـوه بلـه پـه هـر لـور کښـې
دَ نـفـرت هـره تـوتـه لـه دُنیـا لاړه
ستـا راتګ سـره نشـه لـه دُنیـا لاړه
مـال او تـن دَ هـر بشـر شـو پـه امـن
اے احـمـد عـلـی ! هـر زړهٔ شـو لـو چـمـن
دَ شیـطـان هـره جـمـلـه لـه دُنیـا لاړه
ستـا راتګ سـره نشـه لـه دُنیـا لاړه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستـا پـه نُـور سـره ښـائسـتـهٔ سحـر مـا ښـام دے
دَ ژونـدون دَ پـاره ژونـد دغـه تـمـام دے
هـر یـو فـکـر دے عـالـي دے لـه آسـمـانـه
هـر یـو در دے ډیـر اوچـت پـه هـر مـقـام دے
هـر قـدم چـې ستـا پـه خـاورو لـګیـدلے
دغـه خـاوره کښـې عـلاج دَ هـر انـدام دے
ستـا دَ ښکـلـو ښکـلـو شـونډو نـه قـربـان شـم
قـدر مـنـده پـه دې سـره هـر یـو جـام دے
د دُنیـا دَ درسـکـون دے ستـا پـه دیـن کښـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ هرچا دَ پاره پروت په کښي آرام دے

تل دَ امن پیغام تا دلته راوړے

نوم دَ امن په دُنیا دغه اسلام دے

ستا مدّاح دی په دُنیا کښي خاص وعام

ستا وجود ددې جهان ماوِ تمام دے

احمد وائي ستا نسبت دے اُوچت کړے

ستا غلام دے کهٔ غلام دے دَ غلام دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دُنیا کښي دَ هر چا دَ زړهٔ قرار په مدینه کښي

دا گل په مدینه کښي دے دا یار په مدینه کښي

رڼا په مدینه کښي ده وفا په مدینه کښي

دلدار ﷺ په مدینه کښي دے سردار ﷺ په مدینه کښي

ښکلا په مدینه کښي ده حیا په مدینه کښي

سرکار ﷺ په مدینه کښي دے دربار په ﷺ مدینه کښي

رهبر په مدینه کښي دے سحر په مدینه کښي

تاجدار ﷺ په مدینه کښي دے روزگار په مدینه کښي

قمر په مدینه کښي دے نُور نمر په مدینه کښي

مزار په مدینه کښي دے دا دار په مدینه کښي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زما دَ زړهٔ سکون او اطمینان په مدینه کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر اَن په مدینه کښې دے جانان ﷺ په مدینه کښې
هر اَن پـه مـدیـنـه کښې دے محبوب دَ دوجهان
هر اَن پـه مدیـنـه کښې دے محبوب دَ پاك سبحان
عـالـی دَ هر مـکـان نـه هر مـکـان پـه مدینه کښې
هر اَن په مدینه کښې دے جانان ﷺ په مدینه کښې
هـر اَن پــه مـدیـنــه کښــې دے افسـر دَ مُرسـلانـو
هــر اَن پـــه مـدیـنـــه کښې دے رهبـر دَ رهبـرانـو
بُـنـیــاد دَ هـر بشـر دَ هـر ایـمـان پـه مـدیـنـه کښې
هر اَن په مدینه کښې دے جانان ﷺ په مدینه کښې
هـر اَن پــه مـدیـنـه کښې دے رحـمـت دَ کُـل عـالـم
هـر اَن پــه مـدیـنــه کښــې دے مشـفـقـه محـترم
عــالـی دَ هـر چـمـن نـه ګـلسـتـان پـه مدینه کښې
هر اَن په مدینه کښې دے جانان ﷺ په مدینه کښې
هـر اَن پــه مـدیـنــه کښې دے شافـع دَ خپـل اُمـت
هـر اَن پـــه مـدیـنـه کښې دے صادق پـه صداقـت
امیـن دَ کـائـنـات حسیـن انسـان پـه مـدیـنـه کښې
هر اَن په مدینه کښې دے جانان ﷺ په مدینه کښې
هـر اَن پـــه مـدیـنـــه کښـې دے احـمـد وائـی عـزت
هـر اَن پـــه مـدیـنـه کښې دے رحـمـت سره بـرکـت
هر خیـر راجـمـع کـړے پاك سبـحـان په مدینه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر اّن په مدینه کښې دے جانان ﷺ په مدینه کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ ربَ نیازبین محمد مصطفیٰ ﷺ دے
طٰهٰ یٰسین محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زمونږ سره دَ قراَن زړهٔ کښې وُسی
دَ هر مؤمن مسلمان زړهٔ کښې وُسی
ایمان یقین محمد مصطفیٰ ﷺ دے
دَ ربَ نیازبین محمد مصطفیٰ ﷺ دے
پاس له اّسمان په لامکان کښې یاد دے
د دې دُنیا په هر مکان کښې یاد دے
په ربَ مئین محمد مصطفیٰ ﷺ دے
دَ ربَ نیازبین محمد مصطفیٰ ﷺ دے
چې له چانه مقدَم یادیږی
چې له چانه محترم یادیږی
دا اوَلین محمد مصطفیٰ ﷺ دے
دَ ربَ نیازبین محمد مصطفیٰ ﷺ دے
سخر دَ حضرت عثمانؓ حضرت علیؓ دے
نبی دَ ټولو اّخری نبی ﷺ دے
دا اّخرین محمد مصطفیٰ ﷺ دے
دَ ربَ نیازبین محمد مصطفیٰ ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پـه رښتيـا ئـې ټـول جهـان ګـواه دے
عـرب عـجـم کښې هـر انسـان ګـواه دے
دغـه امين مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے
دَ ربَ نيـازيـن مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے

بشـر دے بيـا هـم فـرښتـو نـه غـوره
تـذکـره دائـې تـذکـرو نـه غـوره
دا بهتـريـن مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے
دَ ربَ نيـازيـن مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے

پـخپـلـه ربَ ځـان لـه مـحبـوب ګـرځـولے
احـمـده! دلتـه ئـې مـطـلـوب ګـرځـولے
دغـه حسيـن مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے
دَ ربَ نيـازيـن مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خـدايـه مـا مـهٔ کړے دَ رسول ﷺ دَ يو ادا نـه جُدا
مـهٔ کړه خـدايـه! دَ رسول ﷺ مـا دَ رنـا نـه جُدا
هـره لـمـحـه ددې جهـان چـې تيـرومـه دلتـه
مـا پـه کښې نهٔ کړے يو ساعت دَ مصطفیٰ ﷺ نه جُدا
وطـن بـدن زمـا تـل ښـکـلـے پـه دې نُور سره کړے
خـدايـه چـې نـهٔ شـمـه دُنيا کښې دَ طـهٰ ﷺ جدا
زمـا پـه ژبـه دَ نبـي ﷺ ټـول حديثـونـه وِے بـس

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـهٔ کـړې مـولـىٰ مـا دَرسول ﷺ پاکې وینا نه جُدا
زمـا پـه سترګـوپـه دمـاغـو کښې بـس تل وُسیدے
مـولـىٰ احـمـد نـهٔ کړے هیـڅ کله مجتبىٰ ﷺ نه جُدا

دَ بدعت مذمت

بـدعـت دَ ټـول جهـان دَ پـاره تـکـه توره شپـه ده
بـدبـوٰ دَ هـر مـکـان دَ پـاره تـکـه توره شپـه ده
بدعت کښې په جهان باندې هیڅ خیر په جهان نشته
دُنیـا کښـې نیك انسـان دَ پـاره تـکـه تـوره شپـه ده
بـدعـت ازغـى دُنیـا کښـې دَ تکلیف او مصیبت دى
دُنیـا کښـې مسـلـمـان دَ پـاره تـکـه توره شپـه ده
بـدعـت دَ هـریـو کـور دَ پـاره شپـول دَ مصیبت دے
دانـا او هـرنـادان دَ پـاره تـکـه تـوره شپـه ده
بدعت پـه دې دُنیـا کښې دَ رسـول ﷺ مخالفت دے
احـمـده ! هـریـو ځـوان دَ پـاره تـکـه تـوره شپـه ده

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

دُوسـت دَ مـولـىٰ غـنـى سبـحـان سـاتـمـه
ورسـره نُـور زهٔ دَ قـرآن سـاتـمـه
دَ زړهٔ تـکـور مـې دَ دُنیـا دَ درد مے
دَ سـتـرګـو تـور مـې دَ دُنیـا دَ درد مے
داسـې عـظیـم شـائستـهٔ انسـان سـاتـمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره نُور زۀ دَ قرآن ساتمه

دَ زړۀ سکون دلته دَ هر بشر دے

دَ زړۀ سکون نوراني نور قمر دے

نمر رهنما نُور دَ ايمان ساتمه

ورسره نُور زۀ دَ قرآن ساتمه

دَ زړۀ سکون دَ بشکلو خلقو ټولو

ژوند دَ ژوندون دَ بشُکلو خلقو ټولو

دَ سلطانانو دا سلطان ساتمه

ورسره نُور زۀ دَ قرآن ساتمه

په ټول سيرت لکه دَ ګل ښائسته دے

ورسره هر ځائے هر محفل ښائسته دے

زۀ ئي احمد داسي بيان ساتمه

ورسره نُور زۀ دَ قرآن ساتمه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دردے درد محمد ﷺ دَ رحمتونو

دردے درد محمد ﷺ دَ برکتونو

ربَ دے بوځه چي ئي ويني پخپله

دردے درد محمد ﷺ دَ نعمتونو

نشته نشته داسي دربل په جهان

دردے درد محمد دَ همتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدائے نصیب دے کړه احمده! دغه در

دردے دَردَ محمد ﷺ دَ نسبتونو

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قسم دے بهترینه طریقه دَ محمد ﷺ ده

دَ ژوند دَ پاره ښکلے نظریه دَ محمد ﷺ ده

دُنیا کښې دَ دُنیا دَ مسلمان دَ پاره هم

دُنیا کښې دَ دُنیا دَ هر انسان دَ پاره هم

رڼا دَ هر یو در هره جمله دَ محمد ﷺ ده

قسم دے بهترینه طریقه دَ محمد ﷺ ده

دُنیا کښې دَ فلاح بهبود دَ پاره هر ساعت

دُنیا کښې دَ فلاح بهبود دَ پاره دَ اُمت

قسم دے بهترینه ښۀ اُسوه دَ محمد ﷺ ده

قسم دے بهترینه طریقه دَ محمد ﷺ ده

دُنیا کښې دَ هر چا دَ خوشحالو ده ذریعه

دُنیا کښې ده دَ ژوند دَ پاره ښکلے نمونه

صفا دَ ژوند دَ پاره ائینه دَ محمد ﷺ ده

قسم دے بهترینه طریقه دَ محمد ﷺ ده

سکون دَ هر بشر دے په کښې پروت د ټول جهان

احمدلري دُنیا کښې دا یقین او دا ایمان

دُنیا کښې یو ژوندي دا معجزه دَ محمد ﷺ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم دے بهترینه طریقه دَ محمد ﷺ ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نُور رڼا دَ هر یو در
محمد خیر البشر ﷺ
انبیاؤ کښي افسر
محمد خیر البشر ﷺ
دَ هر چا دلته اُستاد
دَ هر چا دلته بُنیاد
دَ دُنیا دَ در سحر
محمد خیر البشر ﷺ
مجسَم دے محبت
تول رحمت دے تول رحمت
بره نُور دے دَ قمر
محمد خیر البشر ﷺ
دَ هر چا دَ زړه علاج
دَ هر چا دَ سر دے تاج
دَ چا نُور دَ نظر
محمد خیر البشر ﷺ
دَ غریب سړي دے مل
دَ یتیم سره دے تل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ هـــرچـــانـــه دے بهتـــر
مـــحـــمـــد خيـــر البشـــر ﷺ
ديــــن دَ امـــن ئـــــي اســـلام
بهتــــريــــن ئـــي دے كـــلام
احـــمـــد وائـــى مـــختـــصـــر
مـــحـــمـــد خيـــر البشـــر ﷺ

نعتِ مصطفٰى ﷺ

لـويـه خدايـه ! ستـانـه ژوند دَ سكون غـوارم
مـحبـت سـره تـرلـے ژونـدون غـوارم
تـعـلـق درنــه زۀ غـوارم دَ نبـى ﷺ
هـر شيـطـان نـه پـه دُنيـا كښـي بيلتون غوارم
دَ بـدعـت تـورو تيـرو نـه مـاكـړے لـرے
پـه سـنـت سـره خپـل ژونـد كښـي بدلون غـوارم
چـي دَ ميـنـي مـحبـت اخـلاص نـه ډك وى
هـر ساعـت دغـه ښائستـۀ ښـۀ مضمون غـوارم
اتبـاع دَ مـحـمـد ﷺ زمـا نـصيـب كـړے
پـه وجـود كښـي زۀ دنـنـه بيـرون غـوارم
غـوارم ستـانـه زۀ احـمـد دَ رسـول ﷺ ميـنـه
دغـه ميـنـه زۀ پـه شـان دَ مـجـنـون غـوارم

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ جــنــت يــوه ټـکــړه ده مــديــنــه ده
دَ انــوارو يــو چيــنــه ده مــديــنــه ده
دلتــه هــر ځــائے کښې رحمت شتــه ملاويــږي
دلتــه هــر ځــائے لــوئے نسبت شتــه ملاويــږي
دَ عــرب يــو ه حــصــه ده مــديــنــه ده
دَ انــوارو يــو چيــنــه ده مــديــنــه ده
دلتــه نُــور پــه هــر يــو در بــانــدې وريــږي
دلتــه نُــور پــه هــر بشــر بــانــدې وريــږي
دَ ګــلــونــو ګــلــدستــه ده مــديــنــه ده
دَ انــوارو يــو چيــنــه ده مــديــنــه ده
ســاکــنــان لــکــه دَ نــمــر ئــې تــول ځــليــږي
عــاشــقــان لــکــه دَ نــمــر ئــې تــول ځــليــږي
د انــوارو مــجــمــوعــه ده مــديــنــه ده
دَ انــوارو يــو چيــنــه ده مــديــنــه ده
خــوشبــودار دی چــې خــوك دلتــه کښې وُسيــږي
تــابــعــدار دی چــې خــوك دلتــه کښې وُسيــږي
دَ نــجــات يــو ســفيــنــه ده مــديــنــه ده
دَ انــوارو يــو چيــنــه ده مــديــنــه ده
اے احــمــد عــلــی! پــه نُــور ســره يــاديــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه سيدالبشر ﷺ دلته وسيږي
چي شائسته ئي تذکره ده مدينه ده
دَ انواروي و چينه ده مدينه ده

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

چرته چي ذکر دَ نبي اخرزمان ﷺ کيږي
هلته قسم دے دَ انوارو تش باران کيږي
مادي داليدلي دا آثارئي محفلونو کښي تل
مادي ليدلي دا آثارئي په نعتونو کښي تل
چرته چي ذکر دَ نبيانو دَ سلطان ﷺ کيږي
هلته قسم دے دَ انوارو تش باران کيږي
مادي ليدلي رحمتونه په دي خپلو سترګو
مادي ليدلي نعمتونه په دي خپلو سترګو
چرته چي ذکر دَ محبوب دَ پاك سبحان ﷺ کيږي
هلته قسم دے دَ انوارو تش باران کيږي
داسي تول وائي په دُنيا کښي عالمان خلق
داسي تول وائي په دُنيا کښي عاشقان خلق
دَ نُور ذکر دلته چي چرته په جهان کيږي
هلته قسم دے دَ انوارو تش باران کيږي
په دي خبره مي ګواه دي عاشقان دَ نبي ﷺ
په دي خبره مي ګواه دي اُمتيان دَ نبي ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمده ! کوم ځـائـے کښي چې ذکر دَ جانان کیـږي
هـلـتــه قسـم دمے دَ انـوارو تــش بـاران کیــږي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چـرتـه چې ذکـر دَ حـضرت خیـر الانام ﷺ کیـږي
هـلتــه کښـي فـضـل پـه هریـو بشـر غـلام کیــږي
هـلتــه کښـي فـضل رحـمتـونــه بـرابـر وریـږي
هـلتــه کښـي فضـل رحـمتـونـه پـه هـر در وریـږي
کُـوم ځـائـے چې دا عـمـل پـه شوق سره مُدام کیـږي
هـلتــه کښـي فـضـل پـه هریـو بشـر غـلام کیــږي
هـلتــه کښـي فـضـل دَ مـولـیٰ پـه هـر بشـر وریـږي
هـلتــه کښـي فضـل دَ مـولـیٰ پـه هـر افسـر وریـږي
کوم ځـائـے چې دا عـمـل سحـر سره مـابـام کیـږي
هـلتــه کښـي فـضـل پـه هریـو بشـر غـلام کیــږي
هلتـه کښـي فـضـل پـه دُنیـا وی بې حسابه دَ ربَ
هلتـه کښي فـضـل پـه هرخوا وی بې حسابه دَ ربَ
کوم ځـائـے چې دا عـمـل دُنیا کښـي بـنـۀ تمام کیـږي
هـلتــه کښـي فـضـل پـه هریـو بشـر غـلام کیــږي
هـلتــه بــه میـنــه مـحبـت دَ هـریـشـر سـره وی
هـلتــه بــه میـنــه محبـت دَ هـریـو در سـره وی
احـمـده ! کـلـه چـې درود سـره سـلام کیــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته کښې فضل په هر يو بشر غلام کيږي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ته محبوب هر بشر ئې هر بشر درنه ځاريږي
ته محبوب دَربَ اکبر ئې بحر وبر درنه ځاريږي

ستا ښائسته ښکلې صفات دي
بهترين په ټول جهات دي
افسرانو کښې افسر ئې هر افسر درنه ځاريږي
ته محبوب دَربَ اکبر ئې بحر وبر درنه ځاريږي

ته خاتم النبيئين ئې
ته امام المُرسلين ئې
رهبرانو له رهبر ئې هر رهبر درنه ځاريږي
ته محبوب دَربَ اکبر ئې بحر وبر درنه ځاريږي

ته مئين په ټول اُمت ئې
مجسَمه ټول رحمت ئې
بهترين ئې ته بهتر ئې هر بهتر درنه ځاريږي
ته محبوب دَربَ اکبر ئې بحر وبر درنه ځاريږي

ستا اخلاق ښکلی قرأن دي
احمد وائی عاليشان دي
دلبرانو له دلبر ئې هر دلبر درنه ځاريږي
ته محبوب دَربَ اکبر ئې بحر وبر درنه ځاريږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ پاك نبي ﷺ سيرت ښكلے نقشه ده ددې ژوند
ښُودلے ئې هرچاته طريقه ده ددې ژوند
هرڅوك ئې دَ ژوندون په طريقه دے خبر كړے
هرچا ترينه زده كړے فلسفه ده ددې ژوند
هر كار دَ شريعت ئې دے ښودلے مكمل
قسم دے كۀ ركوع ده كۀ سجده ده ددې ژوند
راضي كړے رب راضي كړے درنه ربَ ناراضه نۀ شي
مقصد سره ښُودلے ئې خلاصه ده ددې ژوند
رڼا ورسره هرڅۀ په جهان دي دَ جهان
رڼا ئې رڼا نُور سره هر شپه ده ددې ژوند
چمن ورسره دلته په جهان دے ښائسته شوے
ښائسته په دغي نُور هره حصه ده ددې ژوند
ائين ئې دَ جهان دے دَ مولیٰ دغه كلام
باقي ئې تر قيامته معجزه ده ددې ژوند
وينا كښې ئې دي خوند داسې احمد دَ جهان وائى
قسم دے اتباع كښې ئې مزه ده ددې ژوند

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ هرچا دَ زړۀ قرار زمونږ نبي ﷺ دے
په نبيانو كښې سردار ﷺ زمونږ نبي ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ ګلونو ګلدستــهٔ کښي ښائستــهٔ ګل دے

محفلونو کښي ښائستــهٔ ئي هر محفل دے

دَ هــرچــا دَ غــاړې هــار زمونــږ نبــی ﷺ دے

په نبیــانــو کښي سردار ﷺ زمونــږ نبی ﷺ دے

شـــريــعـــت ئـي نُـور رنــا دَ هــرتــورتــم ده

شـــريـعـــت ئـــي نُـوررنــا دَ ټـول عــالــم ده

پـــه خـــزان پسے بهـــار زمــونـــږ نبــی ﷺ دے

په نبیــانــو کښي سردار ﷺ زمونــږ نبی ﷺ دے

مهـــربـــان پــــه غـــریـــب او پــــه یتیـم دے

لـــه هـــرچـانــه پـه دُنیا کښي زیات کـریم دے

پـــه دُنیــا کښي دا دلدار ﷺ زمونــږ نبــی ﷺ دے

په نبیــانــو کښي سردار ﷺ زمونــږ نبی ﷺ دے

دَ قــــرآن ډیـــوه پـــه لاس دلتــــه کښـــي راغـــے

دَ عـــرفـــان ډیـــوه پـــه لاس دلتـــه کښـــي راغـــے

دا داعــــی دَ نیــغـــي لار زمـــونـــږ نبــــی ﷺ دے

په نبیــانــو کښي سردار ﷺ زمونــږ نبی ﷺ دے

مـــا احـــمـــد ئـــي ذکـــر کـــړے پــــه ادب دے

دَ عــــجــــم ســـره امــــام دَ ټـــول عـــرب دے

بـــل مـــحبـــوب دَ ربّ غـفـــار زمـــونـــږ نبـــی ﷺ دے

په نبیــانــو کښي سردار ﷺ زمونــږ نبی ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دوه ټـکـرې دَ قـمـر بـره پـه جهـان دے مـعـجـزه ده
عـالیشـان دے مـعـجـزه ده دا قـرآن دے مـعـجـزه ده

تـاتـه هـرځـائـے سـلامـونـه پـه مـکـه کښې بيا دَ کاڼرو
دَ شـجـر تـا تــه سـلام هـريـو بيـان دے مـعـجـزه ده

دَ بـدر اُحـد مـيـدان کښــې هـغــه نـاسـتــه او ولاړه
دغـه تـلـل په هر ميدان کښې په ميدان دے معجزه ده

دَ هـجـرت پـه تـوره شپـه کښـې کافران شول تول ذليله
دا دُنيـا کښـې قـدرمـنـده عـاليشـان دے مـعـجـزه ده

اَس پـه زمـکـه کښـې شـو ښخ تـاپسـے وو چې روان
دَ دُنيــا د دغــې در دلـتـــه عيـان دے مـعـجـزه ده

دَ صـديـقؓ عـمـرؓ مـقـام پـه هـرځـائـے کښې هرساعت
دَ حيــا ښـکـلـے ځـادر دَ عثمـانؓ دے مـعـجـزه ده

دَ عـلـیؓ پـه لاس کښې تـوره دَ خيبر دَ هـغـه فتـحـه
دَ بـلالؓ پــه ژبــه ښـکـلـے هر اَذان دے معجزه ده

دَ دُنيــا دَ در څــهٔ څيــز يــا اُوبــه وے کــهٔ خوراک
لږ چې ډيرولـه کافي شو دغـه شان دے معجزه ده

هـريـو قـول دے مـعـجـزه دے احـمـد وائـی دَ جهـان
بـاغ دُنيـا کښې دَ کجهـورو دَ سلمان دے معجزه ده

★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بهترین سیاستدان ئې ، بهترین ته حکمران ئې
ته محبوب دَ ټول جهان ئې، ته محبوب دَ پاك سبحان ئې
یو رهبر دَ هر یو درئې ، په وُجود سحر سحر ئې
قدرمنده عالیشان ئې ، ته سپرلے دَ هر خزان ئې
ته محبوب دَ ټول جهان ئې، ته محبوب دَ پاك سبحان ئې
ته طالب ئې هم مطلوب ئې ، ته مُحب ئې هم محبوب ئې
هم سخی ئې مهربان ئې ، تل دَ حق ته ترجمان ئې
ته محبوب دَ ټول جهان ئې، ته محبوب دَ پاك سبحان ئې
لاثاني ئې په مخلوق کښې ،اَساني ئې په مخلوق کښې
نُور دَ علم دَ عرفان ئې ته یو ګل دَ ګلستان ئې
ته محبوب دَ ټول جهان ئې، ته محبوب دَ پاك سبحان ئې
هر یو ستا دَ در غلام دے ، مقتدي دے که امام دے
سیورے هر ځائے دَ انسان ئې ، یو حصه دَ هر ایمان ئې
ته محبوب دَ ټول جهان ئې، ته محبوب دَ پاك سبحان ئې
زهٔ احمد یم ستا په لاره ، مصطفیٰ خیر الابراره ﷺ
ته علاج دَ هر خفګان ئې ، یاد په زمکه په اَسمان ئې
ته محبوب دَ ټول جهان ئې، ته محبوب دَ پاك سبحان ئې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ خدائي فضل وکرم دَ ربَ احسان دے محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهتـاب دے یـا اَفتـاب دَ ټول جهان دے محمد ﷺ

رڼـــا دَ هـــریـــو درد دَ هـــدایـــت ده دَ جهـــان

دُنیـــا کښـــې د دُنیـــا دَ درعـــرفــان دے محمد ﷺ

سیـرت صورت ښائستـهٔ ئې مثالی په هر مقام

یـو ګــل دې دُنیــا دَ ګلستــان دے مـحـمـد ﷺ

امـــام دَ امـــامـــانـــو مـقتـدا دَ عـلـمـــاء

رڼـا پـه هـره زمکـه پـه اسمـان دے محمد ﷺ

عــلاج دَ رنـځـورانـو دَ دُنیـــا دَ ټـولـو خـلـقـو

دَ هـرچـا دَ زړهٔ هـرځـائے اطمینـان دے محمد ﷺ

صـفــات ئــې دی ګـلـونـه ګلدستـه ده دَ جهـان

احـمـده ! پـه هرخوا داسې بیـان دے محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

انــوار دې دُنیـــا دی ټـول انــوار دَ مـحـمـد ﷺ

خـوارهٔ دی پـه دُنیـا کښې ټول اسرار دَ محمد ﷺ

هــر ګــل کـوی خـنـدا دې جهـان پـه محمد ﷺ

هر ګل کړی خوشحالی دغه چمن کښې دَ جهان

صـورت کښـې ئـې مُسکـا ده پـه بهار دَ محمد ﷺ

ګــواه پـــه دې خبــره یـو ایــت مـې دَ قــراٰن دے

ګـفتـار دے دَ مـولـیٰ هـریـو ګفتـار دَ محمد ﷺ

اخلاق ئې دَ جهـان ښکلے کتاب زمونږ دَ ربَ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــه دي وجـي عــالـي دے هـر كـردار دَ مـحـمـد ﷺ

مـكــان او لامــكـان كښي پـه عزت سره يـاديـږي

ديـدار دَ پـــاك روضـــي كــړه ديـدار دَ مـحـمـد ﷺ

ګلونه دا ښائسته ښائسته به ستا نه تول شي هير

كـۀ ستا شو په نظـر ښائسته ګلزار دَ محمد ﷺ

لـعـلـونـــه دَ جـهــان دي تـول يـاران دَ مـحـمـد ﷺ

پـــه ګـل ســره يــاديــږي هـريـو يـار دَ مـحـمـد ﷺ

رنـائـي دَ سـنـت پـه تـول جـهـان كښي خوره شوے

مـنـلـے هـم مـقـام دے دا اغـيـار دَ مـحـمـد ﷺ

فـكــرونـو او خيــالـونـو كښي رنـا دَ هـر بشـر ده

احـمـــدہ! دا رنـــا ده پــــه هـــرلار دَ مـحـمـد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ آسمان نـه اُوچـت بـره ، دغـه شان دَ محمد ﷺ دے

بهتـرين لـه بـحـر وبـره ، دغـه شان دَ محمد ﷺ دے

دَ فـلاح سبب دُنيـا كښي ، پـه هـر كـار او په وينا كښي

مـحـمـد ﷺ دے محمد ﷺ دے مقتدا زما دُنيا كښي

ده خبـره مـعـتبـره ، دغــه شـان دَ مـحـمـد ﷺ دے

بهتـرين لـه بـحـر وبـره ، دغـه شان دَ محمد ﷺ دے

پـاس لـه عـرشـه لـه آسمانـه ، د دُنيا لـه هـر جهانـه

دا مقـام دَ مـحـمـد ﷺ دے ځـان خبـر كـړه لـه بيانـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوراني نُور منوَره ، دغه شان دَ محمد ﷺ دے

بهترين له بحر وبره ، دغه شان دَ محمد ﷺ دے

په نبيانو کښي افضل دے ، نوراني ئي هر محفل دے

محمد ﷺ دے محمد ﷺ دے معطَره خوشبو تل دے

ځان خبر کړه له خبره، دغه شان دَ محمد ﷺ دے

بهترين له بحر وبره ، دغه شان دَ محمد ﷺ دے

په سنت کښي ئي ده مينه ، شريعت کښي ئي ده مينه

محمد ﷺ دَ ټول جهان دے هدايت کښي ئي ده مينه

ده خبره برابره ، دغه شان دَ محمد ﷺ دے

بهترين له بحر وبره ، دغه شان دَ محمد ﷺ دے

دَ احمد زړهٔ کښي وُسيږي ، اطمينان پري ملاويږي

محمد ﷺ دے محمد ﷺ دے چي ئي ذکر کله کيږي

نهٔ دي پټ له دي نظره ، دغه شان دَ محمد ﷺ دے

بهترين له بحر وبره ، دغه شان دَ محمد ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګل دَ ګلاب دے ښائسته ګل يا دَ ريحان ښکاري

داسي دُنيا کښي په دُنيا زما جانان ﷺ ښکاري

حُسن ښُکلا ته ئي دُنيا کښي هر بشر حيران دے

حُسن ښُکلا ته ئي دُنيا کښي هر افسر حيران دے

په دي ګلونو کښي ممتاز په ټول جهان ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې دُنیا کښې په دُنیا زما جانان ﷺ ښکاری
ورته قسم دے په کتو باندې به موړ نۀ شے تۀ
ورته قسم دے په لیدو باندې به موړ نۀ شے تۀ
دا سې دا ګل د دې دُنیا په هر مکان ښکاری
داسې دُنیا کښې په دُنیا زما جانان ﷺ ښکاری
ورته په حُسن کښې ښُکلا دَ ګلاب نۀ رسیږی
ورته په حُسن کښې ښُکلا دَ یو باب نۀ رسیږی
داسې دُنیا کښې پاك نبی اٰخرزمان ﷺ ښکاری
داسې دُنیا کښې په دُنیا زما جانان ﷺ ښکاری
ورته په حُسن کښې ښُکلا دَ ریحان نۀ رسیږی
ورته په حُسن کښې ښُکلا دَ جهان نۀ رسیږی
احمده ! ګل دغه حسین ډیر عالیشان ښکاری
داسې دُنیا کښې په دُنیا زما جانان ﷺ ښکاری

نصیحت

خبر نۀ شوې دُنیا کښې دَ خپل دینه لا تراوسه
په دې وجه ئې دلته کښې لعینه لا تراوُسه
قدم دے دَ ابلیس په قدم اینښے قدم تا دے
ځکه دے یادوی تول بدترینه لا تراوُسه
هر کار کښې دَ نبی ﷺ نه تۀ روان ئې بل طرف ته
په شر باندې ئې دلته کښې مئینه لا تراوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قران نه لري لري په دُنيا کښې تهٔ اُوسيږے
له دي وجي ئې دلته کښي غمګينه لا تراوسه
بدعت باندي مئين ئې دغه کار دے دَ شيطان
دُښمن ئې دَ اَلِه الغلمينه لا تراوسه
ناصح درته احمد دے مختصر ئې نصيحت دے
خبره ده ترخه په تا شيرينه لا تراوسه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

چي نصيب چا ته رضا دَ محمد ﷺ ده
ورسره حُسن ښکلا دَ محمد ﷺ ده
ورسره ددي جهان هريو نعمت دے
چي نصيب چا ته دُعا دَ محمد ﷺ ده
ورسره د دي جهان ښکلي اخلاق دي
چي نصيب چا ته وفا دَ محمد ﷺ ده
ورسره ددي جهان دى ملغلرے
چي نصيب چا ته وينا دَ محمد ﷺ ده
هغه ولے دَ تيرو کوى غمونه
چا سره چي نُور رڼا دَ محمد ﷺ ده
زهٔ احمد دلته کښي ځکه يم خوشحاله
تا سره مدح وثنا دَ محمد ﷺ ده

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هغه خلق دلته کښې غمونه کړي
څوك چې هیر قرآن او حدیثونه کړي
څوك چې دَسنت پرواه اُنکړي نن
څوك چې دا ساعت پرواه اُنکړي نن
بیا به په محشر کښې فریادونه کړي
څوك چې هیر قرآن او حدیثونه کړي
څوك چې شریعت سره وفا نهٔ کړي
څوك چې اقتدا دَ مصطفیٰ ﷺ نه کړي
بیا به ئې تباه دا عملونه کړي
څوك چې هیر قرآن او حدیثونه کړي
څوك چې دَ نبي ﷺ په طریقه نهٔ ځي
څوك چې په اُسوهٔ حسنه نهٔ ځي
دُوی به بیا په جار تول آوازونه کړي
څوك چې هیر قرآن او حدیثونه کړي
څوك چې دَ شیطان په لاره تلل کوي
څوك چې دَ شیطان سره محفل کوي
دا انسان په سر مصیبتونه کړي
څوك چې هیر قرآن او حدیثونه کړي
څوك چې دَ اصحابو ؓ اقتدا نهٔ کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوك چې مصطفیٰ ﷺ سره وفا نهٔ كړي
اے احمده! ځان باندې ظلمونه كړي
څوك چې هير قرآن او حديثونه كړي

نصيحت

دين رانه چرته مونږه چرته لاړو
مونږ دَ شيطان كلي او ور ته لاړو
مونږه دَ خير ښېګړې كار پرېښودو
دَ شيطانانو مونږ ګندېر ته لاړو
دَ بدعتيانو ملګرتيا كوو مونږ
مونږه ابليس ګمراه رهبر ته لاړو
مونږه توحيد دَ خپل مولیٰ پرېښودو
په دغه وجه مونږ سقر ته لاړو
مونږ دَ چمن نه شو په بل طرف
مونږه ازغو لره تېول كر ته لاړو
مونږه اخلاق دَ محمد ﷺ پرېښودل
مونږ دَ بدترونه بدتر ته لاړو
مونږه تيرو كښې خوشحالۍ كوُله
په دغه وجه هر خطر ته لاړو
احمده! هر څه به دا پاتې شي تېول
كهٔ مونږه يو واري آخر ته لاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنت او بدعت

تـــه دَ سـنـت نــه نـا اشـنـا ولـے شـوې
بـا غــي لــه ديـنــه پـه دُنيـا ولـے شـوې
تـــا دَ ابـلـيــس ســره دوستــي كــړې ده
دَ نيــغــي لارې نـــه جُــدا ولـــے شــوې
تـــا دَ مشــرك پــه لاره تـلــل كــړي دي
تـــه حيـــادار وے بــې حيـــا ولـے شـوې
تـــا چـــې دَ خپـل نـــه بـغـاوت كــړے دے
مـنـكــر دُنيـا كنبــې دَ رښتيـا ولــے شــوې
تـــا دَ كـفـــارو مـــلـكــرتيـا كــړې ده
تـــا خـو ليـدل كـړل نـابـيـنــا ولـے شـوې
تــه پـه دې خپـلـو غتـو سـتـرګـو ړونـد شـوې
تـــه وفـــا دار وِے بـــې وفـــا ولـــے شـوې
تـــا خـــو تـــوبــه پـخــه ويـستـلـې وه هـم
تــه دَ لـعـنـت پـــه لاره بيــا ولـــے شـوې
تـــا دَ نيـكــي نـــه ولـــے مـخ اړولـــے
تــه دَ بــاطـل ســره ګــويــا ولـــے شـوې
وائـــي احـــمـــد چـــې تـــا وعـــده كـړې وه
دَ حــق ويـنـا نـــه تـــه بـل خـوا ولـے شـوې

★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدعت او سنت

تـــهٔ لاړے دَ سـنــت نــه دَ بدعـت پــه طرف ولـے
دَ خيــر نـــه پـــه دُنيـــا دَ شــرارت پـــه طـرف ولـے

خپـل ديـن درنـه شو پـاتـے تهٔ دَ خيـر په لاره نهٔ ځـے
تـــهٔ لاړے دَ رحـمـت نــه دَ لـعـنـت پـه طرف ولـے

بـاطـل دے کړهٔ خوشـحالـه په خپل کار او پـه ګفتار
روان شـوې دَ رڼـا نــه دَ ظـلـمــت پــه طـرف ولـے

شيطـان درنـه خوشـحالـه شو پـه شرك او پـه بدعت
عــزت نـــه شوې روان تـــهٔ دَ ذلـت پـه طـرف ولـے

ملګـرے دَ قـارون شوې پـه دې کـار سره دُنيا کښې
لـــه دينـــه شـــوې روان تـــهٔ دَ دولـت پـــه طرف ولـے

ملګـرے دَ فـرعـون شوې په محشر کښې هر ساعت
روان شـــوې دَ مــولـــىٰ دَ عـداوت پـــه طـرف ولـــے

نـمـرود بـه دے ملګـرے پـه محشر شي دَ جهان
روان شـوې دَ شيـطـان دَ اطـاعـت پـه طـرف ولـے

نـاصـح درتــه احـمـد دے دَ مردان حقـه وينا کړي
د مـيـنـــې نـــه روان شوې دَ نفـرت پــه طـرف ولـے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

در دَ افســــــر ﷺ مـــــديــــــنــــــه
نُـــــور مـــــنـــــوَر مـــــديـــــنـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر یو برکت دلته کښي
ده معطّر مدینه
رحم وکرم دلته کښي
دردَ سحر مدینه
غوره تکړه دَ جنت
ښائسته قمر مدینه
رڼا دَ ستوورو یوره
رڼا دَ نمر مدینه
مشك وعنبر دَ جهان
یاده اکثر مدینه
ښکلے چمن دَ نبی ﷺ
لعل وګوهر مدینه
غوره له مقام نه
تاج دَ هر سر مدینه
دَ زړهٔ سکون احمده !
زما نظر مدینه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خنګ چي بدن کښي ددي ساه کردار دے
ددي سنت دلته کښي دا کردار دے
خنګ چي ښُکلا دَ هر چمن په ګل وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې بدن کښې دَ حیا کردار دے
څنګ چې بدن بغیر اُوبو نۀ پائی
داسې ددین په دې دُنیا کردار دے
څنګ چې ژوندون بې له خوراکه نشته
داسې ددین دلته هر خوا کردار دے
رڼا چې بله په جهان کښې ښکاري
دغه دَ ټولو انبیاء کردار دے
نشته تیرې دَ جهالت چې دلته
دا دَ سنت دَ مصطفیٰ ﷺ کردار دے
څنګ چې خوشبو بغیر خوشبو نۀ راځي
داسې دَ دین دَ اولیاء کردار دے
څنګ چې اُوبو سره هر اُور مړ کیږي
په شر کښې دا دَ علماء کردار دے
نن چې په چغو چغو ژاړي شیطان
احمده! دا دَ حق وینا کردار دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رُسوائی په هر مقام د بدعت لویه سزا ده
رُسوائی سحر ماښام دَ بدعت لویه سزا ده
دَ سنت نه لرے والے په دُنیا کښې په هر در
محرومتیا دَ احرام دَ بدعت لویه سزا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

محرومتیا دَ شریعت نه محرومتیا دَ هدایت نه
داسې وائی خاص وعام دَ بدعت لویه سزا ده
محرومتیا ده دَ جنت نه محرومتیا ده سعادت نه
رُسوائی ده تل مُدام دَ بدعت لویه سزا ده
محرومتیا ده شفاعت نه محرومتیا ده هر نعمت نه
دَ احمد دے دا پیغام دَ بدعت لویه سزا ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ملګرتیا ده دَ شیطان دَ بدعت دغه سزا ده
دُښمنی ده دَ رحمٰن دَ بدعت دغه سزا ده
لرے والے دَ نبی ﷺ نه ، لرے والے هر ولی نه
رُسوائی دَ ټول جهان دَ بدعت دغه سزا ده
محرومتیا ده هر یو خیر نه د دُنیا په هر مقام
په دُنیا دے تش نقصان دَ بدعت دغه سزا ده
نشته نشته په کښې خیر دا دَ شر ده مجموعه
تل نقصان دَ دے دَ ایمان دَ بدعت دغه سزا ده
هر یو نیك ئې دے دُښمن ، نشته دے سره امن
ختموي هر اطمینان دَ بدعت دغه سزا ده
دا دي ګند په دغه سر ، ګندګی ده دَ هر در
مصیبت دے تش خفګان دَ بدعت دغه سزا ده
دا تیارهٔ دَ ټول عالم ، دَ عرب او دَ عجم

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد وائي دَ مردان دَ بدعت دغه سزا ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ده سنت یو نُور رنا زهٔ په دے باندې پوهیږم
دَ نبي ﷺ ده هر ادا زهٔ په دې باندې پوهیږم
دغه قُرب دے دَ نبي ﷺ په دُنیا دَ هر ولي
ده دَ دین سره وفا زهٔ په دې باندې پوهیږم
دغه لاره دَ جنت دغه لار دَ هدایت
ده دا لار دَ اولیاء زهٔ په دې باندې پوهیږم
ده رضا دَ ربّ اکبر دا خبر دے معتبر
ده نبي ﷺ ده هم رضا زهٔ په دې باندې پوهیږم
دغه ډهال دے دَ بدن هم کمال دے دَ بدن
ده دَ هر بدن ښُکلا زهٔ په دې باندې پوهیږم
دغه حُسن دَ بشر دغه حُسن دَ هر در
داسې وائي علماء زهٔ په دې باندې پوهیږم
دغه عطر دَ عطّار دا ګلونه دَ ګلزار
اے احمده! په هر خوا زهٔ په دې باندې پوهیږم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محبوب زما دے چې دُنیا کښې دَ هر چا خوښیږي
ګل دے دا ګل چې په دُنیا کښې په هر خوا خوښیږي
چې ئې دَ حُسن دَ ښُکلا دلته جواب نشته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ئې دَ حُسن دَ ښکلا دلته حساب نشته دے
دغه ګل دلته په دُنیا کښې په ښُکلا خوښیږي
محبوب زما دے چې دُنیا کښې دَ هرچا خوښیږي

چې ئې دَ حُسن په دُنیا کښې تماشې کوي ټول
چې ئې دَ حُسن په هر خوا کښې تماشې کوي ټول
ګل دَ مولیٰ دے هرطرف ته په دُنیا خوښیږي
محبوب زما دے چې دُنیا کښې دَ هرچا خوښیږي

چې ئې قمر او وره نمر په تماشه باندې شو
کله ښکاره چې په عرب کښې په مکه باندې شو
دا حسین ګل د دې جهان دَ انبیاء خوښیږي
محبوب زما دے چې دُنیا کښې دَ هرچا خوښیږي

دَ اسمان ستورې ورته ټول په تماشه باندې شو
دَ جهان ستورې ورته ټول په تماشه باندې شو
احمده! ګل دغه ښائسته دَ اولیاء خوښیږي
محبوب زما دے چې دُنیا کښې دَ هرچا خوښیږي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ هر خیر ذریعه محمد عربی ﷺ
دَ اخرده توښه محمد عربی ﷺ
هر چا ده فلاح، دا فلاح دَ ارواح
دَ مولیٰ فیصله، محمد عربی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ هر چا نور رڼا دَ هر چا ده ښکلا
دا اُسوه حسنه محمد عربی ﷺ

دَ غریب مددګار، مددګار دَ یتیم
بیا دَ علم چینه محمد عربی ﷺ

دَ اسلام ئې مذهب نور تمام ئې مذهب
دَ مؤمن ائینه، محمد عربی ﷺ

یو سراج دے منیر هم بشیر او نذیر
دَ دُنیا ده مزه، محمد عربی ﷺ

زۀ احمد وریسے، تر ابد وریسے
دَ رڼا یو ډیوه محمد عربی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نُور دَ محمد ﷺ دے بیان شوي کتابونو کښې
دغه شان راغلے دَ قرآن په ایاتونو کښې

ربَ ئې ذکر کړے په تورات کښې دَ دُنیا دَ در
دغه شان یاد شوي عبادات کښې دَ دُنیا دَ در

خلقو دے راوستے دَ دُنیا په بیانونو کښې
نُور دَ محمد ﷺ دے بیان شوي کتابونو کښې

ذکر ئې راغلے په زبور ښکلی کتاب کښې دے
ذکر ئې راغلے دَ دُنیا ښکلی هر باب کښې دے
دغه شان یاد شوي په دې زمکه اسمانونو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نُـور دَ مـحـمـد ﷺ دے بيان شوي كتـابـونـو كښي
ذكـرئـي راغـلـے پـه انجيـل كښي دَ عيسىٰ ؑ سره
زۀ احـمـد ختـمـومـه دا بيـان پـه دي وينـا سـره
ذكـرئـي راغـلـے دَ نيـكـانـو مـحـفلـونـو كښـي
نُـور دَ مـحـمـد ﷺ دے بيان شوي كتـابـونـو كښي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ذكـر دَ رسـول الـلّـه ﷺ راغـلـے كتـابـونـو كښـي
دغـه شـان راغـلـے دَ قـراٰن پـه تـفسيـرونـو كښي
هـر بشـر گـواه پـه دي خبـره دَ دُنيـا دے نـن
هـر افسـر گـواه پـه دي خبـره دَ دُنيـا دے نـن
مـا دي اوريـدلـي دغـه ذكـر جـمـاتـونـو كښـي
ذكـر دَ رسـول الـلّـه ﷺ راغـلـے كتـابـونـو كښـي
ذكـر دغـه ذكـر پـه اعـلاؤ كښـي اعـلىٰ دے ډيـر
خـورم قسـم دا ذكـر پـس لـه ذكـره دَ مولىٰ دے ډير
داسـي اوريـدلـے دا بيـان مـي تـقـريـرونـو كښـي
ذكـر دَ رسـول الـلّـه ﷺ راغـلـے كتـابـونـو كښـي
دغـه دي سبـب دَ هـر جـنـت دا عـقيـده لـرم
دغـه دي سبـب دَ هـر نـعـمـت دا عـقيـده لـرم
خـورم قسـم اعـلىٰ دے دا نـعـمـت پـه نعمتونو كښي
ذكـر دَ رسـول الـلّـه ﷺ راغـلـے كتـابـونـو كښـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـــه دَ مـولـىٰ هـم دَ رضـــا سبـب ګـنـلے شـي
دغــه دَ رضـــا دَ مـصـطـفـىٰ ﷺ سبب ګـنـلے شي
مـــا احـمـد ئـيِ ذکـر دلتــه کـړے په شعـرونو کښـي
ذکــر دَ رسـول الـلّـــه ﷺ راغـلے کتـابـونـو کښـي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

زۀ يـم عـاشـق دَ پيـغـمبـر ﷺ ځـکـه نعـتـونـه ليکم
هر ځائے کښي هر خوا زۀ په هر در ځکه نعتونه ليکم
دا کـــار دُنيـــا کښــي زۀ قسـم دے عبـــادت ګــڼمــه
دا کــار دُنيـــا کښــي دَ نبــی ﷺ زۀ مـحبـت ګـڼمـه
ده مشـغـولتيـــا زمـــا اکثـر ځـکـه نعـتـونـه ليـکـم
زۀ يـم عـاشـق دَ پيـغـمبـر ﷺ ځـکـه نعـتـونـه ليکم
دا روحـــانـــی غـــذا زمـــا پـــه دي دُنيـــا بـــانـدي ده
جســمـــانـی غـذا زمـا پــه دي دُنيـا بـانـدي ده
بـغيـر لـــه دي يـمـــه نهـر ځـکـــه نعـتـونـه ليـکم
زۀ يـم عـاشـق دَ پيـغـمبـر ﷺ ځـکـه نعـتـونـه ليکم
دا پـــه دُنيـــا کښـي اطـمـيـنـــان دے هـر بشـر دَ پـاره
دا پـــه هــر خـوا کښي اطـمـيـنــان دے دَ هــر در دَ پـاره
دا دي عـــلاج دَ هــر ځيـګـر ځــکــه نعـتـونـه ليـکـم
زۀ يـم عـاشـق دَ پيـغـمبـر ﷺ ځـکـه نعـتـونـه ليکم
دا دے باعـث دَ لـوئي ثـواب پـه دي جهان کښي ماله

(c) ketabton.com: The Digital Library

وائي احمد دا دے عزت پـه هر مـکان کښي تالـه
زۀ يـم لــه دي نــه ښــۀ خبر ځـکـه نعتـونـه ليـکم
زۀ يـم عـاشق دَ پيـغـمبـر ﷺ ځـکـه نعتـونـه ليکم

دُعا (دَ حقيقي مينې دَ پاره)

ربــه درنــه غــوارمــه دَ سيّـدالـوري ﷺ مـيـنـه
راکـړے رالـه راکـړے پـه دُنيا کښې دَ رښتيا مينه
مـيـنــه دروغــژنــه درنــه نــۀ غــوارمــه ربّـه زه
زۀ درنـه بـس غـوارمـه دُنيـا کښـې تـل صـفا مينه
مـيـنــه حـقـيـقـي غـوارمـه زۀ مـجـازي نـۀ غـوارم
تــانــه سـوال کـوُمــه تـانـه غـوارمـه روا مـيـنــه
مـيـنــه دَ بـدشـکـلـو دَ کـفـارو درنــه نــۀ غـوارم
تــانــه خـو بــس غـوارم پـه دُنيـا دَ اوليـاء مـيـنــه
مـيـنــه درنــه نــۀ غـوارم دَ سپـو او خـنـزيـرانـو زۀ
نــۀ غـوارم لتــانــه پــه دُنيـا دَ بـي وفـا مـيـنــه
يـو شـان چـي ظـاهـر او بـاطـن نـۀ وي پـه جهان کله
هيـڅ کـلـه ښــۀ نـۀ ده پـه دُنيا کښې دَ ريا مـيـنــه
يـو چـي کړي دا زړونـه، نفرتونه چي پرے لرے شي
دا احـمـد غـوښتـلي ربّـه! ستـانـه پـه دُنيا مـيـنــه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

پـه سنـت سره دُنيا کښې ښـۀ ښائسته دا زندګي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریعت چې په کښې نۀ وي هر طرف ته بدرنګي وي
دَ ګلونو دا یو هار دے چې انسان ئې کړي په غاړه
په دې هار سره دُنیا کښې هر محفل کښې تازګي وي
سادګي ده هر سنت کښې عاجزي ده هر سنت کښې
عقل مند دے په دُنیا کښې چې په چا کښې سادګي وي
دَ قران سره سنت، نُور دے نُور دَ شریعت
کامیابي ده په جهان چې کامله بندګي وي
په غرور کښې عزت نشته دَ دُنیا دَ در ذلت دے
عزت مند دے په جهان چې په چا کښې عاجزي وي
پاك نبي ﷺ راضي راضي کړه احمد وائي مختصر
ربّ راضي به وي هغه نۀ چې راضي ترینه نبي ﷺ وي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خاورې خوشبوداري مدینه کښې کور په کور کښې دي
سیّدالوریٰ ﷺ سره روضه کښې کور په کور کښې دي
خاورې خوشبوداري دا دَ مشك او دَ عنبرو دي
خاورې خوشبوداري بیش قیمته له سرۀ و زر دي
دا دَ پاك رسول الله ﷺ کوڅه کښې کور په کور کښې دي
خاورې خوشبوداري مدینه کښې کور په کور کښې دي
خاورې خوشبوداري قیمتي له هر ګوهر نه دي
خاورې خوشبوداري قیمتي له هر حجر نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دَ مدینې هره حصه کښې کور په کور کښې دې

خاورې خوشبوداري مدینه کښې کور په کور کښې دي

دې سره نسبت دے دَ حضرت خیر الابرار نبی ﷺ

دې سره نسبت دے دَ نبیانو دَ سردار نبی ﷺ

دا دَ مدینې په باغیچه کښې کور په کور کښې دې

خاورې خوشبوداري مدینه کښې کور په کور کښې دي

تا دے بیان کړے د دې خاورې لوئې مقام صفت

تا ئې بیان کړے اے احمده! ناتمام صفت

دا دَ مدینې په محله کښې کور په کور کښې دي

خاورې خوشبوداري مدینه کښې کور په کور کښې دي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نُور دے نُور او هم بشر

خوږ زمونږه پیغمبر ﷺ

نُور دے نُور دَ کائنات

نُور دے نُور دَ کُل جهات

نور دے نُور تول سراسر

خوږ زمونږه پیغمبر ﷺ

نُور دے نُور ددې جهان

نُور دے نُور دَ لامکان

داسې یاد دے په هر در

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږ زمونږ پیغمبر ﷺ

نُور دے نُور دَ ټول عرب

نُور دے دَ نُور دَ هر مذهب

نُور دے نُور دَ هر یو شب

داسې وائي هر رهبر

خوږ زمونږ پیغمبر ﷺ

نُور دے نُور دَ هر قدم

دَ عرب او دَ عجم

نُور دے نُور دَ لر او بر

خوږ زمونږ پیغمبر ﷺ

نور دے نور دَ ټولو ستورو

نُور دے نُور دَ سپینو تورو

نُور دے نُور دَ هر نظر

خوږ زمونږ پیغمبر ﷺ

نور دے نُور هم دَ احمد

نُور دے نُور دَ نیك او بد

نُور دے نُور دَ پاس قمر

خوږ زمونږ پیغمبر ﷺ

دَ سنتو اهمیت

نُور زمونږ دَ یسین ﷺ دے هر سنت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ هر چا دَ زړهٔ تسکین دے هر سنت
دَ هر چا غمونه دې سره ختمیږي
عبادت بنهٔ بهترین دے هر سنت
دَ هر چا دَ آخرت یوه توښه ده
نُور دَ ربَ العلمین دے هر سنت
په قرآن سره شائستهٔ زمونږ مذهب دے
دَ قرآن دَ پاره ذکر په تفسیر دے
رالیږلے ربَ متین دے هر سنت
طریقه ده خوشبوداره دَ نبي ﷺ دا
هر یو امر دَ امین دے هر سنت
دَ دُنیا دَ هر چمن ښُکلا په دې ده
لکه گُل غوندې حسین دے هر سنت
اے احمد علي رښا دَ هدایت ده
پوره کړے زمونږ دین دے هر سنت

دَ بدعت مذمت

زړهٔ کړه زړهٔ دَ بدعت دَ گند نه پاك
زړهٔ کړه زړهٔ دَ شیطانت دَ گند نه پاك
پاك کړه پاك له هر حسد دغه زړهٔ
زړهٔ کړه زړهٔ دَ هر لعنت دَ گند نه پاك
زړهٔ کړه زړهٔ ښکلے حسین په محبت

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړۀ کړه زړۀ دَ هر نفرت دَ ګند نه پاك
زړۀ کړه زړۀ ښکلے ښائسته پۀ شريعت
زړۀ کړه زړۀ دَ عداوت دَ ګند نه پاك
زړۀ کړه زړۀ دَ هريو خير پۀ کار ښائسته
زړۀ کړه زړۀ دَ معصيت دَ ګند نه پاك
زړۀ کړه زړۀ ښکلے ښائسته پۀ نور توحيد
زړۀ کړه زړۀ دَ شرك ظلمت دَ ګند نه پاك
زړۀ کړه زړۀ دغه آباد پۀ تلاوت
زړۀ کړه زړۀ دَ ضلالت دَ ګند نه پاك
زړۀ کړه احمده! هر ځائے دَ تورتم نه
زړۀ کړه زړۀ دَ هر غفلت دَ ګند نه پاك

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

مدينه کور دَ اطمينان ځائے دے
دا دَ نبي آخر زمان ﷺ ځائے دے
دا دَ اصحابو ؓ دَ نبي ﷺ کلے دے
دا پۀ اصحابو ؓ ښۀ ښائسته ښکلے دے
دا پۀ دُنيا کښې عاليشان ځائے دے
دا دَ نبي آخر زمان ﷺ ځائے دے
دغه مسکن دے هم دَ آل دَ نبي ﷺ
دغه چمن دے هم دَ آل دَ نبي ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دَ خوشبو دَ نُور عرفان ځائے دے
دا دَ نبی آخرزمان ﷺ ځائے دے
دلته بهار دَ شریعت پروت دے
دلته بهار دَ هدایت پروت دے
دا دَ نبیانو دَ سلطان ﷺ ځائے دے
دا دَ نبی آخرزمان ﷺ ځائے دے
دلته ساکن دی تول نیکان خلق
احمده! ښه دې جهان خلق
دَ برکتونو دَ قرآن ځائے دے
دا دَ نبی آخرزمان ﷺ ځائے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ته ئي دوست دَ پاك سبحان یو ډیوه ئي په تیرو کښې
نُور رنا ئي دَ انسان یو ډیوه ئي په تیروکښې
نُور سراج ئي دَبشر نُور سراج ئي دَ هر در
نُور رنا ئي دَ جهان یو ډیوه ئي په تیرو کښې
ته بشیر ئي ته نذیر ئي ته دې قرآن تفسیر ئي
نور رنا ئي دَ عرفان یو ډیوه ئي په تیرو کښې
ته هادي ئي هدایت ئي ترجمان دَ سعادت ئي
نُور ئي نُور دَ هر مکان یو ډیوه ئي په تیرو کښې
نُور دے ستا له نُوره خور په دُنیا کښې په هر لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

نُور ئي نور دَهر اسمان يو ډيوه ئي په تيرو كښي
نُور رنا ئي دَ احمد داسي وائي نيك او بد
نور دے نُور ستا هر بيان يو ډيوه ئي په تيرو كښي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

دا څنګ دے مسلمان چي مصطفىٰ ﷺ نۀ پيژني
مقام دَ مصطفىٰ ﷺ چي په دُنيا نۀ پيژني
دا څنګ دے مسلمان چي دَ قران نه ناخبر دے
سنت دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ نۀ پيژني
دا څنګه مسلمان دے چي اسلام نه ناخبر دے
دُنيا كښي چي روا او ناروا نۀ پيژني
دا څنګه مسلمان دے چي په مينه نۀ پوهيږي
دُښمن په دي جهان او خپل اشنا نۀ پيژني
دا څنګه مسلمان دے شيطان پسے كړي تلل
دُنيا كښي دَ مولىٰ كار دَ رضا نۀ پيژني
دا څنګه مسلمان دے چي عزت نه ناخبر دے
دُنيا كښي عزت داره او رُسوا نۀ پيژني
دا څنګه مسلمان دے چي تاوان نۀ پيژني
دُنيا كښي دَ نادان سره دانا نۀ پيژني
دا څنګه مسلمان دے چي دُنيا سره كړي مينه
كارونه دَ ګناه او دَ تقوىٰ نۀ پيژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څنګه مسلمان دے چې دَ حق نه ناخبر دے
احمدعلی دا څکه ستا وینا نهٔ پیژنی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ړاندهٔ خلق دُنیا کښې مصطفیٰ ﷺ نهٔ پیژنی
کارونه دَ مولیٰ به دَ رضا نهٔ پیژنی
سنت سره چې مینه تعلق نهٔ وی دَ چا
هغه په حقیقت کښې نُوررنړا نهٔ پیژنی
سنت نه ناخبره چې دَ سیَدالابرار ﷺ وی
هغه ددې جهان خپل رهنما نهٔ پیژنی
سنت نه ناخبره چې وی دلته په جهان
هغه دَ کامیابی نفع سودا نهٔ پیژنی
سنت نه خبره چې دَ خاتم الرُسل وی
هغه دَ زړهٔ سکون دَ زړهٔ دوا نه پیژنی
محروم به له هرخیره په دُنیا وی هرساعت
احمدعلی چې ستا دغه وینا نهٔ پیژنی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دغه ژوند دے رب راکړے دَ اسلام دَ پاره
دا اطاعت له دَ نبی خیر الانام ﷺ دَ پاره
لمحه لمحه ئې ده راکړې شریعت دَ پاره
لمحه لمحه ئې ده راکړے نُور سنت دَ پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ پـــاك رســـول ﷺ دَ هــريــو خيــز دَ احتــرام دَ پــاره
دغـــــه ژونـــد دے ربّ راكـــړے دَ اســـلام دَ پـــاره
لـمحـــه لـمحـــه ئي ده راكړے قيمتـي دغــه ده
لـمحـــه لـمحـــه ئي چي راكړے دافـاني دغــه ده
دَ مـصــطـفـــىٰ ﷺ دَ در دَ پــــاره دَ غــلام دَ پـــاره
دغـــــه ژونـــد دے ربّ راكـــړے دَ اســـلام دَ پـــاره
لـمحـــــه لـمحـــــه ئي ده راكـــړے دَ دُنيــا د در
لـمحـــه لـمحـــه ئــي ده راكـــړے نُـور رنـــا دَ در
دَ پــاك نبــي ﷺ دَ لار دَ پـــاره ، بنــــهٔ كـلام دَ پـاره
دغـــــه ژونـــد دے ربّ راكـــړے دَ اســـلام دَ پـــاره
لـمحـــه لـمحـــه ده دا راكړے ربّ خـدمت دَ پاره
لـمحـــه لـمحـــه ئي ده راكـړے عبـادت دَ پاره
دغـــه ژونـدون دے امتـحـان دَ خـاص وعـام دَ پاره
دغـــــه ژونـــد دے ربّ راكـــړے دَ اســـلام دَ پـــاره

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

هــرسـحـــر وايـــه سـلام مـــازيـگـــر وايـــه سلام
بيــــا درود وايـــــه درود پـــــه نبـــي خيــرالانـــام ﷺ
وايـــــــــه وايـــــــــه دا درود ، دا دے حـــكـــــم دَ ودود
بنـــهٔ پـــه مينــــه مـحبـــت وايـــه وايـــه دا تـمــام
هــرسـحـــر وايـــه سـلام مـــازيـگـــر وايـــه سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

درود دے لوئے سعادت، دا عظیم دے عبادت
وائي وائي داسې تول په دُنيا کښې خاص وعام
هر سحر وايه سلام مازيګر وايه سلام
دَ دُنيا ښُکلا ده دا، دَ هرچا ښُکلا ده دا
داسې ياد دے په هرخوا لوئې لرې دلته مقام
هر سحر وايه سلام مازيګر وايه سلام
دا دے تول سکون سکون، دا سکون دَ تول ژوندون
داسې ياد دے په دُنيا هر سحراو هرماښام
هر سحر وايه سلام مازيګر وايه سلام
دا سکون دَ تول اُمت، اے احمده! هرساعت
ښـۀ بهتر دے دا کلام، مختصر دے دا کلام
هر سحر وايه سلام مازيګر وايه سلام

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چا چې دَ نبيانو مرسلانو يار ﷺ ليدلے دے
هغۀ په دې سترګو حقيقي بهار ليدلے دے
هغه په جهان کښې دَ ايمان مزه موندلې ده
هغۀ ددې دين په دې جهان مزه موندلې ده
هغۀ مهربانه حقيقي غمخوار ﷺ ليدلے دے
هغۀ دَ اسلام او شريعت مزه اغستې ده
هغۀ په دُنيا دَ محبت مزه اغستې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا چي محمد خیر الابرار ﷺ یو وار لیدلے دے

هغهٔ په دي سترګو حقیقي بهار لیدلے دے

چا چي ادا ګاني دَ نبي ﷺ دلته لیدلي دي

چا چي رنا ګاني دَ نبي ﷺ دلته لیدلي دي

راز دَ شریعت ئي دَ دُنیا په دار لیدلے دے

هغهٔ په دي سترګو حقیقي بهار لیدلے دے

چا چي اے احمده ! ددي در مزه اخستي ده

چا چي په دُنیا دَ مشك عنبر مزه اخستي ده

دهٔ په حقیقت کښي هاشمي سرکار ﷺ لیدلے دے

هغهٔ په دي سترګو حقیقي بهار لیدلے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چا چي دَ نبیانو دَ سردار ﷺ مزار لیدلے دے

دهٔ په حقیقت کښي معطّر ګلزار لیدلے دے

چا چي مدینه منوره ښائسته لیدلي ده

چا چي دَ رسول الله ﷺ ښائسته کوڅه لیدلي ده

دهٔ په حقیقت کښي دَ ګلونو دار لیدلے دے

دهٔ په حقیقت کښي معطّر ګلزار لیدلے دے

چا ښکلي ګلونه دغه در کښي چي لیدلي دي

چا ښکلي باغونه دغه در کښي چي لیدلي دي

ده په دي دُنیا کښي مجسّم بهار لیدلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دۀ په حقیقت کښې معطّر ګلزار لیدلے دے

چا ښکلے فضا چې مدینه کښې ده لیدلې نن
چا ښکلے ښُکلا چې مدینه کښې ده لیدلې نن
ښکلے په دُنیا کښې ئې دَ زړۀ قرار لیدلے دے
دۀ په حقیقت کښې معطّر ګلزار لیدلے دے

چا چې دے لیدلے په دُنیا دغه عالي مقام
وائي احمد وائي دا لیدل دي دَ ماۀِ تمام
چا چې په دې سترګو دلته دغه ښار لیدلے دے
دۀ په حقیقت کښې معطّر ګلزار لیدلے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دا هر څۀ دلته پیدا دي ستاله مخه
پیدا شوي په دُنیا دي ستاله مخه
دَ آدمؑ نه شورو شوے مُرسلان
پیدا دغه انبیاء دي ستاله مخه
دا بې شمیره په جهان چې دي ولیان
پیدا دغه اولیاء دي ستاله مخه
دغه زمکې بره غټې آسمانونه
پیدا کړي ربّ مولیٰ دي ستاله مخه
ونې بوټې دَ جهان ددغې در
پیدا هر څۀ په هر خوا دي ستاله مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غټ غټ غرونه دریابونه دَ جهان
پیدا شوي هر څۀ دا دي ستا له مخه
موسمونه دَ جهان ښُکلي ځلور
پیدا هر څۀ په صحرا دي ستا له مخه
دروغژن نۀ یم رښتیا وایم احمد
پیدا هر څۀ په رښتیا دي ستا له مخه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مینه خو ښۀ نۀ ده دَ بدعت سره په زړۀ کښې
مینه اُوساته دَ هر سنت سره په زړۀ کښې
مینه دَ اصحابو ؓ سره اُوساته په زړۀ کښې
اُوساته دَ میني خوشبوئي په خپله خُلۀ کښې
مینه اُوساته دَ شریعت سره په زړۀ کښې
مینه اُوساته دَ هر سنت سره په زړۀ کښې
مینه اُوساته دغې قرآن سره په زړۀ کښې
مینه اُوساته دَ حق بیان سره په زړۀ کښې
مینه اُوساته دَ پاك حضرت ﷺ سره په زړۀ کښې
مینه اُوساته دَ هر سنت سره په زړۀ کښې
مینه اُوساته دَ هر یو کار سره دَ خیر
مینه اُوساته دَ هر دلدار سره دَ خیر
مینه اُوساته دَ عبادت سره په زړۀ کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه اُوساته دَ هر سنت سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته دَ هر غریب سره دُنیا کښې
مینه اُوساته دَ خوش نصیب سره دُنیا کښې
مینه اُوساته دَ ښهٔ صفت سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته دَ هر سنت سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته دَ هر یتیم سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته دَ هر کریم سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته دَ شرافت سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته دَ هر سنت سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته تهٔ دَ عقبیٰ سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته تهٔ دَ مولیٰ سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته دَ آخرت سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته دَ هر سنت سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته احمده ! ښهٔ سره دُنیا کښې
غواړه دغه مینه دَ اللّٰه نه په دُعا کښې
مینه اُوساته دَ نصیحت سره په زړهٔ کښې
مینه اُوساته دَ هر سنت سره په زړهٔ کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هریو ښار نه ښکلے ده ښائسته ده مبارک ده
ښکلے په دُنیا کښې مدینه ده مبارک ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر یوه خوشبو په دغه در کښې ستا دَ پاره ده
هر یوه خوشبو په لر او بر کښې ستا دَ پاره ده
دا دَ مدینې په هر حصه ده مبارکه ده
ښکلے په دُنیا کښې مدینه ده مبارکه ده

هر یو امتی دَ محمد ﷺ ئي دیدنونه کړي
هر عالم ولی ئي په دُنیا کښې زیارتونه کړي
ورځ دَ مدینې که هره شپه ده مبارکه ده
ښکلے په دُنیا کښې مدینه ده مبارکه ده

هر یو دَ نبی ﷺ عاشق ئي دلته دیدنونه کړي
هر دَ هاشمی ﷺ عاشق ئي دلته دیدیونه کړي
دغه خوشبوداره ګلدسته ده مبارکه ده
ښکلے په دُنیا کښې مدینه ده مبارکه ده

ځی هم دغه ته در عجمیان او عربیان خلق
اے احمده! ځي ورته هر ځائے نه دَ جهان خلق
ښکلے د دي در هر تذکره ده مبارکه ده
ښکلے په دُنیا کښې مدینه ده مبارکه ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عاشق یم په نبی ﷺ ځکه نعتونه جوړوم
خوارۀ خوارۀ لـه دي نه اُمیدونه جوړوم
عاشق په محمد ﷺ یمه ګواه مي دا سحر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاشق په محمد ﷺ یمه ګواه مې دا بشر دے
نعتونه جوړومه زۀ شعرونه جوړوم
خوارۀ خوارۀ له دې نه اُمیدونه جوړوم
ګواه زما په مینه باندې هر مکان دے
ګواه زما په مینه باندې بره دا آسمان دے
په دې سره ددغه دریادونه جوړوم
خوارۀ خوارۀ له دې نه اُمیدونه جوړوم
شعرونه څکه وایمه نعتونه څکه وایم
په دې سره دُنیا کښې زۀ قسم دے دلته پایئم
حرفونه یو ځائے کومه زه لفظونه جوړوم
خوارۀ خوارۀ له دې نه اُمیدونه جوړوم
ښائسته ښکلې صفات ئې دی ګلونه دَ جهان
احمد علي ښائسته دی دا العلونه دَ جهان
په دې سره دَ ژوند دغه وختونه جوړوم
خوارۀ خوارۀ له دې نه اُمیدونه جوړوم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تا چې دَ سنت محل بدعت سره تېول وران کړۀ
ځان له دے تباه دغه دُنیا کښې خپل ایمان کړۀ
تا چې دَ سنت محل په زمکه راګزار کړۀ
تا چې دَ سنت محل نه ځان دلته وزګار کړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـا ملـګرے ځـان پـه دي دُنيـا دَ هرشيطـان کـړۀ
ځـان لـه دے تبـاه دغـه دُنيـا کښـي خپل ايمان کـړۀ
تـا چـي دَوفـا پـه ځـائے سنت سره جـفا اُوکـړه
تـا چي پـه سنـت پسي دُنيا کښـي نن خندا اُوکـړه
ځـان لـه دے تبـاه دَ اٰخـرت هـر ګـلستـان کـړۀ
ځـان لـه دے تبـاه دغـه دُنيـا کښـي خپل ايمان کـړۀ
تـا چي پـه دُنيـا کښـي دَ سنـت مـخالـفت اُوکـړه
تـا چـي پـه دُنيـا دَ شـريعـت مـخالـفـت اُوکـړۀ
ځـان لـه دے دُښـمـن پروردیګـار دَ هر اسمان کـړه
ځـان لـه دے تبـاه دغـه دُنيـا کښـي خپل ايمان کـړۀ
تـا چي ځـان مـحـرومـه دَ هـر نُور نـه دَ جهان کـړلو
تـا چي ځـان مـحرومه پـه دُنيا کښـي دَ قـراٰن کـړلو
تـا چـي ځـان مـلـګـرے دَ قـارون او دَ هـامـان کـړۀ
ځـان لـه دے تبـاه دغـه دُنيـا کښـي خپل ايمان کـړۀ
تـا چي ځـان مـحـرومـه دَ اسلام دَ شريعـت نـه کـړه
تـا چي ځـان مـحرومه پـه دوزخ دَ هـر جنت نـه کـړه
ځـان دے نـاغـرضـه چـي دَ حق پـه دي بيان کـړه
ځـان لـه دے تبـاه دغـه دُنيـا کښـي خپل ايمان کـړۀ
ستـرګـي چي دے پټي ددُنيا پـه دي رښتيا کـړے تا
ستـرګـي چي دے پټي دَ احـمـد پـه دي وينا کـړے تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان لــه دے تبـاه دغــه ژوندون ددې جهـان کـړه
ځان لـه دے تبـاه دغـه دُنيـا کښې خپل ايمان کړۀ

مينه محبت

زۀ ســاتـمــه ميـنــه دَ قــرآن او دَ ســنــت ســره
نــۀ ســاتـمــه ميـنــه دَ شيـطـان او دَ بـدعـت سره
زۀ ســاتـمــه ميـنــه دَ مـولـىٰ غـنـى اکبـر سـره
نــۀ ســاتـمــه ميـنــه پـه دُنيـا کښې زۀ دَ شر سـره
زۀ سـاعـت سـاتـمـه محـمـد نبى حضرت ﷺ سره
زۀ ســاتـمــه ميـنــه دَ قــرآن او دَ ســنــت ســره
زۀ ســاتـمــه ميـنــه دَ مـولـىٰ هـريـو فـرمـان سره
نــۀ ســاتـمــه ميـنــه زۀ يـو کـار کښې شيـطـان سره
زۀ ســاتـمــه ميـنــه دَ اسلام بنـۀ عـمـارت سـره
زۀ ســاتـمــه ميـنــه دَ قــرآن او دَ ســنــت ســره
زۀ ســاتـمــه ميـنــه دَ هـر خيـر او دَ فـلاح سـره
نــۀ ســاتـمــه ميـنــه عـداوت کښې دَ اصـلاح سره
تــل ســاتـمــه ميـنــه زۀ کـامـلـه شـريعـت سره
زۀ ســاتـمــه ميـنــه دَ قــرآن او دَ ســنــت ســره
زۀ ســاتـمــه ميـنــه روژه دار او مـونـځ گـزار سـره
نــۀ ســاتـمــه ميـنــه پـه دُنيـا کښې دَ اشـرار سره
زۀ ســاتـمــه ميـنــه دَ اخـلاص هـر عبـادت سـره

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ ساتمه مینه دَ قرآن او دَ سنت سره
زۀ ساتمه مینه احمد وائی هر نبی ﷺ سره
زۀ ساتمه مینه دَ رسول ﷺ هر اُمتی سره
زۀ ساتمه مینه دَ رسول ﷺ عالی نسبت سره
زۀ ساتمه مینه دَ قرآن او دَ سنت سره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك ساتی چي مینه دَ قرآن او دَ سنت سره
نۀ ساتی به مینه هغه هیڅ کله بدعت سره
نه ساتی به مینه دَ شرابو نه دَ سود سره
نه ساتی به مینه دَ شیطان ابلیس مردود سره
نه ساتی به مینه دَ شیطان دَ شیطانت سره
څوك ساتی چي مینه دَ قرآن او دَ سنت سره
نۀ ساتی به مینه دَ مشرك غلط انسان سره
نه ساتی به مینه په دُنیا غلط بیان سره
نه ساتی به مینه په دُنیا کښي دَ ظلمت سره
څوك ساتی چي مینه دَ قرآن او دَ سنت سره
نۀ ساتی به مینه په ژوندون کښي دَ ظالم سره
تل ساتی به مینه په دُنیا کښي دَعالم سره
نۀ ساتی به مینه دَ ریا دَ عبادت سره
څوك ساتی چي مینه دَ قرآن او دَ سنت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـۀ ساتـی بـه مینـه دَ حرام سره دُنیا کښي تل
نـۀ ساتـی بـه مینـه دَ بدنام سره دُنیا کښي تل
نـۀ ساتـی بـه مینـه دَ چغلی او د غیبت سره
څـوك ساتـی چي مینـه دَ قرآن او دَ سنت سره
ښـکـلـے بـه اخلاق ئي پـه دُنیا ددغي دروی تـول
نُـور بـه پـه دُنیا کښي دَ دُنیا دَ هر نظروی تـول
اے احـمـده ! نـۀ سـاتـی بـه مینـه ضلالت سره
څـوك ساتـی چي مینـه دَ قرآن او دَ سنت سره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ پـه ربّ اکبـر بـانـدي مـئـین یـمـه
زۀ خیـر البشـر ﷺ بـانـدي مـئـین یـمـه
زۀ دَ پـاك الـلّـه ښـائستـۀ کـلام بـانـدي
زۀ دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ ښـکـلـی پیـغـام بـانـدي
هـریـو لـعـل گـوهـر بـانـدي مـئـین یـمـه
زۀ خیـر البشـر ﷺ بـانـدي مـئـین یـمـه
زۀ دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ پـه ښـکـلـی دین بـانـدي
زۀ پـه هـریـو دین کښـي بهتـریـن بـانـدي
هـر ځـائـے دي سـحـر بـانـدي مـئـین یـمـه
زۀ خیـر البشـر ﷺ بـانـدي مـئـین یـمـه
زار بـه تـریـنـه زار دا خپـل بـدن کـرمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زاربــــه تــرينـــــه زار زۀ خپــل وطـن كـرمــه
زۀ پــــه دې دلبــر بـــانـدې مـئيـن يـمـــه
زۀ خيـــر البشـــر ﷺ بـــانـدې مـئيـن يـمـــه
زۀ لـــــه دغـــې درد هـــر قـــدم نـــــه شـم
زۀ احـــمـــد قـــريـــان ددې حـــرم نـــه شـم
زۀ پــه دغـې نـمــر بـــانـدې مـئيـن يـمـــه
زۀ خيـــر البشـــر ﷺ بـــانـدې مـئيـن يـمـــه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

زۀ دَ مــصـــطــفـــىٰ ﷺ پــــه لار روان يـمـــه
دغــــه شـــان تـــابــع زۀ دَ قــرآن يـمـــه
زۀ دَ مــصـــطــفـــىٰ ﷺ پــــه لاره تـلـل كـوُم
كـــار دَ مــصـــطــفـــىٰ ﷺ دَ رضـــا تـــل كـوُم
زۀ پــــه دې صــفـــت ســره هـــران يـمـــه
زۀ دَ مــصـــطــفـــىٰ ﷺ پــــه لار روان يـمـــه
كـــار دَ مــصـــطــفـــىٰ ﷺ دَ خــوښــې كـومــه زۀ
كـــار دَ مــجتبـــىٰ ﷺ د خـــوښـــې كـــومـــه زۀ
زۀ عــــاشـــق د دغـــې در مـــكـــان يـمـــه
زۀ دَ مــصـــطــفـــىٰ ﷺ پــــه لار روان يـمـــه
كـــار زۀ د اصــحـــابـــوٌ د نبـــى ﷺ كـوُم
كـــار زۀ د احبــــابـــوٌ دَ نبـــى ﷺ كـــوُم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ پــــه دغـــي لاره پـــه جهـــان يـمـــه
زۀ دَ مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ پــــه لار روان يـمـــه
کـــــار زۀ دَ نيـــکـــــانـــو اوليــــاء کــوُم
کـــــار دَ مُـــرســـلانـــو انبيــــاء کــوُم
زۀ دَ حــق دُنيــا کښــي تــرجـمــان يـمـــه
زۀ دَ مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ پــــه لار روان يـمـــه
کـــــار زۀ دَ تـــوحيـــد او دَ ســـنـــت کــوُم
زۀ احـــمـــد دا کـــار بـــه هــرســـاعـــت کــوُم
زۀ دښـــمـــن دُنيـــا کښـــي دَ شيـــطـــان يـمـــه
زۀ دَ مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ پــــه لار روان يـمـــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ دَ مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ د در غـــلام يـمـــه
زۀ يــو خـــد متـــګـــار دَ ديــن اســلام يـمـــه
زۀ پــــه دغـــي فـــخـــر هـــرســـاعـــت کــوُم
کـــار زۀ پـــه دُنيـــا دَ شـــريـــعـــت کــوُم
زۀ پـــه دي صـــفـــت پـــه هـــر انـــدام يـمـــه
زۀ دَ مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ د در غـــلام يـمـــه
زۀ د دغـــــــي درســـــــره وفـــــــا کـــوُم
هـــر ځـــائـــے هـــرســـاعـــت حـــقـــه ويـــنـــا کــوُم
زۀ پــــه دي ويـــنـــا شـــريـــن کـــلام يـمـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ دَ مـــصـــطــفــیٰ ﷺ د در غــلام یــمــه

زۀ دَ اســـلام کـــار پـــه مـــحبــت کــوُم

زۀ پـــه میــنــه میــنــه هــر ســنــت کــوُم

زۀ پـــه دي عــادت ســحــر مــابنــام یــمــه

زۀ دَ مـــصـــطــفــیٰ ﷺ د در غــلام یــمــه

زۀ دَ هـــر غـــلام ئـــي غـــلامـــی کـــوُم

زۀ بـــه اتبـــاع ئـــي ابــدی کـــوُم

زۀ احــمــد پـــه دغـــي کـــار تــمــام یــمــه

زۀ دَ مـــصـــطــفــیٰ ﷺ د در غــلام یــمــه

★★★★★★★★

تـمـت بـحـمـد اللّٰـه تعالیٰ وبتوفیقه والصلوة والسلام

عـلـیٰ رسولـه مـحـمـد والـه واصـحـابـه اجـمـعـیـن

ومـــن تبـــعـهـــم الـــیٰ یـــوم الـــدیـــن . امیـــن

★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

حمد باري تعالیٰ

خدایه ستا دي دَ دُنیا دا نعمتونه
په دُنیا دي ستا دَ رحم بارانونه

لاندي زمکي دغه تولي خدایه ستا دي
خدایه ستا دي بره لوئي لوئي آسمانونه

بره لوح بره قلم دا ستا دي ستا دي
دَ تقدیر دي تا لیکلی کتابونه

بره عرش بره کرسی دَ عزت ستا ده
راوریږی ستا له درنه رحمتونه

مخلوقات د دغي زمکي ستا دے ستا دے
پیدا کړي رنګ په رنګ تا موسمونه

رنګ په رنګ دغه مخلوق تا پیدا کړے
پیدا کړي دَ دُنیا تا آوازونه

ونے بوټی دَ جهان تا پیدا کړي
پیدا کړي دي په زمکه لوئي لوئي غرونه

خوشبو تا ده پیدا کړے رنګ په رنګ
پیدا کړي رنګ په رنګ تا دي ګلونه

پیدا کړے دَ جهان تا هر صحرا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيدا کړي تا نهرونه دريابونه
صحيفې دي خدايا تا رانازل کړي
تا نبيانو له ورکړي کتابونه
دَ احمد علي خالق ئې دَ جهان
ستا په فضل ئې ليکلي دي شعرونه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ښائسته دُنيا کښې په دُنيا دَ پاك سبحان ميلمهٔ دے
دَ لامکان ميلمه دے پاس په اسمان ميلمهٔ دے
بره له زمکې نه مولىٰ له په سفر هغه ځي
بره له زمکې نه اللّٰه له په سفر هغه ځي
دا عزتمنده دَ نبيانو دا سلطان ﷺ ميلمهٔ دے
دَ لامکان ميلمه دے پاس په اسمان ميلمهٔ دے
بره له زمکې نه اسمان ته روانيږي هغه
بره له زمکه لامکان ته روانيږي هغه
په هر اسمان وو دا آواز چې عاليشان ميلمهٔ دے
دَ لامکان ميلمهٔ دے پاس په اسمان ميلمهٔ دے
ربَ پاس اسمان ته دَ دُنيا نه مصطفىٰ بللے
ربَ لامکان ته دَ دُنيا نه چې طٰهٰ ﷺ بللے
شو آوازونه چې راغلے دا انسان ميلمهٔ دے
دَ لامکان ميلمه دے پاس په اسمان ميلمهٔ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه هـر اسـمان کښـې ئې ديـدن کړې مخلوقات دَ ربَ
پـه دې جهـان کښې ئي ديـدن کـړې مخلوقـات دَربَ
بيـا پـه عـزت سره پـه قـدر چې روان ميلـمـهٔ دے
دَ لامـکـان مـېـلـمـهٔ دے پاس پـه اسمان ميلمـهٔ دے

ورتـه اسـمـان کښـې فـرېښـې پـه تماشـه ومے دَ ربَ
بـره جهـان کښـې فـرېښتې پـه تـماشـه ومے دَ ربَ
دغـه مـحبـوب پـه دې دُنيـا کښې دَ رحمان ميلمهٔ دے
دَ لامـکـان ميـلمـه دے پـاس پـه اسمان ميلمهٔ دے

ورســـره بـــره مـــلاقـــات هـــم دَ آدمؑ شـــوې دے
ديـدن بيـــا بـــره دَ عيســـیٰ ابـن مـريمؑ شـوے دے
مـوســیٰ وئيـل داخو نبـی اخــرزمان ﷺ ميلمـهٔ دے
دَ لامـکـان ميـلمـه دے پـاس پـه اسمان ميلمهٔ دے

دَ ابـراهيـمؑ سـره ئې بـره مـلاقـات شـوے دے
ديـدن بيـا بـره رنګ پـه رنګ دَ مقامات شـوے دے
عيسیٰؑ وئيـل چې دا خو ډير زيات مهربان ميلمهٔ دے
دَ لامـکـان ميـلمـه دے پـاس پـه اسمان ميلمهٔ دے

مـا احـمـد کـړې دا خبـرې تـصوّر کښـې تـولـې
وګـوره دا پـه کتـابـونـو مـعتبـر کښـې تـولـې
پـه بُراق سـور لـکـه دَ نـمر پـه شان روښان ميلمهٔ دے
دَ لامـکـان ميـلمـهٔ دے پـاس پـه اسمان ميلمهٔ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصيحت

بـــي ازغـــو دَګـــلاب ګـــل نـــــهٔ مـلايـــږي
آزمـــائـــش نـــه بـغيـر خپـل نـــهٔ مـلايـــږي
چـي څـوك وائـي زهٔ پـه عشـق كښـي مبتلايـم
بـــي لــــه اُوره دغـــــه تـــل نـــــهٔ مـلاويـــږي
چـي څـوك غـواړي لـوئـي مـقـام دَ مـحبـت
بـي لـــه سـختـو دا مـنـزل نـــهٔ مـلاويـږي
پـــه سپـرلـي كښـي بُلبلان پـــه جهان ښـكـاري
دَ خـــزان دَ بـــاغ بـلبــل نـــهٔ مـلاويـــږي
پـــه كـوشـــش سـره تـميـز دَ ښـــهٔ اوبـد شـي
دَ كـوشـــش نـــه بـغيـر غَـل نـــه مـلاويـــږي
مـجـــازي او حـــقيـــقـــي ميـنـــه جُـدا ده
حـقيـقـت خـو پـــه اټـكـل نـــه مـلاويـــږي
چـي څـوك غـواړي سپـرلـے دلتـه كښـي احـمـده!
دَ خـــزان نـــه بـغيـر بيـل نـــهٔ مـلاويـــږي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ سـنـــت كـور كښـــي بـدعـت نـــهٔ مـلاويـــږي
دَ خيـــر كـــار كښـــي شـــرارت نـــهٔ مـلاويـــږي
دَ ازغـو پـنـډ چـي دُنيـا كښـي څـوك پـه سر كړي
دغـــه پـنـډ كښـــي مـحبـت نـــهٔ مـلاويـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ بـدبـو غـوټـه چـې چـاسـره پـه لاس وي
خـوشبـوئـی تـرې یـوسـاعـت نـه مـلاویـږي
دَ خـزان مـوسـم کـښـې هیـڅ کـلـه دُنیـا کـښـې
دَ سپـرلـے غـونـدے دولـت نـهٔ مـلاویـږي
دَ شیـطـان ابـلیـس پـه لاره پـه دُنیـا کـښـې
دَ مـولـیٰ دَ در رحـمـت نـهٔ مـلاویـږي
دَ ذلـت پـه لارو هیـڅ کـلـه دُنیـا کـښـې
دَ دُنیـا دَ در عـزت نـهٔ مـلاویـږي
دَ قـرآن پـه شـان دُنیـا کـښـې بـنـهٔ کـامـل
یـو کتـاب دَ صـداقـت نـهٔ مـلاویـږي
حـدیـثـونـو کـښـې شـتـه وعـظ دَ رسـول ﷺ
دا بـغیـر لـه څـهٔ مـحـنـت نـهٔ مـلاویـږي
دَ احـمـد عـلـی دا وعـظ او نـصیـحـت دے
داسـې بـل ځـائـے نـصیـحـت نـهٔ مـلاویـږي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ځـمـه مـدیـنـې تـه زهٔ هـلـتـه بـه وُسیـږمـه
هـلـتـه کـښـې روضـې سـره زهٔ بـه پـاتـې کیـږمـه
هـلـتـه دے ژونـدون دَ تـن
هـلـتـه دے سـکـون دَ تـن
نُـور نـهٔ پـاتـے کیـږمـه نُـور ایسـاریـږمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـمـــه مـدیـنـي تـــه زۀ هـلـتــه بــه وُسیـــږمــه

هـــــلـتـــــــــــه دے رهبــــــر زمــــــا

هـــــلـتــــــــــه دے دلبــــــر زمــــــا

زۀ پــــه دغــــه در پسـے زړۀ کښې تـل ژړیـــږمـــه

ځـمـــه مـدیـنـي تـــه زۀ هـلـتــه بــه وُسیـــږمــه

هـــــلـتــــــــــه دي انــــــوار د دیــــــن

هـــــلـتــــــــــه دي اســــــرار دَ دیــــن

دلـتــه دَ فـراق اُور کښـي خـدائیـگو زۀ سوزیـږمـه

ځـمـــه مـدیـنـي تـــه زۀ هـلـتــه بــه وُسیـــږمــه

هـــــلـتـــــــــه بــــــــه آرام کــــوُم

دغـــــــه بـــــــه تـــــمـــــام کــــوُم

زۀ تـري نـــۀ صبـریـــږمـــه دلـتــه کښـي کـړیـږمـه

ځـمـــه مـدیـنـي تـــه زۀ هـلـتــه بــه وُسیـــږمــه

زۀ احـــــمـــــد بـــــــــــه دا کـــــوُم

کــــــار بـــــــــه دَ وفــــــا کــــوُم

زۀ لـکــه دَ گـل پــه شـان دلـتـه کښـي رژیـږمـه

ځـمـــه مـدیـنـي تـــه زۀ هـلـتــه بــه وُسیـــږمــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کـــوم بـــدن چـــي دَ سـنــت پـــه رنگ شـــی رنگ

هــغـــــه بـــچ شـــی دَ دُنیــــا د هــــریــــو زنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرے اُوسه دَ بدعت او بدعتي نه
مستحق دے په دُنیا چې دَ هر سنګ

ربَ په دین کښې دَ جهان عزت دے ایښے
په دي ښکاري هر بشر دلته کښې دنګ

دَ نیکی کارونه ښۀ دي دَ جهان
دَ محشر په ورځ باعث دے دَ هر ننګ

دَ شیطان ابلیس نه لرے لرے اُوسه
هر یو بد کار سره اُوسه تل په جنګ

هغه تور چې دَ سنت په رنګ کښې رنګ شي
ورته نۀ وائی دُنیا کښې څوك بدرنګ

تۀ احمد علی په خیر باندې مئین ئې
له دي وجې ته ئې دین سره په څنګ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښار دَ مدینې دے هر طرف بهارونه دي
ښکلي هر طرف ته په کښې رنګ په رنګ ګلونه دي

دلته دَ مکي نه دَ مولیٰ محبوب راغلے دے
دَلته دَ مکي نه مصطفیٰ ﷺ مطلوب راغلے دے

دلته په دي وجه هر طرف ته رحمتونه دي

دلته پاتے شوے لوئي امام دَ امامانو دے
دلته پاتے شوے نُور خاتم دَ مُرسلانو دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه په دې وجه دلته هر ځائے برکتونه دي

دلته رڼا ګانې دَ حضرت خیر الوریٰ ﷺ دي دا

دلته رڼا ګانې دَ یٰسین او دَ طٰهٰ ﷺ دي دا

دلته رڼا کړې مصطفیٰ ﷺ دغه کورونه دي

دلته خوشبوئې دَ مُرسلانو دَ سردار شته دے

دلته خوشبوئې دَ دلبرانو دَ دلدار شته دے

دلته کښې دَ حق دَ پاره شوي بیانونه دي

دلته کښې احمده ! دَ صدیقؓ سره عمرؓ شته دے

دلته کښې عثمانؓ سره حضرت علیؓ حیدر شته دے

دلته دَ جهان دغه ښائسته ښائسته لعلونه دي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زار له مدینې نه شم هلته رڼا ګانې دي

هلته ده ښائسته فضا ، یخې هواګانې دي

هلته دي اصحابؓ ښکلي هر ځائے په هر باب ښکلي

هر طرف ته هلته کښې حقے وینا ګانې دي

زار له مدینې نه شم هلته رڼا ګانې دي

هلته چمونه دي ښکلي ټول ګلونه دي

ښکلې دَ نبي ﷺ ښکلے ، ښکلے ادا ګانې دي

زار له مدینې نه شم هلته رڼا ګانې دي

هلته ده خوشبو خوشبو ، نشته هلته کښې بدبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته عاجزي سره هرځائے دُعا ګانې دي
زار له مديني نه شم هلته رڼا ګانې دي
هلته رحمتونه دي ، لوئې لوئې نعمتونه دي
ختمې دَ دُنيا د در هلته بلا ګانې دي
زار له مديني نه شم هلته رڼا ګانې دي
زار له مديني نه شم وايمه احمدعلي
زۀ په دې دُنيا کښې يم ثناخوان دَ پاك نبي ﷺ
خوښي دَ رسول ﷺ زما ټولې ويناګانې دي
زار له مديني نه شم هلته رڼا ګانې دي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راغے پيغمبر ﷺ چې مديني ته رڼا ګانې شوې
هر طرف ته ډکے دَ خوشبو نه هواګانې شوې
هر طرف ته ډك شول له خوشبو نه چمونه ټول
هر طرف ته ډك شول له خوشبو نه منزلونه ټول
ختمې له دُنيا نه په دُنيا کښې ژړا ګانې شوې
هر طرف ته ډکے دَ خوشبو نه هواګانې شوې
هر ځائے خوشبودار شو معطره شوه فضا بره
هر ځائے خوشبودار شو معطَره شوه خلا بره
ختمې دَ ابليس شطيان دُنيا کښې خنداګانې شوې
هر طرف ته ډکے دَ خوشبو نه هواګانې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـر ځـائـې مـعـطـره مـنـوَره سـراسـر شـولـو
هـر ځـائـې هـر مـحـفـل ددې جهـان ټـول منوَر شولو
ختـمـې دَ دُنـیـا نـــه زنـاګـانې او غـلاګـانې شـوې
هـر طـرف تـه ډکـې دَ خـوشبـو نـه هـواګـانې شـوې
هر ځـائـې منـوَره پـه حـضـرت رسول اللّٰـه ﷺ شولو
ښـکـلې اے احـمـده ! هـريو در په مصطفیٰ ﷺ شولو
ختـمې دَ شیـطـان لـعیـن دُنیا کښـې جفاګانې شوې
هـر طـرف تـه ډکـې دَ خـوشبـو نـه هـواګـانې شـوې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رهبـر چـې مـا او تـاتــه نُـور دَ خیـر راغـلـې دے
رهبـر هـغــه هـر چـاتــه نُـور دَ خیـر راغـلـې دے
تیــرې ورســره ختـمـې شـوے دَ ظـلـم پــه جهـان
تیـرے ورسـره ختـمـې شوے پـه زمکـه پـه آسمان
رهبـر ټـولـې دُنیــا تــه نُـور دَ خیـر راغـلـې دے
رهبـر هـغــه هـر چـاتــه نُـور دَ خیـر راغـلـې دے
تیــرې ورســره ختــمــې شــوے دَ جهـل ددُنیــا
تیــرې ورســره ختــمــې شــوے دَ کـفــر نـــاروا
رهبـر هـغــه هـر خـوا تــه نُـور دَ خیـر راغـلـې دے
رهبـر هـغــه هـر چـاتــه نُـور دَ خیـر راغـلـې دے
تیــرې ورســره ختــمــې دَ ګـنـاه شـوې دَ جهــان

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیـري ورسـره ختـمـي دَ بدعـت شوي دَ شیطـان

مـحـفـل کښـي اولیـاء تـه نُور دَ خیـر راغلـې دے

تیـرے ورسـره ختـمـي دَ شیـطـان دَ شیطـانـت شوي

تیرے هرځائے کښې ختمې په دُنیا کښې دَ لعنت شوي

پـارسـا او عـلـمـاء تـه نُور دَ خیـر راغلـې دے

رهبـر هـغـه هـرچـاتـه نُور دَ خیـر راغلـې دے

رنـا دَ مـحبـت ئـي راخـوره کـړه پـه جهـان

احـمـدعـلـی لیـکـلـے مـخـتـصـرد غـه بیـان

نـادان او هـر دانـا تـه نُور دَ خیـر راغـلـې دے

رهبـر هـغـه هـرچـاتـه نُور دَ خیـر راغلـې دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دا دُنیـا رنـا رنـا شـوه هـاشمـی ﷺ جـانـان چـي راغـے

ښـۀ ښـائسـتـۀ ټـولـه دُنیـا شوه هاشمی ﷺ جانان چي راغے

هاشمی جانان ﷺ چي راغے هرطرف ته نوُر شو نوُر

هـر بشـر پـه نیـغـه لار شو هر بشر شو پـه سُرور

نـورانـی ټـولـه فضا شوه هاشمی جانان ﷺ چي راغے

ښـۀ ښـائسـتـۀ ټـولـه دُنیـا شوه هاشمی ﷺ جانان چي راغے

هـاشمـی جـانـان چـي راغـے هریو ګل شو خوشبوداره

هاشمی جانان ﷺ چي راغے هر محفل شو خوشبوداره

مـعـطّره پـاس هـوا شوه هاشمی جانان ﷺ چي راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښـۀ ښائسـتـۀ تـولـه دُنيا شوه هاشمي ﷺ جانان چي راغـے
هاشمـي جانـان ﷺ چـي راغـے هريو كور دَ نوره ډك شو
هاشمـي جانـان ﷺ چـي راغـے هـريو لور دَ نوره ډك شو
پـه هرلـور وفـا وفـا شـوه هـاشمي جانـان ﷺ چـي راغـے
ښـۀ ښائسـتـۀ تـولـه دُنيا شوه هاشمي ﷺ جانان چي راغـے
هـاشـمـي جـانـان چـي راغـے نور نـه ډك بـره اسمان شو
اے احمـده ! پـه دي نُور ښـۀ ښـائستـه هريو مكان شو
نـوراني هـره صـحـرا شـوه هـاشمي جانان ﷺ چي راغـے
ښـۀ ښائسـتـۀ تـولـه دُنيا شوه هاشمي ﷺ جانان چي راغـے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

زمـا ارمـان دے چي دا شپـي مـي وي دَ يار كلي كښي
پـه دي دُنيـا كښـي دَ نبيانو دَ سـردار ﷺ كلـي كښـي
ښـومره ښائستـۀ ښـومره حسـين زما دَيار كلـے دے
ښـومره ښائسته ښومره حسين دَ تاجدار ﷺ كلـے دے
دغــه وختــونــه زمـا وي دَ تـاجـدار ﷺ كـلـي كـښـي
زمـا ارمـان دے چي دا شپـي مـي وي دَ يار كلي كښي
صـفــا ستـهــرا پـــه دي دُنيـا زمـا دَ يـار كـلـے دے
لـكــه دَ نـمــر پــه شـان رڼـا زمـا دَ يـار كـلـے دے
دغــه وختـونـه چـي زما وي دَ دلدار ﷺ كلي كښـي
زمـا ارمـان دے چي دا شپـي مـي وي دَ يار كلي كښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته بهار دے دَ دُنیا په چمنونو کښې تول
هلته بهار دے دَ دُنیا په دې وختونو کښې تول
زما وختونه تیریدے چې خوشبودار کلی کښې
زما ارمان دے چې دا شپې مې وې دَ یار کلی کښې
دا مې ارمان دے تمنا دغه په زړهٔ لرمه
دَ ژړې سره تل وینا دغه په زړهٔ لرمه
احمد لیکلے دا شعرونه دَ غمخوار ﷺ کلی کښې
زما ارمان دے چې دا شپې مې وې دَ یار کلی کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مولیٰ دې اېښې رحمتونه دَ خپل یار کلی کښې
مولیٰ دې اېښې برکتونه دَ دلدار ﷺ کلی کښې
دَ برکتونو رحمتونو یو چینه ده په کښې
په دې دُنیا کښې دَ جنت یو ه ټکړه ده په کښې
ښائسته جنت دے په دُنیا کښې دَ غمخوار ﷺ کلی کښې
مولیٰ دې اېښې رحمتونه دَ خپل یار کلی کښې
هره حصه ئې دَ برکت او دَ رحمت نه دکه
هره حصه ئې په دُنیا دَ فضیلت نه ډکه
خوشبو دَ مشك او دَ عنبر ده خوشبودار کلی کښې
مولیٰ دې اېښې رحمتونه دَ خپل یار کلی کښې
هلته ده خوره قدرمند په دُنیا دَ جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته ده خوره عزت منده په دُنیا دَ جهان
خوره ده دغه مبارکه دَ تاجدار ﷺ کلی کښې
مولیٰ دې ایښې رحمتونه دَ خپل یار کلی کښې
دا دَ نبی ﷺ دَ قدمونو دلته کښې اثر دے
دَ هاشمی ﷺ دَ قدمونو دلته کښې اثر دے
احمده! ښته سکون دَ سیّدالابرار ﷺ کلی کښې
مولیٰ دې ایښې رحمتونه دَ خپل یار کلی کښې

دَ بې دیني حقیقت

بې دینې یو لوئې عذاب دے
دا دَ زړونو اضطراب دے
بدبوئی ده بدبوئی ده
هر انسان په دې خراب دے
هر انسان له ګمراهی ده
که غریب دے که نواب دے
په ریا خځه اجر نشته
اُمیدوار چې دَ ثواب دے
په دُنیا کښې لوئې تکلیف دے
دَ عذاب بره سحاب دے
دا تیارهٔ ددې جهان ده
نهٔ آفتاب دے نهٔ مهتاب دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا عـــــــــــذاب دا آخــــــــــــــــــــرت دے

دا عــــــذاب پــــــــه هـــــريـــــو بـــــاب دے

اے احـــــــمــــــده ! خــــــلاصـــــــــــه دا ده

مستـــــــحــــــق دَ هــــــــر عتــــــــاب دے

دا عــــــذاب پــــــــه هـــــريـــــو بـــــاب دے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ښائسته لـه هـرجانانـه مـې جانان دَ مدينې ﷺ دے

ښائسته په مُرسلانو کښې سلطان دَ مدينې ﷺ دے

ښـائستـــه پـــه مُـرسلانـو کښې يادېږي پـه هـر در

ښـائستـــه تـول نبيـانـو کښې يـاديـږي پـه هـر در

ښـائستـه لــه هـر بشر نـه مهربان دَ مدينې ﷺ دے

ښائستـه لـه هـرجانانـه مـې جانان دَ مدينې ﷺ دے

ښـائستـــه پــه مخلوقاتو کښې يادېږي در پـه در

ښـائستـــه تـولـو صـفـاتو کښې يادېږي در پـه در

خــاتـم دَ مُـرسـلانـو دا انسـان دَ مـديـنـې ﷺ دے

ښائستـه لـه هـرجانانـه مـې جانان دَ مدينې ﷺ دے

ښـائستـــه پـه بحـروبـر کښې داسې نشتـه بل بشـر

ليــدلـــے چـــا بـــه نـــه وي دَ دُنيـــا پـــه دې نـظـر

تـفسيـر دَ پـاك کـلام ښـه عـاليشان دَ مـديـنې دے

ښائستـه لـه هـرجانانـه مـې جانان دَ مدينې ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښائسته لاندې په زمکه دے ښائسته دے په آسمان
ښائسته پيغمبرانو کښې يادېږي دَ جهان
احمد علي عالي هريو بيان دَ مديني دے
ښائسته له هر جانانه مې جانان دَ مديني ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اوّلين دے آخرين دے بهترين دے
خوګ دے خوګ دے رحمة اللعلمين ﷺ دے
حق وينا دے نوررنړا دے مصطفیٰ دے
دا صادقه په دُنيا دے دا امين دے
خوګ دے خوګ دے رحمة اللعلمين ﷺ دے
حق امام دے نور تمام دے حق پيغام دے
په قران کښې هم طٰهٰ ﷺ دے هم يسٓين ﷺ دے
خوګ دے خوګ دے رحمة اللعلمين ﷺ دے
لوئي نسبت ئي فضيلت ئي ښه صحبت ئي
په دُنيا دَ هرچا دَ زړهٔ تسکين دے
خوګ دے خوګ دے رحمة اللعلمين ﷺ دے
حق وفا ئي حق رڼائي حق وينا ئي
اے احمده! هم محبوب دَربَ متين دے
خوګ دے خوګ دے رحمة اللعلمين ﷺ دے

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دا خــــو دَ نبيـــــانـــو دَ افســـــر ﷺ خبـــرېي دی
دا خـــو عـــــزت مـــنـــدے ســــراســـر خبـــرېي دے
دا خبـــــرېي دی دَ مـــــرســــلانـــو دَ امـــــام ﷺ
دا خبـــــرېي دی دَ پـــــاك نبـــی ﷺ دَ احتـــــرام
دَ ازمــــونـــــږ دَ سيَـــدالبشــــر ﷺ خبـــــرېي دی
دا خــــو دَ نبيـــــانـــو دَ افســـــر ﷺ خبـــرېي دی
دا خبـــــــرېي دی دَ اوَليــــــن او اٰخــــــريـــــن
دا خبــــرېي دی دَ کــــائــنـــــات دَ بهتــــريـــن
دغـــــــه دَ مـــحبـــوب دَ ربّ اکبــــر خبـــرېي دی
دا خــــو دَ نبيـــــانـــو دَ افســـــر ﷺ خبـــرېي دی
دا خبـــرېي دی دَ ســلــطـــانـــانـــو دَ سـلــطـــان ﷺ
دا خبـــرېي دی دَ کـــائــنـــات دَ مهـــريــــان
خـــورم قســـم زمـــونـــږ دَ پيـــغـــمبـــر ﷺ خبـــرېي دی
دا خــــو دَ نبيـــــانـــو دَ افســـــر ﷺ خبـــرېي دی
دا خبـــرېي دی پــــه کـــائـــنـات کښـــي دَ غـمخـوار ﷺ
دا خبـــرېي دی د کـــــائـــنــــات دَ حُســـنــدار ﷺ
خـــــورم قســـــم خبــــرو کښــــي بهتــــر خبـــرېي دی
دا خــــو دَ نبيـــــانـــو دَ افســـــر ﷺ خبـــرېي دی
دا خبـــــرېي دی دَ رحــــمـة لــــلـــعـــلــميـــن

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبـــري دي دَ رهـــنـــمـــا زمـــونـــږ دَ دیـــن
قســـم دے دا زمـــونـــږه دَ دلبـــر ﷺ خبـــري دي
دا خـــو دَ نبیـــــانـــو دَ افســـر ﷺ خبـــري دي
دا خبـــري دي دَ مـــصـــطـــفـــیٰ او دَ یٰسیـــن
دا خبـــري دي دَ یـــو ریښتـــونـــی دَ امیـــن
قســـم دے پـــه دُنیـــا دا مـــعتبـــر خبـــري دي
دا خـــو دَ نبیـــــانـــو دَ افســـر ﷺ خبـــري دي
دا خبـــري دي دَ مُـــرســلانـــو دَ خـــاتـــم ﷺ
دلتـــه پـــه دُنیـــا کښـــي دَ نبیـــانـــو دَ خـــاتـــم ﷺ
اے احـــمـــده ! دا خـــو مـــعـــطّـــر خبـــري دي
دا خـــو دَ نبیـــــانـــو دَ افســـر ﷺ خبـــري دي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زمـــا جـــانـــان مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
زمـــا ایـــمـــان مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
زمـــا ایـــمـــان زمـــا جـــانـــان هـــغـــه دے
زمـــا ایـــمـــان پـــه دي جهـــان هـــغـــه دے
احســـان احســـان مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
زمـــا جـــانـــان مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
زمـــا جـــانـــان پـــه هـــر مـــقـــام هـــغـــه دے
زمـــا جـــانـــان دَ دیـــن اســـلام هـــغـــه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښان روښان محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما جانان محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما طبیب ددي جهان نبی ﷺ دے
زما حبیب ددي جهان نبی ﷺ دے
ذیشان ذیشان محمد مصطفیٰ ﷺ دے
دَ جهنم نه حفاظت هغه دے
دَ هرتورتم نه حفاظت هغه دے
امان امان محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما جانان محمد مصطفیٰ ﷺ دے
په هر ادا کښي لاثانی هغه دے
علاج دُنیا کښي روحانی هغه دے
سلطان سلطان محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما جانان محمد مصطفیٰ ﷺ دے
دَ رهبرانو په رهبر یادیږی
نورانی نور کله بشر یادیږی
بیان بیان محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما جانان محمد مصطفیٰ ﷺ دے
رڼا رڼا دَ کُل جهان هغه دے
داسي رڼا دَ هر مکان هغه دے
عیان عیان محمد مصطفیٰ ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـــا جـــانـــان مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے
دَ پــاس مهتـاب پــه شان ښـائسـتـهٔ ښـکـلـے دے
دَ ګـل ګـلاب پـــه شـان ښـائسـتـــه ښـکـلـے دے
ریـحـــان ریـحـــان مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے
زمـــا جـــانـــان مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے
زهٔ احـــمـــد دلتـــــه دا ویـــنـــا کـــومـــه
دغـــــه ویـــنـــا زهٔ پـــه دُنیـــا کـــومـــه
بـــرهـــان بـــرهـــان مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے
زمـــا جـــانـــان مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لـــه هـر حسیـــن نـه پـه دُنیا کښې ډیـر حسیـن ئې
اے هـــاشـــمـــی عـــربـــی ﷺ ډیـــر بهـتـریـن ئـې
له هر حسیـن نه په دُنیا کښې ډیـر حسین یادیږے
تـل پـه لـقـب بـانـدې قسـم دے بهـتـرین یادیږے
سـتـا خـو لـقـب دے چې تـهٔ دوسـت دَ ربّ متین ئې
اے هـــاشـــمـــی عـــربـــی ﷺ ډیـــر بهـتـریـن ئـې
نشـتـه دے نشـتـه سـتـا نـه وروسـتو پیغمبر نبی ﷺ بل
نشـتـــه نشـتـــه سـتـــا وروسـتـو یـو افسر نبی ﷺ بـل
داســـې خـــاتـــم دَ انبیـــاء او مـــرسـلیـــن ئـــې
اے هـــاشـــمـــی عـــربـــی ﷺ ډیـــر بهـتـریـن ئـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګل دَ جهان ګل عالیشان ئي په دُنیا عربي
داسي خائسته ئي په دُنیا کښي مصطفیٰ ﷺ عربي
دَ عجمیانو عربیانو نیازبین ئي
اے هاشمي عربي ﷺ ډیر بهترین ئي
نمر دَ مکي او مدیني ئي راختلے بره
نمر دَ دُنیا دَ هر حصي ئي راختلے بره
قران یاد کړے په طٰهٰ ﷺ او په یٰسین ﷺ ئي
اے هاشمي عربي ﷺ ډیر بهترین ئي
ستا دَ مقام او مرتبي نه علماء خبر دي
ستا دَ مقام او مرتبي نه اولیاء خبر دي
وائي احمد ته هم ربنتونے او امین ﷺ ئي
اے هاشمي عربي ﷺ ډیر بهترین ئي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چي قران دَ مصطفیٰ خیرالانام ﷺ اُولولي
هغه به دلته په دُنیا غوره کلام اُولولي
څوك چي کتاب دَ پاك سبحان په مینه مینه وائي
څوك چي کتاب دَ ربَ رحمان په مینه مینه وائي
څوك چي رښا ښائسته کتاب غوره تمام اولولي
هغه به دلته په دُنیا غوره کلام اُولولي
څوك چي کتاب دا نازل شوے بهترین اُولولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځـوك چـي كتـاب دا نازل پـه ښـۀ حسيـن اُولـولـی
هغـه بـه دلتـه پـه دُنيـا كښـي حق پيـغام اولولـی
هـغــه بــه دلتـــه پـــه دُنيـــا غـوره كلام اُولـولـــی
ځـوك چـي قـرآن پـه يـو مـحـفل كښـي دَ جهان اُولولی
ځـوك چـي قـرآن پـه يـو محفل كښـي عاليشان اُولولی
هغـه خـلاصـه بـه پـه دُنيـا كښـي دَ اسلام اُولـولـی
هـغــه بــه دلتـــه پـــه دُنيـــا غـوره كلام اُولـولـــی
ځـوك چـي قـرآن سـره كـړی مينـه او عـزت ئـي كـوی
ځـوك چـي قـرآن ســره كـړی مينـه تلاوت ئـي كـوی
داســـي احـــمــده ! ده چـــي وُرد بــــه دَ آرام اُولـــولـــی
هـغــه بــه دلتـــه پـــه دُنيـــا غـوره كلام اُولـولـــی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګــل دے ګـل دَ ګـلستـــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
نُـور دے تــل دَتـول جهـــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
ګــل دے ګـل دَ هـــر مـــحـــفـــل پــــه دي جهـــان
ګـــل دے ګـــل دَ دي دُنيـــــا دَ ګـــلستــــــان
يـــو حـــصـــــه ده دَ ايــمــــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
نُـور دے تــل دَتـول جهـــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
ګــل دے ګـل ورتــــه تـول وائـــی عـــاشـــقـــان
ګــل دے ګـل ورتــــه تـول وائـــی عـــالـــمـــان

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــل بهـــار دے دَ خـــزان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
نُـــور دے تـــل دَتـــول جهـــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
ګـــل دے ګـــل د دي نــــه هـــر څـــوك دی خبـــر
ګـــل دے ګـــل پـــه دي جهـــان كښـــي مـعـطّـر
ګـــل دے ګـــل ډيـــر عـــاليشـــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
نُـــور دے تـــل دَتـــول جهـــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
ګـــل دے ګـــل ددي دُنيـــا دَ هـــر مـــكـــان
ګـــل دے ګـــل ورســـره بـــره دَ آســـمـــان
ګـــل دے ګـــل دَ اطـــمـيـنـــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
نُـــور دے تـــل دَتـــول جهـــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
ګـــل دے ګـــل وائـــی احـــمـــد دَ تـــول مـــردان
ګـــل دے ګـــل ورتـــه تـــول وائـــی دَ جهـــان
ګـــل دے ګـــل دَ مســـلـــمـــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
نُـــور دے تـــل دَتـــول جهـــان زمـــونـــږ نبـــی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګـــل دے ګـــل دَ هـــر مـــحـــفـــل زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
داســـي يـــاد دے دلتـــه تـــل زمـــونـــږ نبـــی ﷺ
خـــوشبـــوداره دا حسيـــن پـــه تـــول جهـــان
خـــوشبـــوداره دا حسيـــن پـــه هـــر مـــكـــان
ده ښُـــكـــلا دَ هـــر مـــنـــزل زمـــونـــږ نبـــی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګـل دے ګـل دَ هـر مـحـفـل زمـونـږ نبـی ﷺ

نـــهٔ مـقـــام تـــهٔ ئـــي رسيـــږي دا ګـلاب

نـــهٔ ريـحـــان ورتـــه رسيـــږی پـــه يـو بـــاب

خــوش دَ غيـــرو هــم دَ خپـل زمـونـــږ نبـی ﷺ

ګـل دے ګـل دَ هـر مـحـفـل زمـونـږ نبـی ﷺ

تـول مـئيـن پـــه دغـــه ګـل دی عـــالـمـــان

تـول مـئيـن پـــه دغـــه ګـل دی امـــامـــان

بهتـــريـــن نِـعْـــمُ الْبَـدَل زمـونـــږ نبـــی ﷺ

ګـل دے ګـل دَ هـر مـحـفـل زمـونـږ نبـی ﷺ

زهٔ احـــمـــد د دغـــي ګـل صـفـــت کـــومـــه

ددې ګـل پـــه هـــر مـحـفـل صـفـت کـــومـــه

ده بښــکــلا دَ هــر مــحــل زمــونـــږ نبـــی ﷺ

ګـل دے ګـل دَ هـر مـحـفـل زمـونـږ نبـی ﷺ

نعتِ مصطفٰی ﷺ

زمـــا مـکـــه خـوښـه ده ، هـم مـدينـه خـوښـه ده

نـورانـــی دلتـــه زمـــا ، هـــره حـصـــه خـوښـه ده

دَ دَ انـــوار نـــه ډکـــه ، دا دَ اســـرار نـــه ډکـــه

دا دَ انـــوارو دلتـــه ، زمـــا چينـــه خـوښـــه ده

دلتـــه خـوشبـو وريـــږي، هـــرخـواتـه دا خـوريـــږي

زمـا ئـي ورځ خـوښـه ده ، زمـا ئي شپـه خوښـه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښ مې دي ټول ساکنان، د دغې در په جهان
زما یاران د نبي ﷺ، هره ټوله خوښه ده

خوښ ئې هر ګل دے زما، هر یو محفل دے زما
دا د ګلونو دلته، مې ګلدسته خوښه ده

هر یو قدم د نبي ﷺ، په هره لاره بانديې
هر یو مقام د نبي ﷺ، زما کوڅه خوښه ده

ښکلے مدفن د نبي ﷺ، ښکلے چمن د نبي ﷺ
قسم دے هر ساعت، زما روضه خوښه ده

دا د جنت ټوټه ده وائي احمد په جهان
د برکتونو ډکه دا مې ټوټه خوښه ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دیدن له چې ورځے تۀ د نبي خیر الانام ﷺ
ډالۍ ځان سره یوسه د درود او د سلام

دیدن له چې ورځے د مدینې خیر الابرار ﷺ
دیدن له چې ورځے د مُرسلانو د سردار ﷺ

لازم په دي سفر کښې دے ادب او احترام
ډالۍ د ځان سره د درود او د سلام

دیدن له چې ورځے د معطّره منوّر
دیدن له چې ورځے تۀ مزمل له مدثر

په مینه محبت سره کوۀ هر یو کلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالـــــى دَ ځـــــان ســــــره دَ درود او دَ ســـــلام

ديـدن لــــه چـې ورځــې تــۀ دَ نبـى اخــر زمـان ﷺ

ديـدن لــه چـې ورځــې دَ سلـطانانو دَ سلـطان ﷺ

لازم دلتــــــه ادب دے پــــه ازاد او پــــــه غــلام

ډالـــــى دَ ځـــــان ســــــره دَ درود او دَ ســـــلام

ديـدن لـه چـې ورځــې تــۀ دَ مـحبوب غـنـى سبحان

ديـدن لـــه چـې ورځــې تــۀ دَ مـحبوب دَ دوجهـان

لازم دے هـــــر ادب دَ امـــــامـــــانــو دَ امـــام ﷺ

ډالـــــى دَ ځـــــان ســــــره دَ درود او دَ ســـــلام

احــمـــد عـلـــى لـيـكـلـے دَ ديـدن دے دا سـفــر

سـفــر دَ هــر بشــر دے پــه دُنيـــا كښې معطَـر

مـونـدلـے بـركتـونـه دلتـه كښې دى خاص وعام

ډالـــــى دَ ځـــــان ســــــره دَ درود او دَ ســـــلام

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

افســـــر افســــر خيــــر البشـــر ﷺ مــدنـــــى

رهبــــر رهبـــــر خيــــر البشـــر ﷺ مــدنـــــى

نُـــور هـــدايـــت دے بـــره نـــمـــر دَ جهـــان

قــــمــــر قـــمـــر خيـــر البشـــر ﷺ مــدنـــى

پــــه نــور صــفـــت ســره يـــاديـــږى هـغـــه

بشـــر بشــــر خيـــر البشــــر ﷺ مــدنـــــى

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ دې جهان دَ پاره سترګې ښکلې

نظر نظر خیر البشر ﷺ مدني

دَ هر یو در ښکلا ښائست دَ چمن

سحر سحر خیر البشر ﷺ مدني

ورله ورکړے رب دَ وحي دولت

خبر خبر خیر البشر ﷺ مدني

دانا خبر دے نادان نۀ پوهیږي

ثمر ثمر خیر البشر ﷺ مدني

زیرے سکون دَ هر یو در دَ پاره

اختر اختر خیر البشر ﷺ مدني

محبوب دَ ټولو خلقو اے احمده !

دلبر دلبر خیر البشر ﷺ مدني

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نور دے دُنیا کښې دَ حضور ﷺ په زمکه

ښکلے دے ښکلے دغه نُور په زمکه

دَ هر بشر نه ښۀ اعلیٰ یادیږي

یاد دے اعلیٰ هغه ضرور په زمکه

څنګ چې مقام دے دَ معراج دَ سفر

نۀ دے مقام داسے دَ طور په زمکه

په صابرانو کښې صابر هغه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي شاکر نشته مشکور په زمکه
رب چې فاتح کړلو په زړونو تولو
داسې به نۀ وي يو منصور په زمکه
دَ هر يو قلب دَ اطمينان باعث دے
دَ هر يو زړۀ دے نُور سُرور په زمکه
پاك له هر قسمه معصيت نه هغه
داسې به نۀ وي يو مغفور په زمکه
دغه تعليم دے دَ رسول عربی
خوشحاله تل ساته مزدور په زمکه
داسي سيرت کښي دَ نبی ﷺ راغلی
پوره حاجت کړه دَ مجبور په زمکه
رب به دے بوځی تا احمده! ورله
کۀ رب ته وي دغه منظور په زمکه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دُنيا ده رڼا کړي تا اسمان دے رڼا کړے
رسوله! ﷺ دَ دُنيا تا هر مکان دے رڼا کړے
دُنيا ده رڼا کړي تا دُنيا کښي هر سحر
دُنيا ده رڼا کړي تا دُنيا کښي مازيګر
په نور سره هر زړه دَ مسلمان دے رڼا کړے
رسوله! ﷺ دَ دُنيا تا هر مکان دے رڼا کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دُنيا دي رڼا کړي، رڼا کړي تا فضا ده
دُنيا دي رڼا کړي ، رڼا کړي تا هر خوا ده
سنت سره دُنيا کښي په قرآن دي رڼا کړي
رسوله ! ﷺ دَ دُنيا تا هر مکان دي رڼا کړي
دُنيا دي رڼا کړي داسې وائي عالمان
دُنيا دي رڼا کړي داسې وائي ټول جهان
دا کور کلي دُنيا کښي بيابان دي رڼا کړي
رسوله ! ﷺ دَ دُنيا تا هر مکان دي رڼا کړي
مردان دي رڼا کړي داسې وائي نن احمد
قسم دې رڼا کړي دَ مؤمن دې تا لحد
قسم دې د دُنيا دغه دروان دې رڼا کړې
رسوله ! ﷺ دَ دُنيا تا هر مکان دې رڼا کړې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ده مجموعه دَ انوارتو ستا سيرت رسوله ! ﷺ
دَ ثوابونو ذريعه ده ستا صفت رسوله ! ﷺ
ستا په سيرت کښي انوارت ددي جهان پراتهٔ دي
ستا په سيرت کښي انوارات دَ هرآسمان پراتهٔ دي
ستا دَ سيرت تذکره ده لوئي عبادت رسوله ! ﷺ
دَ ثوابونو ذريعه ده ستا صفت رسوله ! ﷺ
ستا په سيرت کښي هرانسان له يو رڼا پرتهٔ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په سيرت کښې مسلمان له يو رڼا پرته ده
دغه رڼا دَ کائنات ده دَ سنت رسوله ! ﷺ
دَ ثوابونو ذريعه ده ستا صفت رسوله ! ﷺ

ستا په سيرت کښې ددې ژوند پوره احکام موجود دي
ستا په سيرت کښې دا احکام دلته تمام موجود دي
مونږ له راکړے ستا په وجه ربَ رحمت رسوله ! ﷺ
دَ ثوابونو ذريعه ده ستا صفت رسوله ! ﷺ

ستا په سيرت باندې مئين خلق دُنيا کښې شته دے
ستا په صفت باندې مئين خلق دُنيا کښې شته دے
په نعمتونو کښې دے دغه لوئې نعمت رسوله ! ﷺ
دَ ثوابونو ذريعه ده ستا صفت رسوله ! ﷺ

ستا په سيرت کښې ددې ژوند يو نمونه پراته ده
دا نمونه دَ دې جهان په هر حصه پراتۀ ده
عالي دُنيا کښې په دُنيا دے ستا نسبت رسوله ! ﷺ
دَ ثوابونو ذريعه ده ستا صفت رسوله ! ﷺ

ستا په سيرت کښې دَ هر کاريو طريقه پرته ده
دَ صفتونو په دُنيا يو ګلدسته پرته ده
ستا هريو کار کښې ربَ پټ کړے هدايت رسوله ! ﷺ
دَ ثوابونو ذريعه ده ستا صفت رسوله ! ﷺ

ستا په سيرت کښې دَ هر يو مشکل زۀ حل وينمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په سيرت کښې هر بشر له نجات تل وينمه
احمد ليکلے ستا دے ذکر دا ساعت رسوله! ﷺ
دَ ثوابونو ذريعه ده ستا صفت رسوله! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دلبر دَ دلبرانو پيغمبر ﷺ زمونږه دے
افسر دَ افسرانو پيغمبر ﷺ زمونږه دے
دلبر دَ دلبرانو محمد خير الابرار ﷺ
دلبر دَ دلبرانو دَ نبيانو دے سردار ﷺ
امام دَ امامانو پيغمبر ﷺ زمونږه دے
افسر دَ افسرانو پيغمبر ﷺ زمونږه دے
افسر دَ افسرانو محمد خير الانام ﷺ
افسر دَ افسرانو دَ دُنيا دَ خاص وعام
ملګرے دَ نيکانو پيغمبر ﷺ زمونږه دے
افسر دَ افسرانو پيغمبر ﷺ زمونږه دے
دلبر دَ دلبرانو دَ نبيانو دَ جهان
دلبر دَ دلبرانو په دُنيا دَ مسلمان
رهبر دَ رهبرانو پيغمبر ﷺ زمونږه دے
افسر دَ افسرانو پيغمبر ﷺ زمونږه دے
محبوب دے دَ مولیٰ هغه محبوب دے دَ جهان
مولیٰ ورله ورکړے په دُنيا دغه قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library

مئین په یتیمانو پیغمبر ﷺ زمونږه دے
افسر دَ افسرانو پیغمبر ﷺ زمونږه دے
دلبر دَ دلبرانو دے دلبر هم دَ احمد
رهبر دَ رهبرانو دے رهبر هم دَ احمد
محبوب دَ صالحانو پیغمبر ﷺ زمونږه دے
افسر دَ افسرانو پیغمبر ﷺ زمونږه دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ یم یو غلام دَ پاك رسول ﷺ په غلامانو کښې
زۀ یو امتی یم دَ رسول ﷺ په امتیانو کښې
زۀ فخر کوومه په دې دلته کښې سحر ماښام
زۀ فخر کوومه په دې دلته کښې په هر مقام
زۀ یم ثناخوان دَ پاك رسول ﷺ په عاشقانو کښې
زۀ یو امتی یم دَ رسول ﷺ په امتیانو کښې
دا خو زما فخر او عزت لره کافی دی نن
ښکلے په نسبت دَ مصطفیٰ ﷺ مې دے ښائسته بدن
ربّه! ما کړے شمار ددغه در په انسانانو کښې
زۀ یو امتی یم دَ رسول ﷺ په امتیانو کښې
در دغه عالی دے داسې وائی عالمان خلق
در دغه عالی دے داسې وائی په جهان خلق
داسې بادشاه نشته ددنیا په بادشاهانو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ يو امتي يم دَ رسول ﷺ په امتيانو کښي
در دغه عالي دے دغه در کښي خوشبوياني دي
در دغه عالي دے دغه در کښي وفاګاني دي
ربه ! ما کړے شمار د دغه در په درباريانو کښي
زۀ يو امتي يم دَ رسول ﷺ په امتيانو کښي
دا ډير لوئي عزت دے چي نسبت دَ محمد ﷺ لرم
دا ډير لوئي عزت چي زۀ در دغه احمد لرم
ربه ! ما کړے شمار د دغه در په مدح خوانو کښي
زۀ يو امتي يم دَ رسول ﷺ په امتيانو کښي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ربه ! ما خادم کړے دَ روضي په خادمانو کښي
غوارم درنه غوارم دا دُعا په دُعاګانو کښي
ربه ! دا نصيب کړے په دُنيا باندي خدمت زما
ربه تل نصيب کړے په دُنيا کښي دا فضيلت زما
ربه ! ما شامل کړے په ټولي دَ صالحانو کښي
غوارم درنه غوارم دا دُعا په دُعاګانو کښي
دغه فضيلت دغه خدمت زما نصيب کړے تۀ
دغه په دُنيا کښي لوئي دولت زما نصيب کړے تۀ
ربه ! ما شامل کړے نيك عمله عالمانو کښي
غوارم درنه غوارم دا دُعا په دُعاګانو کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغــه عبــادت او ســعــادت درنــه زۀ غــواړمــه
دغــه هــدایــت اولــوئي نـعـمـت درنـه زۀ غـواړمـه
ربَــه ! مـا شـامـل کـړے نیك عـمـلـه شاعرانو کښي
غــواړم درنــه غــواړم دا دُعــا پــه دُعـا ګـانو کښـي
ربَــه ! درنــه غــواړمــه دَ پـاك نبی روضـه ښـکلـے
ربَــه ! درنـه غـواړمــه ښـائسـتـۀ ښـۀ مدینه ښکلے
ربَــه ! ما شامل کړے نیك عـمـلـه بـندیګانو کښي
غــواړم درنــه غــواړم دا دُعــا پــه دُعـا ګـانو کښـي
ربَــه ! درنــه غــواړمــه خوشبو دَ محمد ﷺ دَ در
غــواړمــه احـمـدعـلـی دُنیــا کښي دَ دُنیـا سـحـر
ربَــه ! مـا شـامـل کـړے پـه صادقه عـاشقانو کښي
غــواړم درنــه غــواړم دا دُعــا پــه دُعـا ګـانو کښـي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خیـر البشـر نُور القـمـر دے مـصـطفیٰ ﷺ زمونږه
رهبـر رهبـر دَ هـر بشـر دے مـصـطفیٰ ﷺ زمـونږه
نبیـان چـي څـومـره پـه دُنیـا کښـي دَ مولیٰ راغلی
نبیـان چـي څـومره پـه دُنیـا کښـي پـه هرخوارا غلی
افسـر افسـر دَ هـر افسـر دے مـصـطفیٰ ﷺ زمونږه
رهبـر رهبـر دَ هـر بشـر دے مـصـطفیٰ ﷺ زمـونږه
څـومـره چـي څـومـره پـه دُنیا کښـي امامان وینمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره چې ځومره په دُنیا کښې عالمان وینمه
محبوب دلبر دَ هر دلبر دے مصطفیٰ ﷺ زمونږه
رهبر رهبر دَ هر بشر دے مصطفیٰ ﷺ زمونږه
ځومره چې وینم انسانان په دې خبره ګواه
ځومره چې وینم عاشقان په دې خبره ګواه
سحر سحر دے نُور سحر دے مصطفیٰ ﷺ زمونږه
رهبر رهبر دَ هر بشر دے مصطفیٰ ﷺ زمونږه
زما یاران به دَ دُنیا ټول ګواهی ورکوی
دغه بیان به دَ دُنیا ټول ګواهی ورکوی
خوښ دَ مولیٰ غني اکبر دے مصطفیٰ ﷺ زمونږه
رهبر رهبر دَ هر بشر دے مصطفیٰ ﷺ زمونږه
زهٔ یم احمد په دې ګواه دا ګواهی ورکوومه
مخلوق ته دلته په اشعارو آګاهی ورکوومه
قسم دے سر دَ هر یو سر دے مصطفیٰ ﷺ زمونږه
رهبر رهبر دَ هر بشر دے مصطفیٰ ﷺ زمونږه

دَ محشر ورځ

حقه دَ محشر ورځ ده یوه ورځ دا را به شي
حق به د باطل نه بیا دغه ورځ جُدا به شي
یو خوا به نیکان شي ټول بل خوا ته به وران شي ټول
یوه ورځ به دا دُنیا دا فاني فنا به شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خوا ته اشرار به وي بل خوا ته ابرار به وي
دغه پټي سترګي به ښځه کهلاؤ رښا به شي
هر بشر خبر به شي هر څیز په نظر به شي
فکر به انسان سره دلته خپل پیدا به شي
څه چي چا نن کړي دي هلته کښي ئي وړي دي
نه به په چا ظلم وي هر یو کار صفا به شي
دا متکبره ټول دغه دُښمنان دَ دین
دغه دَ عزت خلق دغه وخت رُسوا به شي
تله به دَ عدل وي ورځ چي محشر شي بیا
بیل به دَ روا نه ټول هر یو ناروا به شي
رحم دَ مولیٰ به وي هلته په بنده باندي
نیك انسان به دغه وخت بچ له هر بلا به شي
یاده دَ محشر کړه ورځ دلته کښي احمده! نن
دا عمل به تا لره هلته ښه سودا به شي

دَ بدعت مذمت

مینه چي دَ چا وي دَ بدعت سره په زړهٔ کښي
دے به ساتي مینه شرارت سره په زړهٔ کښي
دغه رُسوائي ده په جهان دَ هر بشر
څوك چي ساتي مینه شیطانت سره په زړهٔ کښي
دغه ناکامي ده هر بشر له په هر در

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوك چې ساتي مينه دَ لعنت سره په زړۀ كښې

دغه بدبختي ده دَ دُنيا او دَ آخر

څوك چې ساتي مينه ضلالت سره په زړۀ كښې

دغه بې ديني ده په دُنيا كښې په هر در

څوك چې ساتي مينه دَ ظلمت سره په زړۀ كښې

دغه جُدائي ده په دُنيا دَ هر بشر نه

څوك چې ساتي مينه دَ نفرت سره په زړۀ كښې

هغه په دُنيا دے دَ عزت نه لرے لرے

څوك چې ساتي مينه دَ ذلت سره په زړۀ كښې

اے احمده ! نشته په كښې خير دَ دوجهان

څوك لري مينه عداوت سره په زړۀ كښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راته محبوب په دې دُنيا دَ پاك سبحان ياديږي

چې په لقب سره نبي آخرزمان ﷺ ياديږي

چې په لقب سره خاتم الانبياء ﷺ هغه دے

چې په لقب سره امام الاولياء ﷺ هغه دے

هغه امام راته دُنيا كښې عاليشان ياديږي

راته محبوب په دې دُنيا دَ پاك سبحان ياديږي

چې په لقب سره ياديږي مصطفیٰ عربي ﷺ

چې په لقب سره ياديږي په طٰه عربي ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مزمل او مدثر چې په قرآن يادېږي
راته محبوب په دې دُنيا دَ پاك سبحان يادېږي
چې په لقب سره ياد شوے دَ دُنيا سحر دے
چې په لقب سره ياد شوے نوراني قمر دے
نوراني نُور راته دُنيا كښې دَ جهان يادېږي
راته محبوب په دې دُنيا دَ پاك سبحان يادېږي
چې په لقب سره صادقه او امين هغه دے
چې په لقب سره قرآن كښې په يٰسين هغه دے
ماته دُنيا كښې دا ښائسته حسين انسان يادېږي
راته محبوب په دې دُنيا دَ پاك سبحان يادېږي
په هر لقب سره دُنيا كښې بهترين هغه دے
په هر لقب كښې اوّلين او آخرين هغه دے
احمده! تا ته په دُنيا دغه جانان يادېږي
راته محبوب په دې دُنيا دَ پاك سبحان يادېږي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

هغه دلبر دَ دلبرانو په دلبر يادېږي
په مُرسلانو كښې زمونږه پيغمبر ﷺ يادېږي
ورته دلبر دَ دلبرانو هر بشر وئيلے
ورته دلبر دَ دلبرانو هر دلبر وئيلے
داسې محبوب داسې دلبر په هريو در يادېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه مُـرسلانو کښـې زمـونـږه پیـغمبر ﷺ یادیږي

ورتـــه مـحبـوب دَ مُـرسلانـو پـه دُنیـا کښې وائـي

ورتـــه مـحبـوب دَ صـالـحانـو پـه دُنیا کښې وائـي

قسم دے هـر ځـائـے اطمینان دَ هر ځیګر یادیږي

پـه مُـرسلانو کښـې زمـونـږه پیـغمبر ﷺ یادیږي

ورتـــه مـحبـوب پـــه دې جهان دَ مـخلـوقاتو وائـي

ورتـــه جـامـع پـــه کـائـنات کښې دَ صـفاتـو وائـي

داسـے افسـر داسـے دلبـر داسـے نـظـر یـادیـږي

پـه مُـرسلانو کښـې زمـونـږه پیـغمبر ﷺ یادیږي

ورتـه مـحبوب دَ ټول عـرب پـه ټول عرب کښې وائي

ورتـه قسم دے بهتـریـن پـه هر مـکتب کښې وائي

داسـې بهتـر دَ کـائـنات پـه بحـر وبـر یـادیـږي

پـه مُـرسلانو کښـې زمـونـږه پیـغمبر ﷺ یادیږي

هغـه مـحبوب دے دَ احـمد ددې مـردان پـه زمکه

هغـه مـحبوب دے دَ احـمد ددې جهـان پـه زمکه

کـلـه پـه نُـور دَ پـاس قـمر یـا پـه سحر یـادیـږي

پـه مُـرسلانو کښـې زمـونـږه پیـغمبر ﷺ یادیږي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دا چـې دلتـــه کښـې هـــر څــهٔ دي مـحـمـده! ﷺ

بـــے لـتـــانـــه دغـــه نـــهٔ دي مـــحـمـده! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ستـــرګـــو چـــې ليـدل کـوې دنُيـــا کښې
تـــا چـــې نـــۀ ويـنـــې ړانـدۀ دي مـحـمـده ! ﷺ
ستـــا دَ لارنـــه چــې بــې لارې پـــه دنُيـــا شـــې
پـــه دنُيـــا دا غـلـط تـلـــۀ دي مـحـمـده ! ﷺ
چــې ستـــا ديـــن او طـريـقـې نـــه خبـر نـــۀ وي
هـــغـــه تـول خـلـق اودۀ دي مـحـمـده ! ﷺ
چـې دا ستـــا مـيـنـه کښې هـرڅـۀ تـه تيـار دے
دَ احـمـد عـلـې دا ښـــۀ دي مـحـمـده ! ﷺ

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

چــې پـــه ديـن دَ مـصـطـفـىٰ ﷺ يـمــه مـئـيـن
پـــه دنُيـــا کښــې پـــه رڼـــا يـمـــه مـئـيـن
طـــريـقـــه دَ مـحـمـد ﷺ ده زمـــا خـوښـه
دَ نبـــې ﷺ پـــه هـــر ادا يـمـــه مـئـيـن
دَ نبـــې ﷺ دَ هـــريـو کـــار نـــه زۀ زاريـــږم
دَ نبـــې ﷺ پـــه هـر ويـنـــا يـمـــه مـئـيـن
زۀ نسبــت ســره دَ پـــاك نبـــې ﷺ کـرم مـيـنـه
پـــه تـعـريـف ئـې پـــه هـرخـوا يـمــه مـئـيـن
دَ نبـــې ﷺ دَ تـــعــلــق نـــه زۀ زاريـــږم
راتـــه وايـــه زۀ پـــه چـــا يـمـــه مـئـيـن
زۀ دَ حــق ســـره مـلــګـرے پـــه هــردريـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دُنیا کښې په رښتیا یمه مئین
دا د نن خبره نه ده احمد وائی
په نبی ﷺ زۀ دَ پخوا یمه مئین

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نُور رڼا قرآن زما ، ښکلے دے جانان زما
داسے نشته نشته بل ، څنګ چي دے سلطان زما
نُورئي دَ جهان دے نُور ، نُورئي عالیشان دے نُور
واوره حق بیان زما ، نُور دَ هر مکان زما
نُور رڼا قرآن زما ، ښکلے دے جانان زما
ښکلے په سیرت سره ، ښکلے په صورت سره
دغه دے ایمان دے ، دغه دے اعلان زما
نُور رڼا قرآن زما ، ښکلے دے جانان زما
ښکلے او ښُکلا زمونږ ، هرځائے رهنما زمونږ
خور کړه دا علان زما ، خور کړه دا بیان زما
نُور رڼا قرآن زما ، ښکلے دے جانان زما
ورته محبوب وائی تول ، ورته مطلوب وائی تول
ګل دے دَ ریحان زما ، ګل دَ ګلستان زما
نُور رڼا قرآن زما ، ښکلے دے جانان زما
نور دے دَ هریو سحر ، وائی احمد مختصر
نُور دے دَ مردان زما ، نُور دَ ټول جهان زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

نُور رڼا قرآن زما ، ښکلے دے جانان زما

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رهنما دَ نيك او بد دے محمد ﷺ دے
ترجمان دَ ربّ احد دے محمد ﷺ دے
په مخلوق کښې يو دے يو دے
ډير ستائيلے ربّ صمد دے محمد ﷺ دے
خير دے خير ئې طريقه کښې دَ جهان
هر يو کار ئې مستند دے محمد ﷺ دے
هر قدم ئې دَ جنت په لاره تلے
دَ فلاح عزت سند دے محمد ﷺ دے
هر وينا ئې ښۀ خوږه ده قدرمنده
ورسره دَ ربّ مدد دے محمد ﷺ دے
په رڼائي ئې دا جهان دے رڼا شوے
رڼا نُور دَ هر لحد دے محمد ﷺ دے
په صورت او په سيرت سره ښائسته دے
دا بيان تول دَ احمد دے محمد ﷺ دے

نعتِ مصفیٰ ﷺ

څوك چې دلته کښې ستا يار دے بختور دے
څوك چې دلته ستا په لار دے بختور دے
بختور دے چې سنت سره کړي مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوك چي ستا په نُور انوار دے بختور دے
بختور دے چي ستا دين سره كړي مينه
ستا چي دلته تا بعدار دے بختور دے
څوك چي ستا په لار روان دي نۀ خواريږي
څوك چي ګل ستا دَ ګلزار دے بختور دے
څوك چي ستا دَ هر ادا نه قربانيږي
څوك چي تا سره بيدار دے بختور دے
بختور دے ستا په نُور كښي غوپه شوے
څوك چي تا سره په دار دے بختور دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اعلیٰ اعلیٰ ده مرتبه دَ مدنی جانان
ده خوشبوداره مدينه دَ مدنی جانان
ده خوشبوداره مدينه په محمد عربی ﷺ
ده خوندوره قصيده دَ مدنی جانان ﷺ
دغه قرآن چي ترقيامته پوري دلته به وي
قسم دے دا ده معجزه دَ مدنی جانان ﷺ
ورځي رڼا دي دَ دُنيا په محمد عربی ﷺ
رڼا رڼا ده هره شپه دَ مدنی جانان ﷺ
ټول صفتونه مدينه كښي دَ رسول الله ﷺ دي
دَ نور نه ډكه ده كوڅه دَ مدنی جانان ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـهٔ عـجـمـان دي کـهٔ عرب دغـه منـي پـه جمع
هــر ځــائـــې ده دلتـــه دبـدبــه دَ مـدنــي جـانـان ﷺ

احــمــده ! څـومـره چې ياران دَ مـصـطـفیٰ دلتــه دي
ده دَ ګـلــونــو ګـلـدستــــه دَ مـدنــي جـانــان ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـــهٔ امــام الانبيــاء ﷺ ئـــي تـــهٔ امـام الاوليـاء ئـي
عـقـيـده لــرمـــه دغــه ، نـورانــي ئـي نُـور رنـا ئــي

هم بشر ئي پيغمبر ﷺ ئي، افسرانو کښې افسر ﷺ ئي
پـه تيـرو کښـې يو رنـا ئـي ، مـقتدا ئي رهنما ئي

تـــهٔ امــام الانبيــاء ﷺ ئـــي تـــهٔ امـام الاوليـاء ئـي
هـم سـخـــي ئــي دَ جهـــان ، نُـور لــرې دغـــه قـرآن

دَ هـريـو چـمـن ښُـکـلا ئـي ، راليـږلـې ربّ مولـیٰ ئي
تـــهٔ امــام الانبيــاء ﷺ ئـــي تـــهٔ امـام الاوليـاء ئـي

ستا صفت دَ صداقت شته ، طريقه دې نُور سنت شته
مـنـفـــرد پـــه هـــر ادا ئـي ، رنځـورانو لـــه دوا ئــي

تـــهٔ امــام الانبيــاء ﷺ ئـــي تـــهٔ امـام الاوليـاء ئـي
تـهٔ ئي سيـورې دَ رحـمـت ، تـهٔ ئي سيورې دَ عزت

داسې ياد په دې دُنيا ئي، مصطفیٰ ئي مجتبیٰ ﷺ ئي
تـــهٔ امــام الانبيــاء ﷺ ئـــي تـــهٔ امـام الاوليـاء ئـي

ستـا صـفـت هـم امـانت شته ، ستا کامله شريعت شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ احـمـد پـاکـه وينـائـي، دا وينا دلته صفائي

تــهٔ امـام الانبيـاء ﷺ ئــي تــهٔ امـام الاوليـاء ئـي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تــــــــــــا راوړلــــــــــے دے قــــــــــران

مـــــحـــــمـــــده! ﷺ عـــــاليشـــــان

وائــــــــے وائــــــــے پــــــــــه جهــــــان

راليـــــــــــړلـــــــــے پـــــــاك سبـــــحـــــان

دا بـــــــاعـــــــث دَ هـــــــر عـــــــزت

دا بـــــــاعـــــــث دَ بـــــــرکـــــــت

دابـــــــاعـــــــث دَ هـــــــر رحـــــــمـــــــت

دا بـــــــاعـــــــث دَ هـــــــر نـــــعـــــمـــــت

دا هـــــــــــادي دے دَ انســــــــــــان

رهـــــــنـــــــمـــــــا دَ مســـــــلـــــــمـــــــان

تــــــــــــا راوړلــــــــــے دے قــــــــــران

مـــــحـــــمـــــده! ﷺ عـــــاليشـــــان

وائــــــــے وائــــــــے پــــــــــه جهــــــان

راليـــــــــــړلـــــــــے پـــــــاك سبـــــحـــــان

تـــــــلاوت ئــــــــــي دے واجـــــــــب

ښـــــهٔ ښـــــائستـــــهٔ ښـــــهٔ مـــــنـــــاسب

پــــــــه کښـــــي شتـــــه دے عـــجـــائـــب

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اُستاد او په طالب
دا دے نُور دَ هر ایمان
داسے وائي عالمان
تا راوړلے دے قرآن
محمده! ﷺ عالیشان
وائے وائے په جهان
رالیږلے پاك سبحان

په دي شته اجر وثواب
ډیر عالي دے دا کتاب
بهترین دے په هر باب
ده رڼا لکه آفتاب
دا دے وزن دَ میزان
دا دے فضل دَ رحمان
تا راوړلے دے قرآن
محمده! ﷺ عالیشان
وائے وائے په جهان
رالیږلے پاك سبحان

دغه خیر دَ هر بشر
دغه نُور دَ هر نظر
دغه نُور دَ هر سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library

احـــمـــد وائـــي مـــختـصـــر
خپـــور كـــړه خپـــور كـــړه دا بيـــان
اُوكـــــــړه اُوكـــــــړه دا اعـــــــلان
تـــــــا راوړلـــــــي دے قـــــــرآن
مـــحـــمـــده ! ﷺ عـــالیشـــان
وائـــــي وائـــــي پـــــه جهـــــان
راليـــــرلـــــي پـــــاك سبـــحـــان

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هـــريـــو بـدعتـــي سـړے دَ ديـن سـره وفـا نـــهٔ كـړي
هـغـــه پـــه دُنيـــا كښـــي دَ سنتـو اقتـدا نـــهٔ كـړي
هـغـــه هـرشيـطـان او شيـطـانت سره كوي مينـه
كـــار بـــه دَ عـزت دَ مـحبـت پـــه دې دُنيـــا نـــهٔ كـړي
څـوك چـې دَ شيـطـان پـه شيـطانت پسـے وهـي منډې
دغـه بـې حيـا دے چـې دُنيـا كښـې څـوك حيـا نهٔ كـړي
څـوك چـې دَ بـدئ او د بـدعـت سـره كـوي مينـه
دا انسـان بـه هيـڅ كلـه بـاطل نـه حق جُدا نـهٔ كـړي
چـا چـې وي سـاتـلـي شيـطـانان ملگري دلتـه كښـې
هغـه پـه دُنيـا كښـې دَ نيـكـانـو ملگرتيـا نـهٔ كـړي
دربـــه دربـــه گـرځـي اے احـمـده ! بـدعتـي سـړے
بل بـه وي هغـه بشر چـې ځان نـه رب رضا نـهٔ كـړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چې پيروي دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ نۀ كړي
هيڅ كله به نۀ هغه دَ بدونه جُدا نۀ كړي
څوك چې خپله نۀ كړي طريقه دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ
هغه به هيڅ كله قيمتي دغه دُنيا نۀ كړي
څوك چې دَ نبي ﷺ دَ لار نه ځان كړي ناخبره نن
كار دَ نادانو دے دا كار خو يو دانا نۀ كړي
څوك چې دَ بدعت لعنت نه بچ نۀ كړي دُنيا كښي ځان
ځان په عبادت به هغه هيڅ كله صفا نۀ كړي
څوك چې دَ رسول ﷺ مينه په زړۀ نۀ كړي احمده ! نن
بچ به په آخر كښي بيا خپل ځان دَ يو بلا نۀ كړي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ما ښكلي ګلونه مدينه كښي چې ليدلي دي
دغه ټول ياران دَ مصطفیٰ ﷺ دَ ښكلي كلي دي
دغه دے صديق رضی الله عنه هغه دے يار دَ مصطفیٰ ﷺ دَ غار
دغه دے صديق رضی الله عنه هغه دے يار دَ مديني دَ ښار
دلته دَ دُنيا د درنه دا ګلونه ښكلي دي
دغه ټول ياران دَ مصطفیٰ ﷺ دَ ښكلي كلي دي
ښكلے دے عمر رضی الله عنه ورته عادل په جهان وائي ټول
ښكلے دے عمر رضی الله عنه ورته يو ګل عاليشان وائي ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مـــې دَ نيـكـــانــو نـــه دُنيــا کښــې اوريـدلـــى دى
دغــه تــول يــاران دَ مــصــطــفـىٰ ﷺ دَ ښکلى کلى دى
دغــه شــان عثـمــانؓ دے قــدرمنده عـاليشان دے ډير
دغــه شــان عثـمــانؓ دے عــزتمند پــه جهان دے ډيـر
دغـــه فـضـــائـل هــريـو عــالـم دلتـــه ليـکـلــى دى
دغــه تــول يــاران دَ مــصــطــفـىٰ ﷺ دَ ښکلى کلى دى
شتــه حـضـرت عـلـىؓ هـم لـوئـې مـقـام لرى پـه بحر وبر
وائـــى احـمـد وائــى هر انسان تـريـنـه دے ښــهٔ خبـر
ښــهٔ خبــر دى څــوك چــې دغــې در تــه نن ورغلــى دى
دغــه تــول يــاران دَ مــصــطــفـىٰ ﷺ دَ ښکلى کلى دى

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

مــا چــې دلتــه څــهٔ پــه دې قـلـم بــانـدې ليکلى دى
دغـــه فـضـــائـل مــې دَ نبــى ﷺ تــول اوريـدلـــى دى
يـــو دَ امـــامـــانـــو پـــــه امــام ســره يــاديــږى تــل
دلتــــه پــــه دُنيــــا خيــر الانــام ﷺ ســره يـاديــږى تــل
دلتــه شــان اوصـاف دَ پــاك نبــى ﷺ ښــکلى راغلى دى
دغـــه فـضـــائـل مــې دَ نبــى ﷺ تــول اوريـدلـــى دى
نُـــور رنــا دُنيـــا کښــې پـــه تــمــام ســره يــاديــږى تــل
هر ځائـے هـر مـحـفـل کښـې احتـرام سره ياديږى تل
داســے عـــالـمـــانـو تـقـريــرونو کښــې وئيـلـــى دى

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغــه فـضـائل مـي دَ نبـي ﷺ ټول اوريدلـي دي
خاتم الرسل ﷺ دے په نبيانو کښې اعلیٰ نبي ﷺ
خورم قسم هرخوا ته داسے نشته په دُنيا نبي ﷺ
ښار په ښار انوارئې دي پراته کلي په کلي دي
دغــه فـضـائل مـي دَ نبـي ﷺ ټول اوريدلـي دي
دا مـي اوريـدلـے دَ نيـكـانـو صـالـحـانـو دي
دا مـي اوريـدلـے پـه دُنيـا دَ عـالـمـانـو دي
دا صفات دُنيا کښې ټول ګلونه ښائسته ښکلي دي
دغــه فـضـائل مـي دَ نبـي ﷺ ټول اوريدلـي دي
دا مـي اوريـدلـي هـر طرف تـه پـه دُنيـا کښې دي
وائـي احـمـد وائـي اوريـدلـي تـا ويـنـا کښـې دي
داسے عـالـمـانـو طـالـبـانـو تـه ښودلـي دي
دغــه فـضـائل مـي دَ نبـي ﷺ ټول اوريدلـي دي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چـرتـه چـې ذکـر دَ نبيـانـو دَ سـردار ﷺ کيـږي
هـلـتـه نـزول دَ رحـمـتـونـو بـار بـار کيـږي
هـلـتـه رحـمـت دَ پـاس آسـمـانـه پـه هـر در وريـږي
هـلـتـه رحـمـت پـه هـر مـکـان پـه هـر بشـر وريـږي
چـرتـه چـې ذکـر دَ حضـرت خيـر الابـرار ﷺ کيـږي
هـلـتـه نـزول دَ رحـمـتـونـو بـار بـار کيـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته سکون او اطمینان په هر بشر وریږي

هلته سکون او اطمینان په هر یو در وریږي

فضل وکرم دغه دُنیا کښې په هر دار کیږي

هلته نزول دَ رحمتونو بار بار کیږي

هلته خوشبو دَ ربَ منان نه په هر در وریږي

هلته خوشبو دَ محمد خیر البشر ﷺ وریږي

چرته چې ذکر دَ اللّٰه دَ ښکلي یار کیږي

هلته نزول دَ رحمتونو بار بار کیږي

هلته رڼا دَ هدایت ماښام سحر وریږي

احمده ! هلته هدایت په هر یو در وریږي

چرته چې ذکر دَ نبیانو دَ دلدار ﷺ کیږي

هلته نزول دَ رحمتونو بار بار کیږي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

منونکے زۀ دَ دین دَ محمد عربی ﷺ یم

په دین باندې مئین دَ محمد عربی ﷺ یم

په دین باندې مئین یم دَ حضرت خیر الابرار ﷺ

په دین باندې مئین یم دَ دُنیا دَ حسندار ﷺ

په دین سره حسین دَ محمد عربی ﷺ یم

منونکے زۀ دَ دین دَ محمد عربی ﷺ یم

عشاق په هر محفل کښې وهي چغې په دُنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

امت ووهي دا چغي په دُنیا کښي په هر خوا
قربان زهٔ په یقین دَ محمد عربي ﷺ یم
منونکے زهٔ دَ دین دَ محمد عربي ﷺ یم
ولیان دَ زماني کوي هم دغه شان اقرار
هر ګل دَ زماني دغه بیان کوي بار بار
تابع زهٔ دَ امین دَ محمد عربي ﷺ یم
منونکے زهٔ دَ دین دَ محمد عربي ﷺ یم
په چغه چغه وائي اے احمده! ټول جهان
په چغه چغه ټول کوي دُنیا کښي دا بیان
مدّاح زهٔ دَ یسین دَ محمد عربي ﷺ یم
منونکے زهٔ دَ دین دَ محمد عربي ﷺ یم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

افسرانو کښي افسر دے محمد خیر البشر ﷺ
رهبرانو له رهبر دے محمد خیر البشر ﷺ
دَ نبیانو چي سردار دے، بل حسینه حسندار
دَ هر چا دَ زړهٔ قرار دے، حق دے حق دَ حق ګفتار
نمر دے نمر دے هم قمر دے محمد خیرالبشر ﷺ
رهبرانو له رهبر دے محمد خیر البشر ﷺ
په قرآن کښي ئې تعریف دے، ټول جهان کښي ئې تعریف
په آسمان کښي ئې تعریف دے، لامکان کښي ئې تعریف

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ بهترو نه بهتر دے محمد خير البشر ﷺ
رهبرانو له رهبر دے محمد خير البشر ﷺ

حق دے حق ئې هريان ، حق دے حق ددې جهان
داسې وائی مسلمان ، داسے وائی عالمان

مشك عنبر دے هم نظر دے محمد خير البشر ﷺ
رهبرانو له رهبر دے محمد خير البشر ﷺ

دَ مولیٰ هغه محبوب دے ، دَ هرچا هغه محبوب
په دُنيا هغه محبوب دے، په هرخوا هغه محبوب

دلبرانو له دلبر دے محمد خير البشر ﷺ
رهبرانو له رهبر دے محمد خير البشر ﷺ

هريو څيز ترينه قربان دے ، دلته پټ دے کۀ عيان
دَ احمد دغه بيان دے، ټول فدا ترينه مردان

دَ هرچا دَ زړګی سر دے محمد خير البشر ﷺ
رهبرانو له رهبر دے محمد خير البشر ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په لاره زۀ روان دَ محمد عربی ﷺ يم
د دين زۀ قدردان دَ محمد عربی ﷺ يم

په دين کښې ئې پرتې دی رڼاګانې دَ هردر
په دين کښې ئې پرتې دی رڼاګانې دَ بشر
تابع دَ نُور عرفان دَ محمد عربی ﷺ يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــه لاره زۀ روان دَ مـــحـــمـــد عـــربـــی ﷺ

پـــه دیـــن کښـــې ئـــي فـــلاح د دوجهـــان دَ پـــاره ده
پـــه دیـــن کښـــې ئـــي فـــلاح دَ هـــرانســـان دَ پـــاره ده
تـــابـــع زۀ دَ قـــران دَ مـــحـــمـــد عـــربـــی ﷺ
پـــه لاره زۀ روان دَ مـــحـــمـــد عـــربـــی ﷺ

رنـــا دَ هـــر صـــحـــرا او بیـــابـــان دَ پـــاره ده
رنـــا دَ دي جهـــان بـــره آســـمـــان دَ پـــاره ده
قـــربـــان شـــمـــه قـــربـــان دَ مـحـمـد عـربـی ﷺ
پـــه لاره زۀ روان دَ مـــحـــمـــد عـــربـــی ﷺ

هـرخـومـره پـه عـمـل کـه یم کـمزورے دَ جهـان
احـمـد عـلـی پـه جـار کـوي دلـتـه دا بیـان
مـلـگـرے پـه جهـان دَ مـحـمـد عـربـی ﷺ
پـــه لاره زۀ روان دَ مـــحـــمـــد عـــربـــی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ نبـی ﷺ پـه مـحـبـت، رَبـه ! شـکـر هـر ساعـت
دَ نبـی ﷺ پـه نُور سـنـت، رَبـه ! شـکـر هـر ساعـت

شـکـر شـکـر سـتـا دَ ذات، دَ دُنیـا پـه دي حـالات
دَ نبـی ﷺ پـه هـر صـفـت، رَبـه ! شـکـر هـر ساعـت

شـکـر شـکـر خدایـه سـتـا، پـه دُنیـا کښـې پـه هـرخوا
دَ دُنیـا پـه هـر نـعـمـت، رَبـه ! شـکـر هـر ساعـت

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه شکر ستا تمام، دَ دُنیا په هر کلام
دَ ایمان په لوئي دولت، ربّه! شکر هرساعت
شکر شکر ستا په دین، رهنما دې بهترین
شکر ستا په شریعت، ربّه! شکر هرساعت
شکر ستا وائي احمد، شکر شکر دَ صمد
شکر ستا په هدایت، ربّه! شکر هرساعت

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مرحبا خیر الابراره ﷺ مرحبا
مرحبا اے تاجداره ﷺ مرحبا
زارلتانه زارلتانه دا جهان
زارلتانه زارلتانه هر بیان
مقتدا دَ هرچا دَ پاره مرحبا
مرحبا اے تاجداره ﷺ مرحبا
زارلتانه زارلتانه بره نمر
زارلتانه زارلتانه هر سحر
غوره غوره اے دلداره! ﷺ مرحبا
مرحبا اے تاجداره ﷺ مرحبا
زارلتانه زارلتانه زۀ شمه
بې لتانه دلته به زۀ خۀ شمه
اے غمخواره! ﷺ اے غمخواره! ﷺ مرحبا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرحبا اے تاجداره ﷺ مرحبا
زار لټانه زار لټانه زۀ احمد علی شمه
ستا په لاره ستا په لاره ستا دلته حقیقی شمه
مونږ دَ پاره ستا ده لاره مرحبا
مرحبا اے تاجداره ﷺ مرحبا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر در دے عالیشانه محترم دَ مدینې
مقام دے کائنات کښې مسلم دَ مدینې
نسبت ورسره دے دَ مُرسلانو دَ سردار
نسبت ورسره دے دَ یتیمانو دَ غمخوار
لیکلے دا مقام دے هر قلم دَ مدینې
هر در دے عالیشانه محترم دَ مدینې
نسبت ورسره دے په هر مقام دَ امامانو
نسبت ورسره دے په هر مقام دَ صادقانو
قسم دے عزت مند دے ټول حرم دَ مدینې
هر در دے عالیشانه محترم دَ مدینې
یاران دَ مصطفیٰ ﷺ ددغې دردی ساکنان
یاران دَ مصطفیٰ ﷺ دی ټول ګلونه دَ جهان
مقام دے دَ هر ځائے نه مُقَدم دَ مدینې
هر در دے عالیشانه محترم دَ مدینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

آګـــاه ددي خبــري نـــه دے دغـــه تـول عــرب
مـقـام اُوچـت ورکـړے پـه دُنیـا کښـي زمونـړ ربَ
آګـــاه دَ مــرتبـي نـــه دے عــالــم دَ مـدیـنــي
هـــردر دے عــالیشــانــه مـحتــرم دَ مـدیـنــي
هـردر دے عـالیشـانـه مـدینـه کښـي پـه نظـر
احــمــدعــلــی خبـره دلتـه تـا کـړه مـختـصـر
قسـم دے دا بیــان دے تـول مُـحـکـم دَ مدینـي
هـــردر دے عــالیشــانــه مـحتــرم دَ مـدیـنــي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څـوك چـي مـدحـــه دَ نبـی خیـر الانـام ﷺ کـړي
ځـــان لائــق بـــه دَ عـــزت اوا حتـــرام کـــړي
شتـــه پـــه مـدحـه کښـي دَ پـاك نبــی ﷺ ثـواب
کـه څـوك يـاد رسـول اللّٰـه ﷺ سـحـر ماښام کـړي
مـــدحـــه کـــړے دَ رســول ﷺ تـولـوا صـحـابـوؓ
دغـــه مـدحـــه پـه تـاريخ کښـي هـر امـا م کـړي
اولیــــاء او صـــالـــحـــانـــو مــدحـــه کـــړے
هـــر عـــاشـق کـــار پــــه دُنیـــا دغـــه مـدام کـړي
دغــــه مــدحـــــه تـول عـــرب او عـــجـم کـــړے
هرښیار کس دے چي څـوك خپـور دغه پیغام کړي
د دُنیـــا دَ انســــانـــــو ځـــان خبـــر کـــړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل خو خپل دی هم پردي دغه تمام کړي
وظیفه به د جهان کړي تل درود
کۀ خبر ځان د احمد ددي کلام کړي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سنت هریو انسان له د نقصان نه بچ کوي
دُنیا کښي مسلمان له د تاوان نه بچ کوي
سنت بلـه ډیوه ده د انسان د پاره دلته
سنت بلـه ډیوه ده ټول جهان د پاره دلته
سنت هریو انسان له د شیطان نه بچ کوي
سنت هریو انسان له د نقصان نه بچ کوي
سنت ښۀ طریقه ده د حضرت رسول الله ﷺ
د نور یوه چینه ده د حضرت رسول الله ﷺ
سنت هریو بشر له د خزان نه بچ کوي
سنت هریو انسان له د نقصان نه بچ کوي
سنت کښي ښۀ افعال د محمد رسول الله ﷺ دي
سنت کښي ټول اقوال د محمد رسول الله ﷺ دي
سنت د هرنادان او بي ایمان نه بچ کوي
سنت هریو انسان له د نقصان نه بچ کوي
سنت ده لاره نیغه په دُنیا کښي د جنت
احمد علی بیان کړه مسلمان ته حقیقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ اور نـه بـچ کـوي دَ بيـابـان نـه بـچ کـوي
سـنـت هـريـو انسـان لـه دَ نـقـصـان نـه بـچ کـوي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قـرآن او دَ نبـي ﷺ پـه سـنـتـونو کـښـې فـلاح ده
دُنيـا کـښـې هميشـه پـه ښـۀ کـارونو کـښـې فـلاح ده
فـلاح پسـې کـۀ ګـرځـې دَ جهـان نـو راشـه راشـه
د ديـن پـه دغـې لـويـو کـتـابـونـو کـښـې فـلاح ده
فـلاح پسـې کـۀ ګـرځـې لاړ چـې نشـې بل طرف تـه
دَ پـاك رسـول اللّٰـه ﷺ پـه قـدمـونـو کـښـې فـلاح ده
فـلاح پسـې کـۀ ګـرځـې پـه دُنيـا کـښـې دربـه در
دَ پـاك نبـي ﷺ پـه مـدحـه صفـتـونـو کـښـې فـلاح ده
فـلاح پسـې کـۀ ګـرځـې دا ده دلتـه ښـۀ آسـانـه
احـمـدعـلـي دَ ښـۀ خـلـقـو پـه خـويـونـو کـښـې فـلاح ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رَبّـه! پـاك لـه هـر عـنـاد کـړې زمـا روح
پـه سـنـت سـره آبـاد کـړې زمـا روح
دَ سـنـت پـه رنګ چـې ښـکـلـې وي رنګ شـوې
بـچ لـه هـر قسـمـه فسـاد کـړې زمـا روح
دَ اسـلام رڼـا سـره ښـائسـتـۀ ښـائسـتـۀ وي
ښـۀ مـضـبـوط لـکـه فـولاد کـړې زمـا روح

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ اسلام په خوشبوئي ئي خوشبودار کړے
بچ له هر قسمه فرياد کړے زما روح
اطاعت په کښي دَ پاك نبي ﷺ پيدا کړے
پاك له کفره له الحاد کړے زما روح
دا دُعاده دَ احمد علي هر ځائے کښي
دَ نيکي دَ کار بُنياد کړے زما روح

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

شۀ خبر دَ محمد ﷺ زۀ ثنا خوان يم
مُتبع زۀ دَ سنت او دَ قرآن يم
دَ اسلام په زور طاقت سره هر ځائے کښي
دَ رستم په شان دُنيا کښي پهلوان يم
په اعمالو زۀ د دين سره ښائسته يم
شکر شکر دے په دي چي مسلمان يم
دَ اعمالو ماسره دي دفترونه
دَ نيکو په لاره دلته کښي روان يم
په اخلاقو دَ نبي ﷺ سره ښائسته يم
زۀ په لاره دَ نبي اٰخر زمان ﷺ يم
اوُده نۀ يمه زۀ ويښ يم په جهان
په هر ځائے کښي زۀ دښمن دَ هر شيطان يم
دا چي څه يم دلته کښي وائي احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پـــه فـضـل وكــرم دلتـــه دَ رحـمـــان يـم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څــوك چــي د دوجهــان جــانــان ﷺ خفــه كـړي
خــوږ بـــه نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ خـفـــه كـــړي

څــوك چـــي كـــارونـــه دَ بـدعـــت كــوي تــل
څــوك چـــي كـــارونـــه دَ لــعـنــت كـوي تـل

ځـــان نـــه حسيـن بـــه دَجهـــان خـفـــه كـــړي
خــوږ بـــه نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ خـفـــه كـــړي

څــوك چــي قـــران نـــه لـــرے لـــرے تبـتـــی
چــي مسـلـمــان نـــه لـــرے لـــرے تبـتـــی

د دي دُنيـــا بـــه مهـــربـــان خـفـــه كـــړي
خــوږ بـــه نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ خـفـــه كـــړي

څــوك چــي سـنتـــو تـــه كـړي شـا پـــه جهـان
څــوك چــي كـــارونـــه پـــه دُنيـــا كـوي وران

دَ سـلـطـانــانـو بــه سـلـطـان ﷺ خفــه كـــړي
خــوږ بـــه نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ خـفـــه كـــړي

څــوك چـــي ســاتـــنـــه دَ خپـل ديـن نـــهٔ كـوي
څــوك چـــي ســاتـــنـــه دَ حـق امـيـن نـــهٔ كـوي

هــغـــه بـــه گــل دَ گـلـستـــان خـفـــه كـــړي
خــوږ بـــه نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ خـفـــه كـــړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوك چې حسد سره بدن كړي ګنده
څوك چې حسد سره وطن كړي ګنده
هغه محبوب به دَ رحمان خفه كړي
خوږ به نبي اخرزمان ﷺ خفه كړي
څوك چې مئين شي د الحاد په جامه
څوك چې مئين شي دَ فساد په جامه
ځان نه رهبر به عاليشان خفه كړي
خوږ به نبي اخرزمان ﷺ خفه كړي
څوك چې ياران دَ پاك نبي ﷺ نۀ مني
څوك چې ياران دَ مدني ﷺ نۀ مني
احمده! ذات به دَ سبحان خفه كړي
خوږ به نبي اخرزمان ﷺ خفه كړي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اخيري وخت دے چې قرآن بوج شو
دغه سنت په مسلمان بوج شو
دَ خير نه تښتي مسلمان په جهان
خير په دُنيا كښې په انسان بوج شو
خير كښې لذت ددې جهان نۀ مومي
داسې دا خير په هر مكان بوج شو
خير سره مينه دَ جهان نۀ كوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيـــر چـي پـــه مـونـــږه دَ رحـمـــان بـوج شـو
دَخيـــر نـــه تـنـگ پـــه دي جهـــان كښـــي اُوســـى
پـــه چـــا چـــي خيـــر دَ پـــاس آسـمـــان بـوج شـو
دَ خيـــر پـــه ذكـــر چـي خـوشـحـالـــه نـــهٔ شـى
پـــه چـــا چـــي خيـــر دَ پـــاك سبـحـان بـوج شـو
ورتـــه دَ زړهٔ ميـنـــه بـــه څــوك نـــهٔ وائـــى
پـــه چـــا دُنيـــا كښـــي چـــي جـانـان بـوج شـو
خيـــر خـــو جـــانـــان دے هـــر انســـان دَ پـــاره
پـــه تـــا دا ذكـــر عـــاليشـــان بـوج شـو
احـــمـــده ! تـــا خـــو حـــق ويـنـــا كـــړي ده
ځـكـــه بيـــان دے پـــه شيـطـــان بـوج شـو

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

بـــي لـــه سـنـتـــه بـكـلـے كيـــږمـــه نـــه
زهٔ لـــه قـــرآن نـــه جُـدا كيـــږمـــه نـــه
دغـــه قـــرآن دغـــه بـــرهـــان دَ رب
بـــي لـــه دي ديـنـــه زهٔ بـــچ كيـــږمـــه نـــه
زهٔ دَ رحـــمـــان هـــره خبـــره مـنـم
زهٔ پـــه شيـطـــان پســـے ځـيـــږمـــه نـــه
زهٔ پـــه خپـل ديـن بـانـدي مـئـين يـمـــه ډيـر
بـــي لـــه دي ديـنـــه زهٔ يـــاديـــږمـــه نـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل وسیله زهٔ دَ قرآن لرمه

عبث دُنیا کښې زهٔ اُوسیږمه نه

یو وسیله زهٔ دَ سنت لرمه

زهٔ دَ بدعت سره اُودریږمه نه

په هر عمل کښې دَ نبی ﷺ منمه

دَ هر ابلیس شیطان خوښیږمه نه

د دین په سخته باندې زهٔ مئین یم

راشه په دې زهٔ خفه کیږمه نه

علاج په دې دَ زړهٔ کوومه دلته

بې محمده ! ﷺ زهٔ جوړیږمه نه

بې محمده ! ﷺ زهٔ احمد به څهٔ کړم؟

ټولي دُنیا باندې رغیږمه نه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خوښ مې دی سنت دَ هر بدعت سره مې نهٔ لګی

خوښ مې شریعت دے شرارت سره مې نهٔ لګی

خو ښ مې ښهٔ عادات دی ، خرافاتو نه نفرت کوُم

خوښ مې حسنات دی ورسره زهٔ محبت کوُم

خوښ مې محبت دے دَ نفرت سره مې نهٔ لګی

خوښ مې دی سنت دَ هر بدعت سره مې نهٔ لګی

خوښ مې هریو نُور دے دَ ظلمت نه لرے لرے یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورم قسم شيطان نه شيطانت نه لرے لرے يم
خوښ مي هدايت دے، ضلالت سره مي نۀ لګي
خوښ مي دى سنت دَ هر بدعت سره مي نۀ لګي
خوښ مي هر بشر دے چې تابع دَ محمد ﷺ وى څوک
خوښ مي هر افسر دے چې تابع دَ محمد ﷺ وى څوک
پاك سره كرم مينه، نجاست سره مي نۀ لګي
خوښ مي دى سنت دَ هر بدعت سره مي نۀ لګي
خوښ مي هر فرمان دے دَ رسول ﷺ، وائى احمدعلى
خوښ مي هر مكان دے دَ رسول ﷺ، وائى احمدعلى
دغه در مي خوښ دے بل صفت سره مي نۀ لګي
خوښ مي دى سنت دَ هر بدعت سره مي نۀ لګي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

دَ بدعت نه مي توبه، دَ ظلمت نه مي توبه
ربَه! راكړے نُور سنت، ضلالت نه مي توبه
ربَه! راكړے سعادت، په هر ځائے كښې هرساعت
ربَه! راكړے محبت، په هر ځائے كښې هر ساعت
دَ نفرت نه مي توبه، دَ لعنت نه مي توبه
ربَه! راكړے نُور سنت، ضلالت نه مي توبه
ربَه! راكړے نُور رڼا، په دُنيا كښې په هرخوا
ربَه! راكړے حق وينا، دا زما ده التجا

(c) ketabton.com: The Digital Library

عداوت نه مي تويه، هر غفلت نه مي تويه
ربه! راكړې نُور سنت، ضلالت نه مي تويه
راكړئ راكړئ ښكلي دين، چي هرڅوك وي پرې مئين
هم ايمان وي هم يقين، ښۀ بهتر وي بهترين
دَ ذلت نه مي تويه، شيطانت نه مي تويه
ربه! راكړې نُور سنت، ضلالت نه مي تويه
ربه! راكړئ نيغه لار، دَ نبيانو دَ سردارﷺ
د احمد دې دا گفتار، وائي هر ځائې كښي په جار
شرارت نه مي تويه، بغاوت نه مي تويه
ربه! راكړې نُور سنت، ضلالت نه مي تويه

نعتِ مصطفیٰﷺ

زما تل دې په نبيﷺ وي سلامونه
چي وريږي په مزارئي رحمتونه
چي خوله كښي خوشبوئي دَ دوجهان ده
خوشبودار دي په دوي سره تول گلونه
لوئي عظمت ئي دَ مكي دَ ښكلي ښار دې
جمع كړي مديني ئي بركتونه
تول ياران ئي بره ستوري دَ آسمان دي
ښائسته كړي د دُنيا ئي چمنونه
دَ جنت يوه تكړه ځكه ياديږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاك نبي ﷺ دلته دي ایښي قدمونه
په اخلاقو دَ جهان هغه ممتاز دے
بیانونه دَ دُنیا ئي دي لعلونه
هر صفت ئي په دُنیا الکه دَ ګل دے
تا احمد ترینه جوړ کړي امیلونه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې څوك تل وائي درود سره سلام
په دُنیا کښي به نصیب ئي شي آرام
دَ دُنیا دَ هر دولت نه لوئي دولت دے
دَ دُنیا دَ هر نعمت نه لوئي نعمت دے
لوئي دولت دے لوئي نعمت دلته تمام
چې څوك تل وائي درود سره سلام
ښهٔ خبر ترینه مؤمن دے مسلمان
چې دا حُسن په دُنیا دے دَ انسان
بهترین دے ذکر دلته دا مُدام
چې څوك تل وائي درود سره سلام
ورته وائي دَ دُنیا دَ دررنړا
ورته وائي دَ هر خوا دَ دررنړا
داسے وائي په دُنیا کښي خاص عام
چې څوك تل وائي درود سره سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اذکار کښې عالی ذکر دے یاد
په دُنیا کښې تل علاج دے دَ فساد
وکړۀ وکړۀ دغه ذکر گام په گام
چې څوك تل وائی درود سره سلام
ربَ سکون په دې کښې ایښے په جهان
دَ احمد علی واضحه دے بیان
دَ محشر په ورځ اُوچت لری مقام
چې څوك تل وائی درود سره سلام

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دا نورانی ښۀ طریقه دَ چا ده؟
ښۀ بهترینه نمونه دَ چا ده؟
ښۀ هر کردار په دې جهان دَ چا دے؟
دغه اُسوه ښۀ حسنه دَ چا ده؟
دغه انوار په ټول جهان دَ چا دی؟
دا دَ انوارو چینه دَ چا ده؟
دا دَ خوشبو هر ځائے اثر دَ چا دے؟
دا خوشبوداره سلسله دَ چا ده؟
دغه چمن دَ مدینې دَ چا دے ؟
په کښې ښائسته ښکلے روضه دَ چا ده؟
ښۀ ترے خبر ئې اے احمده ! څوك دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته تا کړې تذکره دَ چا ده؟

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ژوندون له دَ انسان د دغه دین نشه کافي ده
هر چا له دَ جهان د دغه دین نشه کافي ده
کافي دغه سرور دے هر بشر له دَ دین
هر چا له دَ ایمان د دغه دین نشه کافي ده
هر روح له دَ جهان په کښې سکون دے دَ انسان
هر چا له دَ قرآن د دغه دین نشه کافي ده
هر څوك په دي خوشحاله دَ جهان دے په هر در
هر چا له په هر آن د دغه دین نشه کافي ده
احمدعلي شائسته د دغه دین نشه نشه ده
هر چا له دَ بیان د دغه دین نشه کافي ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مال زما، دُنیا زما، هر ځائے په هر خوا زما
هغه دلته دا زما ستا نه شۀ فدا زما
کور زما وطن زما، دغه تن، چمن زما
اے خیر الوریٰ ﷺ زما اے نور الهدیٰ زما
هغه دلته دا زما ستا نه شۀ فدا زما
دغه مور او پلار زما، دغه رشته دار زما
دغه ده صدا زما، حقه ده وینا زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دلته دا زما ستا نه شۀ فدا زما
دغه هر سحر زما دغه ما زيګر زما
اے بدرالدجیٰ ﷺ زما ، اے شمس الضحیٰ ﷺ زما
هغه دلته دا زما ستا نه شۀ فدا زما
زۀ احمد خو ستا يمه ، ستا نه تل فدا يمه
ده پاکه وينا زما ،ده وينا صفا زما
هغه دلته دا زما ستا نه شۀ فدا زما

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محبوب دُنيا کښي دَ احد دے
څوك دے دا څوك دے محمد ﷺ دے
ذکر ئي رب پسے راغلے
لکه دَ ګل په شان دے ښکلے
دا محمد ﷺ دے دا احمد ﷺ دے
څوك دے دا څوك دے محمد ﷺ دے
سيرت کامل ئي دَ جهان دے
نُور ئي دُنيا کښي عاليشان دے
مددګار هر څائے ئي صمد دے
څوك دے دا څوك دے محمد ﷺ دے
يٰسين طٰه سره ياديږي
په مصطفیٰ ﷺ سره ياديږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ ربَ ورسره تل مدد دے
څوك دے دا څوك دے محمد ﷺ دے
صادقه ياد په تول عرب دے
عالی دنيا كښي په نسب دے
پاك له هرعيبه له حسد دے
څوك دے دا څوك دے محمد ﷺ دے
تذكره كړے ئي احمد ده
دا تذكره دَ محمد ﷺ ده
تل دَ تعريف ئي دلته حد دے
څوك دے دا څوك دے محمد ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ورته رښا ورته حيا ورته وفا وائی
ورته محبوب په دي دُنيا كښي دَ مولیٰ وائی
ورته مهتاب ورته آفتاب ورته ګلاب وائی
ورته حسين دَ كائنات دَ هريو باب وائی
ورته دانا ورته رښتيا، حق وينا وائی
ورته محبوب په دي دُنيا كښي دَ مولیٰ وائی
ورته افسر ورته دلبر دَ هريو دروائی
مشك عنبر ورته نظر د هر بشر وائی
ورته طٰه او مصطفیٰ خيرالوریٰ ﷺ وائی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته محبوب په دي دُنيا کښې دَ مولیٰ وائی

ورته رحمت ورته عزت ورته همت وائی

ورته نعمت ورته برکت تل هرساعت وائی

ورته پیشوا یو رهنما نورالهدیٰ ﷺ وائی

ورته محبوب په دي دُنيا کښې دَ مولیٰ وائی

ورته حیات ، ورته نجات دَ هر انسان وائی

ورته حیات ، ورته نجات دَ ټول جهان وائی

ورته دوا ورته اشنا ورته صبا وائی

ورته محبوب په دي دُنيا کښې دَ مولیٰ وائی

ورته محبوب ورته مطلوب دَ هر عالم وائی

ورته مکتوب احمده ! هر ځائے محترم وائی

ورته دُعا ورته ښُکلا دَ انبیاء وائی

ورته محبوب په دي دُنيا کښې دَ مولیٰ وائی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مینه کوه دَ مصطفیٰ ﷺ دَ غلامانو سره

د محمد رسول اللّه ﷺ دَ امتیانو سره

دغه ده مینه چي انسان ورسره ښکلے ښکاري

دغه ده مینه مسلمان ورسره ښکلے ښکاري

مینه لازم ده دَ محبوب دَ عاشقانو سره

د محمد رسول اللّه ﷺ دَ امتیانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لوئي دولت دے چې د چا خلقه! نصيب شي دلته
دا لوئي نعمت دے چې دَ چا خلقه! نصيب شي دلته
مينه کوه دَ پاك رسول الله ﷺ ياراانو سره
د محمد رسول الله ﷺ دَ امتيانو سره
کار دَ ثواب په دې جهان کښې داسے بل به نۀ وي
کار لاجواب په دې جهان کښې داسے بل به نۀ وي
مينه هميش کوه دُنيا کښې دَ نيکانو سره
د محمد رسول الله ﷺ دَ امتيانو سره
دا په نصيب باندې انسان ته ملاويږي دلته
دا په نصيب هر مسلمان ته ملاويږي دلته
مينه کوه دَ تقوىٰ دارو عالمانو سره
د محمد رسول الله ﷺ دَ امتيانو سره
مينه عطا ده دَ مولىٰ چې چاله ورکړي ربَ
وفا وفا ده دَ مولىٰ چې چاله ورکړي ربَ
احمده! مينه کړۀ دُنيا کښې صادقانو سره
د محمد رسول الله ﷺ دَ امتيانو سره

پاتې دُنيا

پاتې ده پاتې له هر چانه دا نيمګړې دُنيا
پاتې ده پاتې مصطفىٰ ﷺ نه دا نيمګړې دُنيا
پاتې شوه پاتې دا دُنيا دَ مُرسلانو نه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــاتــې شــوه پــاتــې دا دُنیــا متــقیــانو نــه هم

پــاتــي ده پــاتــي اولیــاء نــه دا نیــمګــړې دُنیــا

پــاتــي ده پــاتــي لــه هــر چــانــه دا نیــمګــړې دُنیــا

تــول اصــحــابؓ تــریــنــه دي تــلــی آخــرت طــرف تــه

دَ دوی احبــاب تــریــنــه دي تــلــی آخــرت طــرف تــه

پــاتــي ده پــاتــي لــه پــارسا نــه دا نیــمګــړې دُنیــا

پــاتــي ده پــاتــي لــه هــر چــانــه دا نیــمګــړې دُنیــا

شــاهــان تــرې لاړل خــالــی لاس د دې جهــان دغــه تــول

امیــران لاړل خــالــی لاس تــرې عــالیشان دغــه تــول

پــاتــي ده پــاتــي هــر دانــه نــه دا نیــګــړې دُنیــا

پــاتــي ده پــاتــي لــه هــر چــانــه دا نیــمګــړې دُنیــا

امــامــان دلتــه هــمیشــه خــو پــاتــې شــوی نــهٔ دی

عــالــمــان دلتــه همیشــه خــو پــاتــې شــوی نــهٔ دی

پــاتــې دَ ځــوان نــه ده بُــدهــا نــه دا نیــمګــړې دُنیــا

پــاتــي ده پــاتــي لــه هــر چــانــه دا نیــمګــړې دُنیــا

دا هــر انســان نــه پــاتــي شــوې ځــان خبــر کــړه تــرینــه

دا دَ هــرخــان نــه پــاتــي شــوې ځــان خبــر کــړه تــرینــه

احــمــده پــاتــې ده لتــانــه دا نیــمګــړې دُنیــا

پــاتــي ده پــاتــي لــه هــر چــانــه دا نیــمګــړې دُنیــا

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

دُعا (دَ حقيقي مينې سوال)

ماسره چې ستا مينه وي تاسره زما مينه
ربّه! راله راكړئ په دُنيا كښې دلته دا مينه
تاسره وفا كومه ستا په لار روان يمه
ربّه! درنه غواړمه دُنيا كښې دَ عقبىٰ مينه
ستا دَ شريعت دَهريو كار پوره پابند وِمه زهٔ
دين سره زما وي په دُنيا دَ مصطفىٰ ﷺ مينه
شرك او دَ بدعت نه لرې لرې په جهان كښې وې
ربّه ستا توحيد سره مې دلته وِي پيدا مينه
كار دَ شياطينو نه نفرت كولے ما پوره
ربّه تاسره مې حقيقي وي په رښتيا مينه
خُله كښې مې خوږې خبرې هرځائے په جهان كښې وي
تول دَ احمد وِي مجسّمه دا وينا مينه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

چاته چې نهٔ ښكارى دَ نبى ﷺ رڼا
هغه دى محروم دَ ابدى رڼا
ډير شته چې سنت ته نظر نهٔ كوى
نهٔ خوښوِى دغه بدعتى رڼا
دا چې په دې زمكه ښائسته نور وينې
دا ده په دُنيا دَ هاشمى ﷺ رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــا چــي دَ رســول میـنــه پــه زړهٔ کښــي کــړه
دا ده پـــــه دُنیــــا کښـــي حـــقیـــقـــي رڼــا
تـــا چـــي دَ ســنـــت لاره اختیـــار کـــړلــــه
دا ده قـــدر مــــنـــده دَ مــــکــــی رڼـــــا
تـــا چـــي شـــریـــعــــت دَ نبـــی ﷺ ومـــنـــهٔ
دا ده ښـــهٔ ښـــائسـتـــهٔ دَ عــربـــی ﷺ رڼـــا
تـــا چـــي احـــکـــامــات ددیــن مـنـلــی دی
دا ده حـــقیـــقـــی دَ مـــدنـــی رڼـــا
تـــا چـــي هـــر ولـــی دَ دیــن مـنـلـــے دے
دا ده دَ نبـــی دَ صـــحـــابـــی رضـ رڼـــا
هـــریـــو صـــحـــابـــیؓ ددیــن یــو ستــورے دے
دا چـــي ښـــکـــاری دلتـــه مـذهبـــی رڼــا
هــر ځـــائـــے شتـــه دَ پـــاك رسـول ﷺ دَ یـــار رڼـــا
دغــــه دَ عـــمـــرؓ عثـــمـــانؓ عـلـــیؓ رڼـــا
مـــا احـــمـــد قـــرآن ســـنـــت مـنـلـــے دے
دا ده حـــقیـــقـــی دَ افـتـــی رڼــــا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے صورت دَ مصطفیٰ ﷺ دَ څوارلسمي سپوږمی
رڼـا رڼـا رڼـا ده پـه هر خوا دَ څـوارسمي سپـوږمـی
نشتـه دے نشتـه پـه کښـي عیـب دا ده بي عیبه تـوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليدلي دلته ده چي چا دَ څوارلسمي سپوږمی
هريو ساعت ئي په وجود باندي خندا پرته ده
داسي ده دلته کښي پيدا دَ څلوارلسمي سپوږمي
په خپل سيرت اوپه صورت باندي ښائسته شۀ تول
داسي ده هرچا ته ګويا دَ څوارلسمي سپوږمي
په کښي تعليم دَ نفع پروت دے هر بشر دَ پاره
دا دے اثر په دې دُنيا دَ څوارلسمي سپوږمی
په کښي فائده دَ هر ماشوم بوډا او ځوان دَ پاره
دا ده احمده ! ستا وينا دَ څوارلسمي سپوږمی

دَمصطفىٰ ﷺ لاره

ښۀ ده چي مونږه يو روان دَ مصطفىٰ ﷺ په لاره
مونږه بو نۀ ځے لويه خدايه دَ بل چا په لاره
دَ ظالمانو شيطانانو نه مونږ لرے ساتے
خدايه ! ملګري ساتے مونږ دَ اولياء په لاره
دَ بدکردارو بداخلاقو ملګرتيا چي نۀ وي
زمونږ نصيب کړے دَ نيکانو ملګرتيا په لاره
دَ شرابيانو او سودخورو نه چي لرے يمه
ربّه ! دُنيا کښي راله راکړه دا تقوىٰ په لاره
دَ بدعتيانو مشرکانو ملګرتيا ښه نۀ ده
لرے کړه دُوى نه ماهم دلته دَ دُنيا په لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ غـلاګــرانــو زنــاکــارو مـلـګــرتیـا نـبـۀ نــۀ ده
خـدایــه ! مـابــوځــے پــه دُنیـا کښـې دَ حیـا پــه لاره
دَ مـونـځ ګـزارو پــه تــولـی کښـې ماشامل کړے ربّـه !
وائــی احــمــد رالــه تــۀ راکــړے تـل ربښتیـا پــه لاره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خـــــوږ دے ډیـــــــر حسیـــــــن آواز
هـــــر ځـــــائـــــے کښــــې ددیـــــن آواز
دا زمــــــونـــــــږ دَربّ فــــــرمــــــان
دا احـــــمـــــد امیــــــن ﷺ آواز
خــــوږ دے دَ دُنیــــــا الـــــــه ســـــاز
ښــــکــــلـــــے پــــــه اخــــر آغـــــاز
خـــورم قســــم دُنیــــا کښــــې ډیــــر
دا دے بهتــــــــریـــــــن آواز
زړۀ لــــــه اطـــــمــــنـــــان دے دا
داســـــې پــــــه جهــــــان دے دا
ډك لـــــه میـــــنــــې نــــــه دے دا
نشتــــــــه بــــــــل حسیـــــن آواز
دا دَ زړه عــــــــــــــــلاج دوا
داســــې وائـــــی عـــلـــمـــاء
دا دَ اوّلیــــــــــــــــــن آواز

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دَ آخرين آواز

دا پيغام دَ رب دے حق

دا اسلام دَ رب دے حق

داسي هر مؤمن وائي

دَ قران مبين آواز

خوش دَ هر بوډا او ځوان

خوش دَ هر يو مسلمان

وائي احمد وائي دا

دا دے دَ يسين آواز

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دغه صفات دَ مصطفیٰ ﷺ راته نن چا ووئيل

ما دَ قرآن نه تپوس وکړه وے وے ما ووئيل

ما کښي خو ساه دَ محمد ﷺ له مخه رب ايښي ده

په هر ګلزار کښي هريو ګل راته بيا دا ووئيل

دَ دُنيا ټول چي صفتونه کړي راجمع څوك

دغه دَ پاك نبي ﷺ صفت دے علماء ووئيل

دَ محبت لاره ښودلي مونږ ته پاك نبي ﷺ ده

ما ته خپلوانو او دوستانو دَ دُنيا وئيل

زمکه آسمان ئي دي له مخه پيدا شوي دلته

احمده! دلته تا ته هر چا په هرخوا ووئيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چا چې ښکلې سترګې دَ رسول الله ﷺ لیدلی دي
بیا ئې ورته سترګې دَ دُنیا خپلې نیولی دي
مینه مینه ټولې ښکلې سترګې دي دَ پاك نبی ﷺ
ما دَ علماء نه په دُنیا کښې اوریدلی دي
هغه به دُنیا کښې بل مقام پسې اُونهٔ ګرځي
چا چې مدینه کښې خپلې سترګې غړولی دي
لوئې مقام لري دا عقیده هریو مؤمن لري
دا خبرې ټولې نن اغیارو هم منلی دي
اے احمده ! هیڅ کله به نهٔ شي ترینه هیرې بیا
چا چې په دُنیا کښې ورته یو وارې کتلی دي

★★★★★★★★★★

تمت بحمد الله تعالیٰ وبتوفیقه . ربنا تقبل منا انك
انت السمیع العلیم وتب علینا انك انت التواب الرحیم
وصلی الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقه محمد واٰله واصحابه
اجمعین . اٰمین یارب العٰلمین یارب العٰلمین

1438 / 09 /20 مطابق 13 جون 2017

د مولانا احمدعلي مرداني نورچاپ شوي کتابونه

★	**معدن البيان في ترجمة القرآن** د قرآن کريم د بعضي سورتونو پښتو منظومه ترجمه	★
★	**قواعد النحو** د علم النحو ټول قواعد په پښتو نظم کښې	★
★	**ګلدسته د تجويد** د تجويد اهم او ضروري قواعد په پښتو نظم کښې	★
★	**ګلدسته د اُصول حديث ﷺ** د اُصولِ حديث تذکره په پښتو شعرونو کښې	★
★	**لُبُّ اللباب يعني خاصيات ابواب** خاصياتِ ابواب په پښتو شعرونو کښې	★
★	**د مونځ تعليم** د مونځ ټول مسائل په پښتو شعرونو کښې	★
★	**رڼا دَ سحر** (صدارتي ايوارډ يافته 2016ء) پښتو نعتونه	★
★	**دَ زړهٔ سکون** (صدارتي ايوارډ يافته 2017ء) پښتو نعتونه	★
★	**ښُکلا دَ چمن** (پښتو نعتونه)	★
★	**سیرت عشرہ مبشرہ رضی اللہ عنہم**	★
★	**سیرت ائمہ اربعہ رحمہم اللہ**	★
★	انمول موتی (ترتیب اعداد کے اعتبار سے ایک مختصر کاوش)	★

ناشر: اسلامي ادبي ټولنه يونيورستي روډ مردان

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library